# د مشروطیت غورځنګ

# په افغانستان کې

لیکوال:

پوهاند عبدالحی حبیبي

ژباړن:

عبدالقیوم حکیمزی

Ketabton.com

Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم :: د مشروطيت غورځنګ، په افغانستان کې

ليکوال :: پوهاند عبدالحی "حبيبي"

ژباړن :: عبدالقيوم حکيمزی

خپرندوی :: د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

د خپرونو لړ :: (۶۲)

د چاپ زيار :: ملوک رغون

کمپوز :: محمد هاشم اصفي

کمپوزخی :: افغان کمپوزنګ سنټر ـ جلال آباد

چاپ شمېر :: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپ نېټه :: ۱۳۸۳ل/۲۰۰۴م

چاپخی :: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه


*Tel/Fax:+92-91-2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com*

## د خپرندوی ټولنې يادښت

لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبيبي (رح) د لومړي ځل لپاره د مشروطه غوښتونکيو د مبارزو او کارنامو يو داسې له واقعيتونو ډک تاريخي کتاب "جنبش مشروطيت" وليکه چې د تاريخي اثارو په کتار کې يو ياد او نايابه اثر وګڼل شو. څرنګه چې دغه له ارزښته ډک اثر په دري ژبه ليکل شوی و او په پښتو يې راړول ضروري ګڼل کېده نو د هېواد وتلي ليکوال او ژباړونکي عبدالقيوم حکيمزي په پښتو وژباړه دا دی اوس د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا، د افغانستان د سياسي خپلواکۍ د بېرته ګټلو او د غازي امان الله خان د واکمنۍ د پنځه اتيايمې کاليزې په وياړ، د هغه نړيوال سيمينار په وياړ خپور شو چې " غازي امان الله خان د افغانستان د خپلواکۍ ستوری" په نوم جوړېږي. په دې هيله چې دغه اثر د ټولو پخو او تنکيو ليکوالو او تاريخليکونکو لپاره ډېر څه له ځانه سره ولري دا ناسې او دا همدغه تاريخي کتاب "په افغانستان کې د مشروطيت غورځنګ" په ټوله کلتوري مينه د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

l Library

## لومړۍ څپرکی

# په افغانستان کې دمشروطیت غورځنګ مخکینی لرلید

دنولسمی پیړی په پیل کې هغه وخت چې انګلسی استعمار په هند کې خپریده اوله خیتځ څخه دصنعتی انقلاب نبني او داروپا مدنیت ددرانیانو دامپراطوری ختیځو سرحداتو ته رارسیده افغانستان دامو او بخارا دشمال دځمکو او دلویدیځ دلوری دقاجاري فارس دهیواد سره داقتصادي اړیکو پراختیا موندلی وه او ددغو دری واړو هیوادو سره دسوداګروتګ راتګ او سوداګری دمالونو تبادله کیدله.

دافغانستان خلک چې په ښارونو او دربارونو کې دنیمه فیوډالی شرایطو سره مخامخ ؤو، په کلیوکې یې په هغه دهقانی او لاسی صنایعو او اقتصاد کې ژوند کاوه کوم چې دفیودالی څخه په مخکی دورو یې تکیه درلودله. او دکلیوسئیا سی اړیکي د دربارونو او دښا ری بازارونو سره ډیری لږی وی.

په داسی حالاتو کې نه قوی مرکزی دولتونو وجود درلوده اونه هم هغه مرکزی وحدت یا یووالی کوم چې دسدوز زایي احمدشاه دمړینی څخه وروسته رامنځته شوی وُو. ځکه شهزاده ګانو او دقدرت دلاس ته راوړلونوو مدعیانو یعنی دسردا ر پاینده خان ( بارکزاي ورونو) کورنی همیشه یو دبل سره لاس او ګریوان وؤ او



احمدشاهي متحدالمرکز هیواد دبی اتفا قی او تجزیي سره مخامخ وؤ.

پدی وخت کې دتزاری روسیی دقواو دپرمختګ نښی نښا نی هم دمروی او اموسو اصلوته راورسیدی. او ددغه دولت استازی دوتیکویچ په نامه په کابل کې دامیر دوست محمد خان در با ر ته راغی (١٨٣٧ ). په کلکته کې دانګلیسی استعما ر نایب السلطنه لاردا کلینډ دتزاری لښکرو داحتمال یر غل دمخنیوی لپاره په افغانستان باندی دیرغل او وړاندی تګ طرحه جوړه کړه. او په ١٨٣٩ م کال کې داندوس څلورپنځوس زره کسیز پوځ دجنرال لکن په قوماندانی او دخپل سیاسی نماینده مکناتن په لارښوونه دکویټې او سیند درود دغاړی او کوږک دلیاری دکندها ر خوا ته راوخوځاوه، د افغان او انګلیس لومړۍ جګړي د ( ١٨٣٩-١٨٤٢ م ) کلونو پوری دوام وکړ. د دې لپاره چې د افغانستان خلکو د توری په زور ټول یرغل کوونکی پوځ له مخه یوړ او پاتي کسانو یې افغانستان پریښود او هغه یې بیرته شړل شوي امیر دوست محمدخان ته وسپاره.

انګلیسي یرغل ګري قواوي چې د افغانستان د ملت د عمومي قیام پر مقابل کې د ښنو ولویدي او انګلیس سیاست مدارانو دغه اور چې په خپل لاس یې لګولي وو. د کلکتي څخه کابل ته یې د نوموړي امیر په بیرته رالیږلو سره مړ کړ ( ١٨٤٣م).

پدغو سختو شرایطو کې د فارس قاچاري دولت هم ارام کښیناست او قاچاري فوځیانو څو ځلي په هرات حملي وکړي، ولي زړورو هراتیانو د زیاتو تاوانونو او محاصرو د زغملو او د قوي مقاومتونو

l Library

څخه وروسته قاجاري قواوي يې په ناکامي سره د هرات څخه بېرته
پرشا کړي.

د پوهې، فکر او فرهنګ روزنه د خلکو د تمرکز خلاقه قوی او
امنيت ته اړتيا لري او دغه ټول موجودنه وو.

د افغانستان زيارکښ خلک د ختيځ او لويديز د يرغل ګرو پوځيانو
سره د جګړي او مقاومت پرته د کورنيو شهزادګانو په خانه جنګي هم
اخته وو. او د افغانستان سياسي او ټولنيز حالت هغه وخت مغلق
شوي وو چې د انګليسي استعمار نړۍ خوارو قواو د پنجاب سيګ
دولت له منځه يوړ او د سيند له درياب څخه تير شول او پېښور يې
ونيوه. (۱۸۴۹م).

امير شيرعلي خان د امير دوست محمدخان ځوی او هغه جانشين په
خپلو ورونو باندې د برياليتوب وروسته په کابل کې شاهي پر تخت
کښيناست ۱۸۶۳م. او خپل او د نورو ارزښت لرونکي وختونه يې د
خپلو ورونو سره په خانه جنګي کې تيرولي.

په لومړۍ ډګره کې چې پادشاه او ټول چارواکي يې له پلان څخه
وتښتيدل او د هېواد د ساتني پيټي يې يوازې د افغانستان د
بزګرانو او خلکو په اوږو واچاوه. لکه څنګه چې مو ولوستل خلک د
درندو ربړونو په زغملو سره د هېواد د ساتني له عهدی څخه بريالي
راووتل، تر څو چې د اوه ديرشو کالو وروسته بيا هغه ويجاړونکی
ښکيلاک (استعمار) د دهلي څخه په افغانستان لښکرکشي وکړه،
او هغه امير شيرعلي خان چې د روسي تزاروسفير، ستاليتوف سره
يې ژمنه کړي وه په ۱۸۷۸م کال کې يې د کابل څخه مزارشريف ته
وشاړه او د هېواد د ساتني پيټي بيا د خلکو په اوږو پريوت.



د دې لپاره چې د استعمار قواو پدې پيټي کې هم ماتي وخوړه او د
انګليس سفير کيوناری يې په بالاحصار کې وسوځاوه، د ناچاری
ورقی د انګليس سياسي نماينده ګريفن شهزاده عبدالرحمن خان چې
سمرقند ته شړل شوی و راوغوښته، او هيواد يې د انګليس تر
حمايت لاندې ده ته وسپاره. (۱۸۸۰م ۱۲۹۷ق).

د دغو دوو جګړو په تيلو سره هېواد د طبعي پرمختګ څخه وروسته
پاتي شو. اقتصاد. کرنه او دولتي د واير له منځه ولاړل اوپو پناه
شول، نوی فکري حرکت چې د سيدجمال الدين افغاني د نهضت او
د هېواد د نورو روڼ اندو سره يو ځای په ۱۸۶۳م کال کې پيل شو او
په ۱۸۷۲م کال کې د شمس النهار د جريدی په خپريدلو، د حربی
ښوونځی او مطبعي په جوړولو او د کتابونو د ژباړلو سبب شوی و[1].
په ۱۸۷۹-۱۸۸۰م) کال کې د افغان او انګليس د دوهمي جګړي
په پيل کيدو سره له منځه ولاړ.

ولی د دې جريدی د يوه کلکسيون د ليدلو وروسته چې اوس ملی
ارشيف ته رسيدلی دی، دا نتيجه تيک په نظر رانغله. ځکه د دې
کلکسيون په پنځمه ګڼه او لومړۍ ټوک کې د ۱۲۹۰ق د روژې
پنځلسمه د جمعې ورځ ښودل شويده، د دې لپاره چې په هرو
پنځلسو ورځو کې يوه ګڼه خپريدله، نو لدې کبله د خپريدو پيل او د
هغې د لومړۍ ګڼې نېټه بايد د ۱۲۹۰ق کال د رجب ۱۵ وي. چې د
۱۸۷۳م کال د سپتمبر سره سمون خوري نو لدې کبله دغه تيروتنه د
تصحيح وړ ده.

[1] د افغانستان پبليک د کتاب په (۱ټوک ۱۹۹ پاڼه) کې مې د شمس النهار د
جريدی خپريدل په (۱۸۷۱م او ۱۲۸۸ق) کې ليکلي و.

Library

د امیر عبدالرحمن خان دوره چې د قهر، غضب او په ډېر بد شکل سره د له منځه وړلو سره ملګرې وه یوویشت کاله یې دوام وکړ، د فکري او فرهنګي پلوه دا دوره ښه دوره نه وه، یعني نیک بخته او نیک مرغه دوره نه وه، ځکه د هېواد زیاتره سرکرده ګان یا سر اوچتوونکي یا مخور په ډېر بد حالت کې له منځه یوړل شول او د خلکو د راویښولو او د فکري روزنې وسایل برابر نشول.

مګر دوخت ټولنیز جریان او دغورځنګ دپیدا کیدو عوامل چې همیشه دټولنې په داخل کې ګټور واقع کیدل، او د هر ډول زور زیاتي په مقابل کې دټولنې مقاومت زیاتیده. دغه راز اقتصادي شرایطو او دخلکو طبقاتي حالت پرې نښود چې نوی فکر بخیی یعني په کلی توګه له منځه ولاړشی، پداسې حال کې چې دهیواد په ختیځ کې دازادۍ غوښتلو غورځنګ دلومړی ځل لپاره په **۱۸۵۷** م کال په هند کې پیل شواو هیواد په شمال او لویدیځ کې هم حزبي رادیکال او دمشروطیت غوښتنی حرکتونه منځته راغلی وو. او په عثماني پراخه هیواد (ترکیه) کې هم دازادۍ غوښتلو نسیم چلیده.

امیر عبدالرحمن خان په (۱۹۰۱ م) کال کې مړشو او هیواد یې خپلو دوو خوانو زامنو یعنی سردار حبیب الله او سردارنصرالله ته ورپریښود. چې لومړنی یې دپاچا په توګه او دوهم یې دنایب السطنه په مسقبولو سره دهیواد دچارو واګې په استبداد او بشپړی خودسری سره تر لاسه کړی، او دا هیواد یې خدای ورکړی شخصي ملکیت وباله.

په هیواد باندی دامیرعبدالرحمن خان سلطه. یوه عسکری غلبه دنیزی دسریه زور حکومت او دفقهاؤ په اصطلاح متغلبه وه، ولی خوی یې دنرمۍ له لیاری رامنحته شو. او خپل مطلقه قدرت او واک



ته یې روحاني او دشرعی او لی لامری رنګ ورکړ، او همیشه به یې داویل:

نزد خردشاهی وپیغمبري چون دونګینند ویک انګشتری

دافغانستان خلک لکه څنګه چې د هغه وخت دټولنیزو حالاتو غوښتنه وه اوس بېدار او ویښ شوی او د هېواد فکري او د جغرافیائي حالاتو په نظر کې نیولو سره د وخت دخط السیر او دځای دمساعدت څخه ګټه واخلي او یو څه ډله ایز فکري حرکتونه رامنځته کړی.

Library

## دوهم څپرکی

## د "انجمن سراج الاخبار" لومړنی فکري حرکت ( غورځنګ

دهغو اسنادو له مخي چې ددی کرښو دلیکونکی په کورنۍ کې وو اوس دملی ارشیف دسراج الاخبار په ځانګړی دوسیه کې خوندی دی دا جوتیږی چې دهیواد ټولو روڼ اندو او پوهانو چې دشاهی مدرسی ( دکابل دچوب فروشی په مسجد کې ددینی علومو مدرسه ) او د حبیبي دارالعلوم مربوطه ( دحبیبي اوسنی لیسه چې په ۱۹۰۳ م ۱۳۲۱ ق کال کې پرانستل شوی وه) ؤو د امیر حبیب الله خان دربارته وړاندیز وکړ چې دداسی افغانی پوهانو یوه ټولنه دی جوړه شی تر څو په کابل کې دسراج الاخبار افغانستان په نامه یوه پنځلس ورځینی جریده خپره کړی.ددې ټولنې رئیس د شاهې مدرسې ستر مدرسې او دحضور ملا امام مولوي عبدالروف خان کندهاری ؤ چې ( خاکي) یې تخلص کاوه، او دمولوي احمد جان الکوزایې ځوی چې په ( تاجر) متخلص ؤ محمد سرور واصف ددې ټولنې دلیکونکی ( منشی) دنده په غاړه درلوده، او ددې روڼ اندو لوړ هدف همدا وؤ چې خلک رابیدار کړي هغوي دنوي مدنیت او دنړی دپېښو سره اشنا او بلد کړی، دسراج الاخبار ټولنې دهغه وخت امیر حبیب الله خان ته وړاندیز کړې ؤ چې په نوموړی دوسیه کې موجود دي، دهری فقری یا مادی لاندی شاهي هدایات یا لاربښودنی داعتماد واله سردار عبدالقدوس خان په قلم لیکل شوي ا ولاس لیک شویدی ( لیکنه د۱۳۲۳ ه ق کال د صفری ۲۵ ) یا ۱۹۰۵ م ،



د( سراج الاخبار افغانستان ) لومړی ګڼه چې په ۱۲۸۴ ش کال کې دمولوي عبدالروف خان ( خاکی) کندهاری په مدیریت خپره شوه.

ددې دوسې مطابق دسراج الاخبار دټولنې غړې عبارت وؤ له :

۱ _ ایدیتر یعنی عنوان اینښودونکي: مولوي عبدالروف خان

۲ _ سب ایدیتر یعني نایب یا دعنوان اینښودونکي مرستیال مولوي نحف علی خان

۳ _ دایدیترانو تر لاس لاندي محرریا لیکونکي: دمرحوم مولوي احمدجان ځوي مولوي محمد سرور خان،

۴ _ دترکي ژبی ژباړونکي : حاجی باشی غلام نقسبند خان،

۵ _ د اردو خبرونو( اخبار) ژباړونکي او مهتمم: منشی حافظ حیدرعلی خان،

۶ _ د اردو اخبار د ژباړي مرستیالان: عبدالرحمن بیګ او عبدالرحیم بیګ .

۷ _ تکړه او ښه لیکونکی : میرزا غلام قادرخان او میرزا غلام اسحق خان

۸ _ تصحیح کوونکی : قاري نیک محمد.

دسراج الاخبار ټولني چې رسمي غړي یې په نوموړي دوسیه کې معرفي شوې دي دټولنې دباندی څخه هم یې همکاران او همفکران درلودل اوددربار په یادداشت کې چې ولیدل چې مرحوم محمود طرزی چې په هغه وخت کې دشام څخه هیواد ته راستون شوي ؤ داسي سپارش شوي ؤ چې له هغو څخه دي هم دجریدي دصحافت او مضمونونو په چاروکې نظر واخستل شي.لکه څنګه چې لیدل کیږي: دټولنې دمنظوری سند په ۱۳۲۳ ق کال کې دصفری په ۲۵ نیټه لاسلیک شوي دي ، ولی دافغانستان دسراج الاخبار لومړني ګڼه اته

ibrary

میاشتی وروسته د۱۳۲۳ کال دذیقعدی په ۱۵ نیټه چې ۱۹۰۶ م
کال دجنوری د ۱۱ نیټې سره سمون خوري د( فل سکیپ) په قطع په
۳۶ مخونو کې په ډیرین چاپ دنومړو د وو تنونستعلیق لیکونکو
په ښکلي خط خپره شوي چې دبیلګي په توګه دهغی یوه ګڼه ددې
کرښو دلیکونکي په کورنی اسنادو کې شته او اوس دکابل په ملی
ارشیف کې خوندي ده.

دسراج الاخبار دلومړي ګڼی یعنی دهمدغی ګڼی مهم عنوانونه
دادي: دمولوي عبدالروف خان ستر مقاله دنیک سیاست موعظي او
دخط بي دلمهنید په عنوان، دهغې څخه وروسته دروسیي او جاپان
دجګړی احوال ،د(عثمانی) روم دمصر او روس دهیواد پیښی ، او
ددغو لیدونکو عبرت ۀ دانګلیس او دنورو هیوادونو دپیښو سره، او
په پای کې دافغانستان دهیواد پیښی، او په واصف متخلص
دمولوي محمد سرور خان کندهاري دطبع یوه غعیحه وعظیه
قصیده او دمدیر عذر غوښتنه راغلې ده. پدغه ډیره شکل دسراج
الاخبار لومړني ګڼه د وخت دمستبدحکومت تر شدیدي څارنی
لاندي خپره شوه، ولی لکه څنګه چې یې وویل: دبریتانوي هند
دولت دهغي دخپریدو سره جوړنه ۀ، او دهغي دنورو ګڼو دخپریدو
مخنیوی یې وکړ.[2]

" ښه وځلید لاکن دولت عجله درلوده"

دمولوي عبدالروف د سر مقالی او د مولوی واصف قصیده چې په
دې ګڼه کې خپاره شویدی ښکاره ده چې په هغه وخت کې د اروپا د

2 ددې کرښو لیکونکي دبابا عبدالعزیز خان قندهاري څخه چې ددې ټولنې
دخوانو اړوندانو څخه ۀ اوریدلی می دي.



مدنیت، نویتوب او بیداری نښې کابل ته رارسیدلی او خلک او
درباریي تر اغېزي لاندې راوستې و، او زمونږ په معاصرو ادبیاتو
کې همدغه د نوی فکر خبرتیاوه چې د مولوی واصف په قصیده کې
په ښه توګه لیدل کېږي، ځکه چې هغه د امیر پاملرنه د نړی
پرمختګونو او وړاندې تګ ته رااړولی ده.

د دې ټولني بنسټ ایښودونکی دغه مولوی عبدالرءوف په شلمه
پیړی کې د افغانی هغو مشهورو عالمانو څخه دی چې د وخت په
فکري غورځنګ کې لاس درلود، دا د کندهار مولوی عبدالرحیم
کاکړ ځوی دی چې په ۱۲۹۸ق کال په شوال کې د کندهار په خرقه
شریفه کې په خپله د امیر عبدالرحمن په لاس ووژل شو، ( وګورئ د
سراج التواریخ د دریم ټوک ۳۸۲ مخ).

د هدایاتو هغه عکس دار

د سراج الاخبار افغانستان، د ټولنې په باب شاهي لارښووني د شاه
اقاسی عبدالقدوس خان ( اعتمادالروله ) په قلم.

د مولوی عبدالرؤف زیږیدنه د ۱۲۶۷ق کال د صفری په پنځمه د
دوشنبې په ۰رخ د کندهار په ښیرونکی مشهور د مولوی جبیب الله د
علم او فضلیت په کورنی کې وشوه چې د خپل پلار څخه یې منقول
او معقول علوم زده کړی او د امیر په لاس د پلار د وژل کیدو څخه
وروسته د هیواد څخه د باندې په تبعید کې ژوندکاوه. ولی په
۱۳۰۰ق کال امیر عبدالرحمن خان هغه بیرته هیواد ته راوغوښت او
په کابل کې د منور د ملا امام او د شاهي مدرسي د مدرس او د
قاضیانو د ممتحن په توګه وټاکل شو.

مولوی خاکی په عربی، فارسی او پښتو دري واړو ژبو کی، ادیب،
لیکوال او شاعر و. دوه ټوکه کشکول، خرد نامه امیري،او په

l Library

۱۳۰۶ق کال کې په عربی سلام نامه په فارسی ژبه د ایات العهود تقسیر، او د ناسخ التواریخ سپر مستوفی د لوی برخې رد او د المراه الوضیه فی الکرت الارضیه ژباړه او د معافحی رساله او داسې نور د هغه د تالیفاتو څخه دی د نوموړی د اشعارو یوه برخه په فارسی او عربی ژبو کې هم لیدل شویده، چې د هغی جملې څخه د مزاریه په نامه اوږده قصیده ده چې په ۱۳۰۶ق کال کې چې د مزار شریف په سفر کې د امیر عبدالرحمن سره ملګری و قصیده په دې ترتیب داسې پیل شویده :

کی توانی ایدل پر اضطراب شوگوار _ شکر نعمتهای بی پایان و حصر کردگار  افغان او انګلیس په دوهمه جګړه کې د هېواد د ساتنې د شوق د راژوندی کولو په برخه کې یو شعر لری چې د هغی جملې څخه دادي:

افغان اگر نظر فکند بر صلاح خویش
اول ببایدش که بگیرد سلاح خویش
گر اصطلاح وی طلب عیش و عشرتست
فرض است انکه محو کند اصطلاح خویش
این سر زمین خوش که با افغان چو مادرست
داند سپردنش بدگرها جناح خویش
دا هم د هغه د یوه مستانه غزل یوه بېلګه :
خاک کند مشکبو ساحه مشکوي تو
باد شود روح بخش، گرد سر کوی تو



بست به زنجیر، و تیغ بر جگرم زد دریغ
طرهٔ هندوی تو، غمزه جادوی تو

د دې لپاره چې د مولوي خاکي فکري مقام د ده د ژوندانه په وخت کې او په شلمه پېړۍ کې په لومړنی غورځنګ کې د ده ونډه وپېژنو، باید د افغانستان د تجدد او صحافت د پلار مرحوم محمود طرزي هغو لیکنو ته پاملرنه وکړو چې د هغه د مړینې په هکله یې لیکلې دي:

د سراج الاخبار د لیکنې سره سم مولوي خاکي د ۱۳۳۳ق کال د شوال په ۱۵ د جمعې په ورځ له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د کابل د خواجه صفا د غره د لمن په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو او محمود طرزي د ۱۲۹۴ش کال د سنبلې ورځ ۲۰ نېټه د پنځم کال په دوهمه ګڼه کې د (یک خساره تأسف اور علمی) تر عنوان لاندې یوه اوږده مقاله ولیکله چې د هغې لنډیز دادی:

" از دیدهٔ زمانه روانست جوی خون _ ای دیدهٔ زمانه بگو تاچه دیده ئی؟ په دې وخت کې یوه پېښه وشوه چې قلم د هغې د لیکلو څخه لړزېږي، پنجې سستېږي، زړه درزېږي او حواس پرېشانه کېږي، یعنې د علم او عرفان ژوند، او د ادبیاتو ژوند د یوه زړه دردونکی ټکر او د یو ښکته راتلونکي خطر سره ولګېد. یعنې د علم او پوهې او د عرفان روح د جناب محترم مولوي عبدالروف خان صیب سره یو ځای د دې بې وفا نړۍ نه سترګې پټې کړې او دارالبقا ته ولاړ ... خدای ښېنلې نه یوازې دا چې زمونږ په هېواد کې بلکې د نړۍ په زیاترو سیمو کې یو کم مثاله عالم او فاضل و چې په ټولو عقلي او نقلي علومو او تصوف او ادبیاتو کې د لوی لاس څښتن و. لیکنې

د دغه فاضل همیشنی ضایع زمونږ د هېواد د علم او عرفان د نړۍ دپاره په حقه چې ډېره وېره ونکی زیانونکی ضایعه شمېرله کېږي... برسېره پردې د ټول علم و فضل د یوه کلام ساتونکې و او په ادبیاتو کې یې یوه ممتازه ځانګړتیا درلوده، د ده د خوشبویه طرحو څخه هم د فایدو ډکې قصیدې او د معنې ډک اشعارو او ادبیاتو څخه یادونه کولی شو، ولې افسوس چې د خپل ګران عمر اوه شپیتمه ستنه یې پای ته ونه رسوله او هېواد یې د خپلو ډېرو فایدو او لېدنو باندې خوشحاله نکړ..."

( د ۱۲۹۴ ش کال د سنبلې شلمه د سراج الاخبار افغانیه د پنځم کال اووه لسمه ګڼه د کابل چاپ).

دا وو هغه څه چې د سراج الاخبار د فکري حرکت د ټولنې څخه موږ ته را پاتې دي او د لمر هغه مطلع ده چې د انګلیس د استعمار د دسیسو په تورتم کې ډوبه شوه، ولې لکه څنګه چې زموږ په راتلونکو بحثونو کې به روښانه شي، پنځه کاله وروسته د همدې فکر په رڼا کې د لومړی مشروطیت حرکت رامنځته شو او د همدې ټولنې لیکونکی د همدې حرکت په سر کې ودرېد چې د هېواد د راتلونکو روڼ اندو د سیاسي افکارو د ټوکېدو لپاره ډېر ګټور و او د عبرت ناکه داستان د اورېدو وړ دی چې:

عشق از فریاد ما، هنگامه ها تعمیر کرد
ورنه این بزم خموشان هیچ غوغائی نداشت



Library



## د مشروطه غوښتنونکو لومړی ډله

عشق شورانګیزما را بر سرکوی تو برد
بر تلاش خود چه مینازم کرده ره کوی تو برد

ټولنه یو متکامل او اغیز منونکی مخلوق دي او ددې دفکري تګلاري وده ممکنه ده او کیدای شي دځینو خنډونو په وجه ودرېږي ولې په بشپړه توګه له منځه نه ځي.

دسراج الاخبار دټولنې حرکت هم دهغو خنډونو له امله چې دانګلیسی استعمار رامنځته کړي وُ دلږ وخت لپاره ظاهرا پر ځای ودرید. لاکن دوه، دری کاله وروسته دیوه مترقی تر مرام په درلودلو سره د یوه متشکل ګوند په توګه منځته راغی چې دافغانستان په فکري تاریخ کې هغه ته،

"لومړی مشروطیت" وایو

ددې حرکت ټولګی مشر او مخکښ دسراج الاخبار دټولنې دپاتې شونو څخه یو تن یعنې ددې ټولنې لیکونکی (منشي) وُ، چې په لاندې ډول دهغه او دهغه دکورنۍ په برخه کې چې ددې ټولنې دمخکښانو او فدایانو څخه وُ معلومات درکول کېږي: مولوي محمد سرو ر خان (واصف) او دده کورنۍ:

لکه څنګه چې مخکې وویل شو دغه عالم، درد مند اوشاعر شخص په تاجر متخلص د مولوي احمدجان خوی دازاد خان لمسي او دزین العابدین کړوسی وُ چې دقندهار دارغستان دبالا ژره دالکوزایې خلکو څخه وُ چې پلاریې د امیر عبدالرحمن په عصر کې د اداري

منورو او ليکوالو خلکو له جملې څخه و. چې دهېواد د اداري او قضا په تنظيم کې يې دافغان او انګليس ددوهمې جګړې دويجاړې را وروسته پوره لاس درلوده لکه چې دقاضيانو د لارښوونې او دشرعي محکمو دتنظيم لپاره يې داساس القضات کتاب چې ۱۳۶ قاعدې يې درلودې وليکه چې په همغه وخت کې دوه ځله چاپ شو، ( دوهم ځل چاپ يې په کابل کې په ۱۳۱۱ ق کال کې و).

پداسي حال کې چې ددولتي اداراتو د تنظيم لپاره يې هم قواعدو دولتي په نامه کتاب چې ۶۳ فقرې يې درلودې مخکې په ۱۳۰۹ ق کال چې د ۱۸۹۱ م کال سره سمون خوري ليکلي او چاپ کړي و.

مولوي تاجر دپښتو او دري ژبې دښکلي کلام شاعر، دبديعي‌صنايعو دبېلا بېلو ډولونو ددرلودونکو قصيدو او دغزلو دديوان درلودونکې و، چې نوموړی په ۱۳۲۰ ق کال يا په ۱۹۰۲ م کال کې دسږو دنري رنځ په ناروغي اخته او مړ شو چې دهغې مړي په کندهار کې دصوفي صاحب دقبر په اړخ کې ښخ شوي دي.

دمولوي تاجر ځوي، محمدسرور واصف هم عالم، شاعر، روڼ اندی او داسلامي او ادبي علومو سره بلد و چې په ۱۳۲۳ ق کال کې يې لکه څنګه چې موولوستل دافغانستان دسراج الاخبار په ټولنه کې چې دليکونکې ( منشي) په توګه شموليّت درلوده.

خدای بښلي مير قاسم خان چې د واصف ملګري او هم عصره و داسې ووېل [3] " په ۱۳۲۷هـ.ق کال د صفري په ۱۶ مولوي محمد

---

[3] د دې وينا د ماخذونو څخه يوه هم هغه مقاله ده چې د خدای بخښلي مير سيد قاسم له خولې څخه ليکل شوې ده او په کاروان جريده کې په کابل کې د پښتونيار په قلم په ۱۸-۴-۱۳۵۱ش کال کې خپره شوېده چې د نوموړی مير لمسی دی. په دې ټوله وينا کې په هغه ځای کې چې د دې مقالې څخه مې



l Library

سرورخان قندهاری الکوزايي په واصف متخلص د مشروطه غورځنګ د ټولنې رئيس و. هغه د جبيبې د ښوونځې د جوړېدو څخه مخکې او مخکې له دې څخه چې ډاکتر عبدالغني افغانستان ته راشي، د مترقي افکارو څښتن و، او د خپلو نږدې دوستانو په کړی کې په شپو، شپو به د مشروطيت په بحثونو اخته و، د امير جبيب الله په عصر کې د سراج الاحکام د فتاوې د تاليف د ټولنې په نامه د عالمانو يوه ټولنه موجود وه، چې په هغې کې د بېلا بېلو درجو پنځوس تنه عالمان د شرعي احکامو په استخراج، تدقيق، ژباړنه او ليکلو مصروف و.

د دې ټولنې کار د لسو تنو پوهو عالمانو تر نظر او اهتمام لاندې تر سره کېده چې په دغو کسانوکې دا کسان شامل وو لکه:

ګل اخندزاده احمدزی، مولوي عبدالروف اخندزاده قندهاری، د ميرقاسم خان پلار يعنې سيدغلام محمد، اغای چارباغې، مولوي عبدالرزاق اخندزاده اندړې، مولوي احمدجان اخندازاده توضی، ملا لا لا ګل ارغنديوال او داسې نور.

د دغو کسانو زياتره چې د امير عبدالرحمن په وخت کې د علمې شهرت‌خاوندان و، د خپلو اصلې ځايونو څخه کابل ته رابلل شوي و چې د قاضې درجه يې درلوده، نسبتا ځوانو عالمانو لکه، مولوي محمد سرورخان واصف او مولوي قيام الدين خان نيازی د مفتې په درجه او تر دوی نورو د لږ عمر درلودونکو لکه، ميرقاسم خان د ليکونکې ( محرر) په درجه نيول شوې و... واصف او ميرقاسم خان

---

اخيستنه کړی ده هغه ټوله مې د خدای بخښلي مير قاسم خان په مقاله حواله ورکړې ده ځکه چې هغه رښتيا ويونکی، پخوانی، بې پرې او محترم سړی و.

al Library

په هغه وخت کې مرکه درلوده او هڅه یې کوله چې باید په هېواد کې یو لړ قوانین طرحه شي او د حکومت نظام دې د قوانینو پر بنسټ ټینګ شي.
دغه خلک سر بېره پردې چې عالم او روڼ اندی و، مترقي افکار یې هم درلودل... مولوي واصف په ۱۳۲۳ق کال کې د ښوونکي په توګه د حبیبې په ښوونځي کې شامل شو، د ۱۳۲۵ق کال په شاوخوا کې و چې خپل بل ملګری میرقاسم خان یې هم ښوونځي ته تشویق کړ، او حتی نور ملګري یې هم په دغه ښوونځي کې د ښوونکو په توګه ومنل شول. په دې ځای کې فرصت ډېر ښه برابر او مساعدو. تر څو دغه روڼ اندی سره یو ځای کېښیني، او د مشروطیت، خلکو او حالاتو په اړوند افکار سره تبادله کړي.
د مشروطه غوښتونکو ځوانانو شمېر ... دې درې سوه تنو ته رسیده، چې په کوچنیو بېلا بېلو جرګو (کړیو) باندې ویشل شوي و، په دغه هره جرګه کې یوه ډله هغه ملګرې سره راټولېدل کوم چې هغوی یو له بل سره ښه پېژندل، دوی له خپل منځ څخه یو منشي او رئیس ټاکه، د کوچنیو جرګویو له بل سره اړیکې نه درلودې، ولې د دغو ټولو جرګو عمومي رئیس مولوي محد سرور خان واصف و.
هغه د یوې لس کسېزې جرګې رئیس هم و، چې د هغوی زیاتره ملګري د حبیبې د ښوونځي ښوونکي و ... " [4]

[4] د مېر قاسم خان مقاله یعني لیکنه.
د میرقاسم خان په وینا. "واصف هغه ښوونکی و چې د حبیبې ښوونځي بیا د هغه په شان بل مثال پیدانکړ، هغه عالم و، هم ادیب هم شاعر او هم ... تکړه او زړه ور و روڼ اندو څخه شمېرل کېده، هغه د ښه طبعې درلودنکی او ډېر حساس سړی و، او د درې ژبې د پخوانیو استادانو د قصیدو او شعرونو په زرګونو بیتونه یې په



روزیکه شود اذ السماء انفطرت
وندر پی ان اذا النجوم انکدرت
من دامن تو بگیرم اندر عرصات
گویم ! صنما ابای ذنب قتلت ؟
راتلونکو ته ځما دا سپارښتنه ده :
ترک مال و ترک جان و ترک سر
در رهٔ مشروطه اول منزلست"
خدای بخښلی میرغلام محمد غبار لیکي: چې دغه کاغذ د عبدالهادي داوي سره دې او ماته یې د نقل د راکولو څخه ځان تیر کړ یعني رائې نکړ[5]
ولې د دې ګرښو لیکونکې په خپله د خدای بخښلی داوی څخه اوریدلې و چې (هغه په دغه وخت کې ماشوم و چې دخپلې مور (اتکو) سره یو ځای دواصف دفاتحې لپاره دهغوي کورته تللی و چې په هغه وخت کې یې دحتی د مشروطیت نوم نه پژانده، لاکن دغه کاغذ یې دځواني او دسیاسی شعور دکسبولو او یا تر لاسه کولو په

یادو یاد و. د پښتو ژبې ډېرې شوخې او ظرافیت امیزه لنډۍ یې په یادو زده وي، چې په غونډو او مجلسونو کې به یې د خپلو ملګرو سره زمزمه کولې. هغه د خپل ورر سعدالله، او د پلار د سرور ځوی، عبدالقیوم خان او د کاکا عبدالرحمن خان سره په شیر پور کې بندې شو، او دوه ورځې وروسته دستې د شیرپور په تپه کې د توپ خولې ته وتړل شو او د سعدالله خان او عبدالقیوم خان سره یو ځای اعدام شو.
هغه وخت چې واصف یې په توپ پورې تاړه نو هغه د کاغذ په یوه پاڼه ولیکل " په داسې حال کې چې په امنت باالله و ملائکته ... مې بشپړ ایمان درلود، د امیر په حکم ووژل شوم.
[5] د تاریخ تک لاره (۷۱۸) مخ

Library

وخت د واصف دپخوانیو خپلوانو سره لیدلی و." دکلام پای لکه
ځنګه چې ما ددې کرښو لیکونکی لیدلی دی: دمولوی واصف
دترور ځوی یار محمد دغلام حیدر خان ځوی په ۱۳۱۰ هـ ش کال
کې په کندهار کې دپولیسو سر مامور و او هغه ویل چې دکاکا
ځوی اخیرني لیک یې موجود دی، ولی وخت پیدانشو چې هغه
لیکنه لیدل شوی وای او نوموړی یار محمد په داسې حال کې چې
دارزګان په ګزیو کې ولسوال و په ۱۳۱۶ ش کال کې مړ شو.
نو په همدې ترتیب هغه ازادي غوښتونکی انسان دخپل ورور او د
ترور دځوی سره یو ځای خپل سرونه دهېواد ددموکراسۍ او
دمشروطه غوښتنی دلومړي غورځنګ لپاره قرباني کړل ، او
عبدالهادی داوی دهغه په برخه کې داسې ویلي و:

محب قوم وفدای دین جزاه الله
که ماندسنت مشروطه راقوام واساس

دمیر قاسم خان په وینا : " خدای بخښلي واصف لومړني قافله سالار
و چې د مشروطیت غوښتنی کاروان یې دخپل سر په بیه په لاره
واچوه، هیڅ نیالګی په یوه ورځ کې هم میوه او ثمره نده ور کړي که
هغه نیالګی کیناوه نو اوس یې پاتی کسان دثمري څخه ګټه اخلي،
دلومړی مشروطیت با درایسته او روڼ اندو ځوانانو دخپلو
هېوادوالو ددموکراسی دحقوقو دلاسته راوړلو لپاره لومړی ډیوه بله
کړه ."[6]

خدای بخښلی میر قاسم خان له دی وروسته وایې:
" دمشروطه غوښتني لوی مشر خدای بخښلی مولوی محمد سرور
خان په ۱۳۲۷ ق کال کې دمهمانخاني د باغ چې په هغه وخت کې

[6] د میر قاسم خان همدغه لیکنه .



دحبیبې ښوونځی پکې و په یوه لویه خونه کې غونډه کړي وه چې په
هغې کې دمشروطه غوښتونکو زیات شیمر غړو برخه اخستی وه،
پدی غونډه کې چې ډاکتر غنی او ورونو یې برخه نه درلودله دامیر
حبیب الله خان حضور ته دیوی عریضې دبرابرولو وړاندیزو شو چې
په هغې کې داسې لیکل شوي و: په ځینو هېوادونو کې خلک په
زور، جبر او قهر سره حکومت دی ته.
" مجبور وي تر څو اداري نظام دملت دارزو تابع کړي، او مشروطه
او قانوني شکل ورته ورکړي، په ځینو نورو هېواد ونو کې روڼ اندي
پادشاه په خپل نوښت او د خیر په نیت سره په هېواد کې
دمشروطیت اصول او قوانین نافذ وي . ددې لپاره چې سراج الملته
والدین پوه او ترقی غوښتونکي پادشاه دی. لکه څنګه چې دحبیبې
او حربې دښوونځیو جوړول، دسراج الاخبار خپرول دکتابونو چاپول
، دعصری مطبعی راوړل دنوو ودانیو جوړول او داسې نور دشاهانه
ذات د مهرباني او پاملرني دهېواد د تر قی او پرمختیا ښکارندوی
دی . نو هیله او ارزو کېږي چې دهېواد دحکومت جاري چاري هم
دمشروطه قوانینو پر بنسټ تېنګې کړي ، ترڅو د په خپل سر او
داسلامی مقرراتو پر خلاف داحکامو څخه مخنیوي وشي، او خلک
دقانون دسلطي او دمشروطیت دنظام لاندي سوکاله ژوندانه ته
ورنږدي شي." دا عریضه دپروفیسر غلام محمد خان چمنګي
پواسطه جلال اباد ته یوړل شوه او دامیر حضور ته وړاندي شوه، اګر
چې دغه پادشاه په لومړی سر کې دمشروطه غوښتونکو مرام ته په
بده سترګه نه کتل، لاکن ښایې چې ددربار ځینو مفتدینو او
چاپلوسو مرتجعینو موضوع ورته ډیره مبالغه امیز ښکاره کړي وي،
او دیو شمیر هېواد غوښتونکو پاک مرام یې په درسته توګه نه وي

rary

درک کړي، نو امر يې وکړ چې ددغه غورځنګ ثلورتنه دي په هم هغه ځای کې اعدام کړي، دغه سر تېرې او تکړه ځوانان عبارت و له : غلام بچه لعل محمد خان، غلام بچه جوهر شاه، دسرور خان پروانی ځوی محمد عثمان خان او محمد ايوب خان پوپل زايې کندهاری."

مير قاسم خان زياتوي:

" امير مخکې له دې چې دهغوي داعدام احکام صادر کړي، دغه دوه تنه غلام بچه ګان يې ددرباريانو په مخکې دبدو ويلو لاندې ونيول او پو ښتنه يې تري وکړه چې: ولې مو ددغو ډيرو زياتو نعمتونو او ډيرو عزتو سره سره په نمک حرامي او دنعمت په کفران لاس پوري کړ؟ دغو زړه ورو ځوانانو په خاصه توګه جوهر شاه د غوربندی، دوبري د ډيرکم احساس پرته دخلکو په برخه کې دحکومتی مقاماتو دبې پروايي او دهغو مظالمو څخه چې ددولت عمالو دهېواد په ټولو برخو کې کول، يو يو ورته په ګوته کړل، او دغه دواړه زړه ورځوانان په هم هغه مجلس کې دتفنګچي په ډزو سره مړه شول او ځانونه يې حق ته وسپارل." [7] او دحا ل په ژبه يې ويل:

به ملک جم ندهم مصرع نظيری را
هر انکه کـ٘ته نشد از قبيله مانيست

مولوي واصف ليکوال، ژباړونکې او تکړه شاعر و، او د هغه د ژباړې د اشارو څخه د( تاريخ ادريسپاني، حموديان وموحدين) (افريقای شمالي) چې له عربي څخه په دری ژباول شويدي او دهغی خطی نسخه د کابل په ملی ارشيف کې شته يادونه کولې شو.

7 د مير قاسم خان ليکنه.



دده د کلام د نمونې په توګه يوه پارچه ښکلي شعر دې چې دفيصده مرحيه ووعظيه په عنوان د سراج الاخبار افغانستان په لومړی ګڼه کې په ۱۳۲۳ ق کال کې خپور شوې دی او د هغې يوه نسخه ددې کرښو د ليکونکي په کورنۍ کتابتون کې پاتي وه چې اوس دکابل په ملی ارشيف کې خوندي ده او دلته کټ مټ رانقليږي تر څو په راتلونکي کې دڅيړونکو په واک کې وي:

قصيده

د مرحيه ووعظيه طبغراد فصاحت وبلاغت نشان محمد سرور خان قندهاری المتخلص بواصف.

به حمد الله که اثار رحمت های يزدانی
خديو دادګر شد مر بنای عدل رابانی
لوای دين بعهد ش اسمان ستا ګشت درعالم
که از رفعت زند صد طعنه رابر چرخ کيوانی
رواج حکمت ايمانيان امد که از رشکش
به خاک تيره يکسان ګشت حکمتهای يونانی
فروغ جوهر دانش، خرو بګرفت عالم را
سواد جهل شد از لوحهٔ جان جهان فانی
فزود از پرتو دين، لمعهٔ انوا دانش را
ز دود از چهرهٔ مرآت د هر اثار ظلمانی
مدارس راکه بد پيرا يهٔ دولت مشيد شد
مساجد راکه بد زيب طرا ز دين شدش بانی
معارف را رواجی داد دراسلام نيکوتر
حقايق را اساس ماند محکم درجهان بانی

Library

پی ترویج ان ارشاد فرمود از سر حکمت
که عالم راشود حاصل از ان طرز جهانداری
بنور ان جریده کش سراج اخبار نام امد
همیدون دیدهٔ جانی جهان گردید نورانی
منافع را بود مظهر به نتیاج پرورد در بر
د رخت فینضش ارد بر، همه پندو زبا ندانی
همه حالات عالم اندر ان پیدا چوجام جم
ویا اایینهٔ اسکندر، از فرو درخشانی
کس کاین گلستان بخرد ان را کرد گلچینی
اگر خود طفل باشد، سر کند مشق سخنرانی
بشارت باد اهل فضل ودانش را ازین مژده
که باغ بخردی را امد اکنون ز وقت ریانی
یکی ایعالم ایمان، نگاهی کن به کیهان بر
روان بیدار دار از نشهٔ خواب گرانجانی
یکی با دیدهٔ عبرت ببین اقوام دینارا
که آز غیرت همی گرذد ذهول از دامن افشانی
ببال ازپستی سستی، باوج پا یه بنیش
گرایان شو سوی جمیعت ازملک پریشانی
ببین اضاف عالم را ترقیهای پی درپی
چه نمساو فرنساو چه جرمانی چه جاپانی
کسی کز دوحهٔ تهذیب، بارکام دل چیند
به گیتی فایق اید از همه اقران انسانی
نگرا قلیم جا پا نرا که به ان فترت قطرت
چسان براوج رفعت کرد بنیاد پرافشانی



اروپا فخر کرذی بر جهان درسبقت واکنون
زرسم ایشیا افتاد درگرداب حیرانی
نه تنها یورپ از اوضاع شان افتاد درحیرت
که محو خوسشتن شد ایشان زین رسم جاپانی
قدم درعرصهٔ جهد و مروت مان وجهدی کن
که از قیدو ساوس رخش همت را برون رانی
نهال دین و دولت را به همت ابیاری ده
که ارد میوه افضال ورحمتهای یزدانی
بجوش غیرت دین، پختگی می بایدت حاصل
که تازین عالم خامی کمیت عزم بجهانی
به صدق خاطر، امدادی بده اخوانی دینی را
بشوی از لوح دل، زنگار تسویلات نفسانی
هدایت بخشد ایزد هر کرا در راه دین کوشد
ثبوتی دارد این معنبی باستدلال قرانی
خوشا حال کسی کاندرغریبی یار دین باشد
کند صرف مروت درترقی های ایمانی
تکلف بر طرف، نی درپی تز یین الفاظم
چو معنی راستان گویم چه عبرانی چه سریانی
نگویم اینکه سحبانم، ولیکن اینقدر دانم
که همچون شاعران دون، نیم در خال و خط فانی
سخن از بهر دین گویم، زحق اعلای دین جویم
ره تو به همی پویم، بسر زالوده دامانی
خداوندا بذات پاک و اوصاف جمیل خود
بقرب حضرت شاه رسل ان شمع ایمانی

یکی بر حال این پژمرد گان از فیض خود رحمی
که بس درمانده ایم از سورت اغوای افسانی
نظامی بخش سلک رشتهٔ دین پیمبرا
قوامی ملت مارا از رحمت دار ارزانی
عطا کن دولت اسلام را از فضل خود رونق
بنور معرفت شمع دیانت ساز نورانی
شهان ملت اسلام کاکنونند در گیتی
بده توفیق شان در قوت دین مسلمانی
خصوص انخسرو عادل دیانت خوی دریادی
که باشد همیش مصروف تاییدات ایمانی
سراج ملت و دین، شهریار عادل و باذل
که روشن شدزعدل وجود اوکیش مسلمانی
چون مصروفست یا رب همتش در رفعت دینت
بحفظ خویش کن ز افات کیهانش نگهبانی
سخن کوتاه باید (واصفا) در رسم دانایان
که تطویل کلام ارد ملال طبع انسانی [8]

(د افغانستان د سراج الاخبار ۳۶مخ د ۱۳۲۳ق کال د ذیلقعدې ۱۵ د ۱۹۰۶م کال د جنوری ۱۱ د لومړي کال لومړی عدد)

د واصف کندهاری د کورنۍ څخه د مشروطیت قربانیان:

[8] دغه قصیده د بلاغی موازینو سره سم، پرته له ایکا (شایگان) نور هیڅ عیب نلري،



rary

لکه څنګه چې ورته مخکې په لنډ ډول اشاره وشوه د واصف له کورنۍ څخه څو تنو د لومړي مشروطیت په غورځنګ کې لاس درلوده چې په لاندې ډول معرفي کېږي:

۱. د مولوي احمدجان تاجر خوی د مولوي واصف وررور سعدالله خان الکوزائي چې د۱۳۲۷ ق کال په صفره کې ونیول شو په هغه ورځ چې واصف یې واژه هغه یې دده سره یو ځای د توپ خولې ته وتاړه او دلومړي مشروطیت دربنتینو غړو څخه و.

۲. د احمد جان تاجر کاکا دنور محمدخوی دمحمد لمسی اود محمد عظیم کړوسی عبدالقیوم خان الکوزائي کندهاری دی چې دکابل د ګمرک مامور دی چې دواصف سره یو ځای په توپ والوزول شو یو وروریې عبدالخالق نومي یو باسواده سړی و چې د۱۳۰۹ کال په حدودو کې په کندهار کې اوسیده.

۳. د واصف کاکا عبدالرحمن خان چې د۱۳۲۷ ق صفری په میاشت کې په کابل کې بندي شو او د شیرپور په جیل کې مړ شو. ددې کورنۍ هغه غړی چې په امانیه دوره کې اوسیدل، ټول بیدار داماني دوري مفید دپوهی او مصارف دخپریدو طرفدار او دازادی غوښتلو د افکارو لرونکي و.

(۴)

## دمشروطه غوښتونکو په لومړی ډلې مهم غړی

د افغانستان دمشروطه غوښتونکو په لومړی ټولنه کې دډاکتر عبدالغنی په مشری دهندي ښوونکو یو کوچني فراکسیون موجود و، چې خان یې داسلام یا "دهېواد نه قربانیدونکي" بللی دي، او

l Library

دایو تاریخي ډوله نوم دی. دهغه کال راهیسې چې دغه فراکسیون جوړ شوي دي او حکماتو د جعل په حساب دهېواد یا ملت څخه ځان قربانیدونکي په ۱۳۲۶ هـ ق کال کې دي چې دهغې شرحه به وروسته راشي.

ولي دافغانانو ټولنې ځانونه (اخوان افغاني) نومول او دغه نوم ما ددې کرښو لیکونکي ددې ټولنې دځوتنو غړو څخه اوریدلې دی لکه، دخدای بخښلو عبدالعزیز کندهاری او عبدالجلال خان کندهاری او تاج محمد خان بلوڅ پغماني، اخوان افغاني تر هغه ځایه چې ما پېژندلي دي، دا لاندې کسان دي: چې دګوند په راس کې واقع و او د ډېرو فعالیتونو مصدر شوی او یا بندیان شوی دي اګر چې دهغې د عادي غړو شمیر سلګونو تنو ته رسیده.

۱ _ خدای بخښلی میر قاسم خان:

لکه څنګه چې ولیدل شول هغه د ځوانی په وخت کې واصف سره یو ځای دسراج الاحکام دتالیف په ډله کې محرر (لیکونکی) و. ددې لپاره چې پلار یې سیدغلام محمد چهارباغی (نعمانی) دوخت دنامتو او شهورو علماو او روحانیونو او د امیر عبدالرحمن خان دکورنۍ استاد و، هغه دپوهې، علم او ادب په چاپریال کې وروزل شو، په عربی ژبه د اسلامی مروجه علومو سره اشنا او بلد شو او د حبیبې په ښوونځی کې ښوونکی و، چې په همدغه ځای کې د وخت د روڼ اندو په کړی او دمولوي واصف د اندیوالانو په ډله کې داخل شو، او دمولوي واصف تر ریاست لاندې دمشروطه غوښتونکو دیوی جرګې منشي و چې په هېواد کې یې د مترقي افکارو او علمی مقام تر لاسه کړ، تر څو چې دلومړی مشروطیت په وخت کې دمشروطه غوښتونکو په ډله کې په شیر پور کې بندي شو، ولي څو



کاله وروسته دخپل پلار دهغه علمي مقام په نسبت چې امیر حبیب الله خان هغه ته دقدر او احترام په سترګه کتلی هغه د بند څخه خوشي کړای شو.[9]

میرقاسم خان په اماني عصر کې ددربار د نږدې خلکو څخه شو او کله چې د هېواد دازادی څخه وروسته دمشروطه غوښتونکو دټولنی غړو دهېواد دټولو چارو واګی په لاس کې واخیستی او امان الله خان چې ددوې غړی و پر شاهی تخت کېښناست، میرقاسم خان دیوه وخت لپاره دامان افغانی دجریدې مدیر و (۱۳۰۰ _ ۱۳۰۵ ش) وروسته دا دشاهی دربار سر منشي شو چې دغې دندی یې د ۱۳۰۶ ش کال څخه د ۱۳۰۷ ش کال تر ژمی او د امانی رژیم تر ړنګېدو پوری دوام درلوده، او دسقاو دځوی داړو دوړ په وخت کې په ګوښه توب کې و، تر څو چې په ۱۳۰۸ ش کال کې یعني د محمد نادرشاه پلاس دکابل دفتحی وروسته دپوهنې وزارت معین وټاکل شو، څرنګه چې د امانی لیسی یعنې (نجات) دلیسی دزده کوونکو څخه یوه تن عبدالخالق د ۱۳۱۲ ش کال دعقرب یا لړم دمیاشتې په ۱۶ نېټه یعني د ۱۹۳۳ م کال دنومبر په ۸ نېټه محمد نادرشاه ددلکشا دمانۍ په چمن کې دټفنګچې په ډزو سره وواژه، په همدغه ورځ میر قاسم خان هم ددې پېښې دنورو محرکینو په ډله کې بندی او په اعدام محکوم شو، هغه د ۱۳۱۲ ش کال دقوس یالیندی دمیاشتې په ۲۶ نېټه د نومړی دقاتل سره یو ځای د دهمزنګ دجیل تر څنګ داعدام ځای ته یوړل شو کله چې د دار دځړولو پړی دده په مرۍ وتړل شو، پدغه وخت کې دده د زده کوونکو څخه یوه تن چې دوخت دبهرنیوچارو وزیر و دګل محمد خان ذکریا ځوی

[9] د میر مقاله

brary

سردار فیض محمد خان په منده منده دنوموړی دبخښنی فرمان
دمحمد ظاهر شاه له طرفه دهغه وژنی ځای ته ورساوه او په دغه
معجزه ایسا حالت سره دوژنې څخه وژغورل شو، لاکن د ارگ په
جیل کې یې (۱۶) کاله په بند کې تېر کړل، تر څو چې ۱۳۲۸ش
کال یعنې ۱۹۴۹م کال کې ازاد شو او په ۱۳۲۹ش کال کې د
سردارشاه محمودخان په کابینه کې د عدلیې د وزیر په توگه وټاکل
شو او د دغه رژیم له منځه تللو پورې یعنې ۱۳۳۲ش کال پورې پر
دغه چوکۍ پاتې شو.

دغه پوهه او انتقاد کوونکی شخصیت چې د لهجې صراحت او د
ازادی غوښتو او روڼ اندې صفتونه او څه اندازه علم او سواد یې
درلوده، د زوړوالی په وخت کې د ۱۳۵۷ش کال د حوت یعنې د
کب د میاشتې ۲۲ نېټه د سه شنبې په ورځ په کابل کې له دې نړۍ
څخه سترگې پټې کړې، چې د افغانستان د رون اندی، زده کړی او
لیکوالی په تاریخ کې نیک او ښه نوم لري، سره له دې چې لوړو
مقامونو او چوکیو ته ورسید لاکن خپل د ازادی غوښتلو، انتقاد
کولو یا گوته نیولو او د استادی منزلت یې له لاسه ورنکړ روح دې
ښاد وي:

هغه خپل د هیجانه ډک ژوند داستان یوه ورځ په دې بیت کې داسې
خلاصه کاوه:

عشق شور انگیز مارا برسد گوئی تر برد
بر تلاش خود چه مینازم که ره سوی تو برد

د میر قاسم خان د اثارو څخه د ده یو شمېر هغه لیکنې یا مقالې دي
چې د امان افغان د مدیریت په وخت کې یې په هغه جریده کې



لیکلې دي چې په دینې، ټولنېزو او قانونې مسایلو کې د ده د
مطالعاتو د ژوروالی اندازه ترې ښه معلومېږي، د حبیبې په مدرسه
او استقلال په ښوونځې کې یې د استادی په دورو کې یې ډېر
شاگردان او ځوانان د هېواد پالنې، د فکر په ازادی او ټولنېز انتقاد
په روحیه وروزل او د ژوند تر اخیره یې د لارښوونکی مقام له لاسه
ورنکړ.

خدای بخښلی میرقاسم خان د مشروطه غوښتني د لومړې ټولنې د
مهمو غړو څخه یو شمېر یې داسې معرفي کوي:

۱. لاندې د هغه شمېر باخبره او پوهو زامنو نومونه وړاندې کوم
چې په هغه غورځنگ کې یې گډون درلوده، تر څو ښاغلي
لوستونکي په ښه دقت سره د هغوی شخصیت تر څېړنې
لاندې ونیسي او خپله قضاوت وکړي چې مشروطه غورځنگ
د هغوی د خپل فکر زاده او ذاتي نبوغ و نه د پریو تلقین، ایا
د دې خبرې ځای شته یا دا خبره په ځای ده چې دغه راز وتلې
او ښاغلی شخصیتونو د سر غوښتونکو د ډلې خطاب وکړو؟

۲. د وتلی عالم مولوي عبدالروف اخندزاده کندهاری دوه تنه
زامن چې هر یو یې په خپل وار د تکړه علماو څخه و یعنې
مولوي عبدالواسع اخندزاده او مولوي عبدالرب اخندزاده،
دوي سربېره پر علمیت خطیبان او زړه ور خلک و، چې د
مشروطه غوښتنې په غورځنگ کې په شیرپور کې بندیان
شول، مگر امیر حبیب الله خان د هغه د پلار علمی درجی ته
داحترام اود رناوي په دود دوې دواړه دڅو میاشتو وروسته
وبخښل، هغوی هم دمشروطه غوښتونکو دیوي ډلې مشري
په غاړه درلوده، د جمعې په ورځو ذېل خشتی په جومات کې

Library

دلمونځ کوونکو ګڼه ګوڼه زیاته وي، په یو له دغو ورځو کې د مولوي عبدالواسع اخند زاده په داسي حال کې چې په منبر کې د فصاحت او بلاغت نه ډکه موعظه خلکو ته اوروله، دا ایت شریف یې ولوست اطیعوالله واطیعوالرسول واولوالامر منکم، ددې ایت په تفسیر کې یې خلکو ته وویل : ای خلکو دروږ اندو او روښانه علماو څخه اطاعت وکړی، ځکه چې موږ پوه لرو، چې څرنګه خلک دخیر، نیکی او سولی لاری ته راوبولو، او د فحشا منکرو او بدو لارو څخه یې وساتو، هغه وخت چې اعلحضرت امان الله خان غازی هغه خپل حضور ته راوغوښت او غوښتل یې چې هغه وویروی. مولوي صاحب په هماغه اخلاقی زړه ورتوب سره چې دده. عادت وو، دخپلی موعظی څخه یې په د لایلو سره د فاع وکړه او نوموړی اعلحضرت یې قانع کړه.[10]

هغه څه چې خدای بخښلی میر قاسم خان ددغو دواړو ورونو په هکله ویلي و په پورته ډول راوړل شول، او زه یې په لاندینو کرښو کې نورهم ښه درپېژنم:

ددې دواړو ورونو پلار مولوي عبدالروف مو دسراج الاخبار افغانستان دټولنې په بحث کې وپژانده او لوی ځوی یې مولوي عبدالواسع لکه څنګه چې میر قاسم خان ویلې، پوه او لوی عالم و، چې زیږیدنه یې په کندهار کې د ۱۲۹۰ ق کال په شاوخوا کې وه، نوموړي د امیر حبیب الله خان د امارت په وروستیو وختو کې دکندهار دلومړنیو ښوونځیو ستر رشته دار او دازادي دجهاد دبیرغ

۱۰ د میر لیکنه یا مقاله



لرونکو مجاهدینو څخه و، دغازي امان الله خان د پر تخت کښناستلو څخه وروسته کابل ته راوغوښتل شو، او دترکي متخصیصنو بدرین بیګ[11]

سره یوځای یې د قوانینو او شورا په اداره کې یې د قوانینو د ترتیب او دمحمدی(ص) دشریعت سره دهغي دتطبیق چاری یې پر مخ بیولی، لکه چې د اکثرو مشهوره قوانینو د۱۲۹۹ ش کال څخه راوروسته دپادشاه د لاسلیک سره یوځای دخادم العلما محمد عبدالواسع کندهاری لاسلیک هم لیدل کېږي، هغه پدی دوره کې دقاضیانو او حکامو دښوونځیو په جوړولو کې هم ډیر کوښښ وکړ او د هغوي دشرعیاتو استاد و، ۱۳۰۰ ش کال . او په ۱۳۰۱ ش کال د لړم په میاشت یعني ۱۹۱۱ م کال په اکتوبر کې دکابل دارګ په شمالي برج کې دمولوي عبدالواسع په ریاست پښتو مرکه پرانستل شوه، او دیوازني پښتو او پښتو پښویه (ګرامر) دکتاب په خپرولو یې لاس پوري کړ، له دې وروسته ۱۳۰۲ ش کال دلړم په میاشت کې دمحکمو ریس و، تر څو چې د۱۳۰۵ ش کال په شاو خوا کې د شرح اولو الامر دوینا دکولو پربنسټ او د امان الله خان ددرباریانو په دسیسه دکابل په کوتوالي کې دیوه کال لپاره بندي پاتي شو، کله چې خلاص شو، کندهار ته ولاړ او ۱۳۰۷ ش کال په اړو دوړ کې یې دسقاو د ځوی په مقابل کې د امیر امان الله خان په طرفداري شرعي فتوا صادره کړه، ولي کله چې د۱۳۰۸ ش کال دجوزا په میاشت کې د بچه سقاو لښکر و کندهار ونیوه، نوموړی

۱۱ وفات په کابل کي د ۱۳۰۲ ه ش کال د ثور په ۱۵ نیټه.

یې د اماني دوري دنظامنامو دترتیبولو په جرم زنځیر او زولانه کابل ته راواستوه، کله چې دسقاو ځوی د هغه څخه د فتوا د صادرولو علت و پوښته، هغه په ډېر جرأت او رشادت سره ورته وویل: د دې لپاره چې تاسو د سلطنت غصب کوونکی او قطاع الطریق (شوکمار، لارې وهونکی) یاستې، نو باید شرعا په قطع په محکوم شئ! بچه سقاو د دې خبرې په اوریدو سره په قهر شو او د دی د وژلو امر یې ورکړ او د کابل په شیرپور کې د توپ خولې ته وتړل شو، (د ۱۳۰۸ش کال د جوزا میاشت). د ده د ډېرو مهمو تالیفاتو څخه یو هم دوه ټوکه د تمسک القفأت کتاب دی چې د هغې لومړی ټوک د حقوقو څخه بحث کوې او دوهمه برخه یې د جزا د احکامو درلودونکی ده (د ۱۱۱۳ مادو درلودونکی په ۱۳۰۰ش کال کې د کابل چاپ).

۲. د قران د نزول په فلسفه کې اسلامې حکمت او د پیغمبر (ص) د بعثت اهداف او اسلامې دین او دنیوې مبانې د ۱۳۳۴ق کال د ربیع الثاني ۲۴ او له دوهمه برخه، چې د هغی یوه خطې نسخه د کابل په ملې ارشیف کې موجوده ده، ۷/۲۸ نمبر.

۳. اسلامې حکومت: د اسلام له نظره د حکومت د تشکیلاتو او اداري په برخه کې، چې د ۱۳۰۸ش کال په اړو دوړ کې د هغی خطې نسخه له منځه ولاړه، هغه د اسلامې حکومت په پای کې وایې : د اسلامې حکومت په نامه جلا رساله هم لیکل شویده

۴. په دري، پښتو او انګلیسې ژبو د سوره فاتحي او بقري تفسیر (چې خطې نسخه یې د دې کرښو د لیکونکی سره وه، چې په ۱۳۳۹ش کال کې په کراچی کې د پاکستان د پولیسو له



خوا له منځه ولاړه،) د هغی انګلیسې ژباړه د پښتو مرکې غړی عبدالرهاب کاموی کړی وه په ۱۳۰۰ش کال.

۵. د دینیاتو اساس عنوان د قراني اسلامې فلسفې په تعلیمې مضمون کې د کابل چاپ په ۱۳۰۰ش کال.

۶. د خدای پېژندنې رساله چې د اسماالحسنی پر معانیو مسشتمله ده کوچنی قطع د کابل چاپ په ۱۳۰۰ش کال.

۸. په پښتو ژبه د تعاون منظومه د کابل چاپ په ۱۳۶۲ش کال کې.

۳. مولوي عبدالرب:

د مولوي عبدالرؤف دوهم ځوی دی چې په کندهار کې په ۱۳۵۹ق کال کې و زېږید، او په اسلامې علومو او عربې ژبه کې یې خپلې علمې زده کړی د خپل پلار په مخکې بشپړې کړی. او د امیر حبیب الله خان په عصر کې د حبیبې مدرسې د اسلامې فلسفې د دینیاتو استاد و او په شاهې مدرسه کې یې هم تدریس کاوه او د لومړی مشروطیت په غورځنګ کې بندي شو، ولې له خلاصیدو څخه وروسته د ښوونځیو په جوړولو او د نوی پوهنې په پراختیا کې یې پوره لاس درلوده د پوهنې د شورا غړې او د کابل د لومړنیو ښوونځیو او دارالمعلمین مدیر و، (۱۳۳۰ق کال په شاوخوا کې).

هغه یو له هغو لیکوالو څخه دی چې د محمود طرزې په سراج الاخبار کې یې دینې مضامین په اسلامې فلسفه کې د څېړنې په نوی سبک سره خپرول. کله چې پلار یې مولوي عبدالروف په ۱۳۳۳ق کال کې مړ شو هغه د امیر په دربار کې د چرمنورد ملا ) په توګه ډېر شهرت پیداکړ او د امیر سره په وروستی سفر کې چې د

Library

لغمان په کله گوش کې ووژل شو په ۱۳۳۷ق کال د جمادی الاول په ۱۸ چې د ۱۹۱۹م کال د فبروری د ۲۱ سره سمون خوري د پنجشنبې په شپه او هغه هم په جلال اباد کې په همدغه شپه د محرقې په تبه (وچکی) او ترسام سره و مړ او په همغه ځای کې ښخ، کړای شو.

د امان افغان جریدې په خپله لومړنی گڼه کې چې په ۱۲۹۸ش کال د حمل په ۲۳ نېټه چې د ۱۹۱۹م کال د اپریل د ۱۲ سره سمون خورې خپر شوی. د خدای بخښلی عبدالهادي د اوبي په قلم داسې لیکلي چې د هغه د شخصیت ښه پېژندونکی دی:

" د کابل د لومړنیو ښوونځیو او دارالمعلمین مدیر او د شهید اعلحضرت د حضور ملا د قدر وړ جناب مولوي عبدالرب خان چې د حبیبې په ښوونځي او نورو لومړنیو ښوونځیو کې یې د قدر وړ خدمتونه کړي و په جلال اباد کې د وچکی په ناروغۍ اخته او په پای کې پر شام شوې او د حق د رحمت سره یو ځای شو... په حقیقت کې یوه لویه علمي ضایعه وه... چې د ده په له منځه تلو سره د شریعت د ریاست مقام په هېواد کې خالي پاتې شو... د ده پاتې کسانو ته تفریت او ډاډگېرنه ورکوم... (امان افغاني ۱۰مخ لومړی گڼه د ۱۲۹۸ش کال د حمل یا وری ۲۲ د کابل چاپ.)

د مولوي عبدالرب تالیفات زیاتره درسي کتابونه دې چې د بیت العلوم حبیبه او نورو ښوونځیو کې د تدریس لپاره په دري ژبه لیکل او چاپ شویدي. لکه:

۱. سراج العقاید د کابل چاپ د لومړنۍ ښوونځي د پنځم ټولگی لپاره.



۲. دینیات په څلورو ټوکو کې د کابل چاپ د لومړنۍ ښوونځی د څلورم ټولگیو لپاره یعنې د اول څخه تر څلورم ټولگي پورې.
۳. سراج الاتفات، خطي نسخه د کابل په ملي ارشیف کې.
۴. رساله اطاعت او لوالامر د کابل چاپ.
۵. مقدمه فلسفه اسلامیه (خطي).
۶. سراج السیر درسیر نبوی (ص) د لاهور چاپ د منځنیو ښوونځیو لپاره.
۷. د اسلامي فلسفي او تفسیر په هکله په سراج الاخبار کې بېلا بېلې مقالې.
۸. سراج الفقه په دوو ټوکو کې د کابل چاپ ۱۳۳۱ق کال.

۴- مولوي غلام محی الدین افغان:

اصلا د کندهار د جمریاني د قوم څخه و او د حبیبې په مدرسه کې ښوونکی و، د هغه کورنۍ په پېښور کې اوسېدله، او د میوند دفاتح د سردار محمد ایوب خان د هېواد څخه د شړل شوې ډلې څخه و هغه د هند په کالجونو کې تحصیل وکړ او د ۱۳۲۴ق کال په شاوخوا کې بېرته خپل هېواد ته راستون شو هغه مجرد، ازاد او خوش مشربي سړی و، چې د کابل د شور بازار د پېښوریانو په سرای کې اوسېده، ملگری یې همیشه د هغه په کوټه کې راټولېدل، چې د کلوب ښه یې ځانته غوره کړی وه، په هغه ځای کې یې دیگچه پخوله او سطرنج یې کاوه، او کله، کله به یې علمي، ادبي او سیاسي بحثونه سره کول [12] افغان د سراج الاخبار د لیکوالو او د پښتو شاعرانو څخه هغه یو تن دی چې د محمود طرزي سره ملگری

[12] د میر مقـه یا لیکنه.

Library

و او همیشه به یې قلمي همکارۍ ورسره کوله او محمود طرزي د سراج الاخبار په یوه ګڼه کې د ده په برخه کې داسې لیکلي و:

" یو عالم د افغاني علم، افغاني نژاد او زموږ د هېوادنی ژبې سره جناب مولوي غلام محی الدین افغان دی چې د دارالمعلمین د مدرسي مشر دی چې په ختیځو ژبو یعنې پښتو، فارسي او عربي سربېره د هندوستان په بېلا بېلو ژبو لکه اردو، ګورمکهی ساسترۍ، سنسکریټ او نورو ژبو باندې تر هغه حده پوهېده چې ژباړه یې پرې کولی شوه.

" د معرکه مذهب وساینس " کتاب چې جناب محترم شیخ شبلي نعماني هغه په اردو ژبه ژباړلی دی، دغه زموږ افغاني پوهه شخص په فارسي ژبه ژباړلی دی..."[۱۳] افغان په لومړی مشروطیت کې په ۱۳۲۷ ق کال کې بندي شواو دیوه څه وخت څخه وروسته ازاد شو، ددارالمعلمین مدیر، ملت دوست، شاعر او ادیب سړی و،[۱۴] چې پښتو اشعار او فارسي مقالې یې په سراج الاخبار کې خپریدلې.

افغان پالونکی او ګران شخصیت درلوده او همیشه د روڼ اندو ملګرو او دافغان ځوانانو د را ټولېدو ځای و دهغه څخه به یې څه زده کول او هم به یې ورڅخه څه اوریدل، لکه څنګه چې د ۱۳۰۰ ش

[13] محمود طرزی مقالې ۶۲۵ دکابل چاپ ۱۳۵۹ ش کال. پدې ځای کې خدای بخښلي محمود طرزي سهوه شویدې دمعرکه مذهب او ساینس دکتاب اردو ژباړه دلاهور د زمیندار مدیر او دشلمی پیړی دلومړی نیمایې کې د هند د مسلمانو دیوه مشر مولانا ظفر علي خان ده چې په هغه وخت کې په هند کې چاپ شوې دې او دا دولسیم دراپر داثر ژباړه ده چې نوموړی یوتن امریکایې مورخ او مولف دي،

[14] مولوي محمد حسین: په اردو ژبه دافغانستان انقلاب (۹۲) دجالندهر چاپ ۱۳۰۹ ش کال.



کال د اسد یازمري په دولسمه دچا رشنبي په ورځ په کابل کې مړ شو او خپل ټول عمر یې په مجردی کې تیرکړ، دده دهمدغه محفل ملګرو او پالونکو دده جنازه په ډیره خواشینی او احترام سره واخسیتله او دشهدای صالحین په عمومی هدیره کې یې خاورو ته وسپارله، او دده دقبر لوحه دلومړي ځل لپاره په پښتو ژبه دده دشخصیت دپېژندنې کتبیه ولیکل شوه چې دهغې متن دادی:

" مولوي غلام محی الدین افغان په قندهار کې متولد شو او هلته یې دیني تعلیم حاصل کړ. پس په معیت د سردارایو بخان په راولپنډی او لاهور کې یې دفرار په حالت کې له انګریزي مکتبو څخه جدید تعلیم واخیست. چې بېرته کابل ته راغی. دامیر حبیب الله خان په عهد دمکاتیب ابتدائیو ممتحن مقرر شو، پس له خدمت دځوارلسو کالو دمصارف، دامیر امان الله خان غازی په روشان دوران کې مدیر ددارالمعلمین شو، او هغه خیالات او ارادی داصلاح او ترقی دملت چې ددولس کاله پخوایې په مجلس دجان نثاران اسلام کې معاقده کړي وي، دظل الهي تر سیوری لاندې په خپله ثمر ته ورسید. په اکیف مطمئن او راضی دعباد الله په خدمت کې داخل، په اجل دوباي هیفه و پروردګار ته راجع و. او هغه دټولو خښتن په جنت کې داخل کړ.

چې په یار پسې تر ځان او جهان تېروي
څوک کولې شي داهسي مشقعت

دوعا د (ځوان افغان) په یاد دهغه دوطن دوستي او وفا له زړه خیژی. دشپیتو کالو دصلاح او تجرد او ځوانی په ژوند کې ملګري د ځوانمردانو، اهل او صالح دهر مشرب و، چې ټول یې امر زش غواړي.

l Library

بـروز مـرگ کـه یـوم وصـال یـا رانیسـت
کسیکه دست من ان دم گرفت یا ر انست

تاریخ وفات چها رشنبه ۱۱ اسد سنه ۱۳۰۰ ش مطابق ۲۸ ذیقعده الحرام ۱۳۳۹ هجری."
دافغان دافکا رو او اثارو په اړه دي د( افغان یاد) د مقالو مجموعي ته چې په ۱۳۶۱ ش کال کې په کابل کې دادبیاتو پوهنځی له خوا چاپ شوي او همدارنګه د( دغلام محی الدین افغان افکا رو او اثار) رسالې ته چې دکا بل پوهنتون د ۱۳۶۰ کال چاپ دي مراجعه وشي.

**۵ _ عبدالجلال خان:**

دا دکندهار دخلکو او دمولوي غلام محی الدین افغان دترور ځوی و، چې دمشروطه غوښتونکو دټولنې سره ملګری و، او هغه هېواد غوښونکي، حلیم او با فکره سړی و، په ۱۳۲۷ کال کې په شیرپور کې بندي شو، او دامیرحبیب الله خان دعصر تر پایه بندی پاتی شو[۱۵] جلال خان چوپ اومتحمل لاکن بیدار شخصیت درلوده. د اوږدمجیل د ډیرو سختیو دګاللوله مخه وروسته دامان الله خان دپرتخت کښناستلو څخه وروسته په ۱۲۹۸ ش کال کې خوشي کړي شو او کندهار ته ولاړ او دکندهارپه شاه بازار کې یې دچینې خرخولو هتی درلودله، او دوړن اندو په منځ کې دقدر وړ و او د ۱۳۱۲ ش کال تر شاوخوا پوری ژوندی و.

15 دمیر مقاله یا لیکنه.



**۶ _ پروفیسر غلام محمدخان:**

هغه دمیمنې دازبکو دپوی متفذی او مشهوری کورنۍ دلومړی مشروطیت دغړو او دوخت دروڼ اندو څخه و، چې هنرمندي، پرمختیا غوښتنه او لوړ افکار دده په طبیعت کې اخښل شوی و او په نقاشي کې لوړ مقام درلوده، چې په سراج الاخبار کې دده هنري اثاراوکاریکاتو رونه خپریدل، او دامیر عبدالرحمن خان دکورنۍ سره یې وصلی قرابت هم درلوده .
لکه څنګه چې وویل شو: هغه د مشروطه غوښتونکو عریضه په جلال اباد کې امیر ته یوړه، مګر هلته دنورو مشروطه غوښتونکو سره یوځاي بندي او زنځیر او زورانه کابل ته راوستل شو، او په کوتوالی کې بندي شو، او هره ورځ به دیوساتونکی سپاهی سره دنقاشي دکار لپاره ارګ ته راوستل کیده، تر څو چې داماني سلطنت په اولو وختونوکې خوشي کړای شو او دخپلو هنري تحصیلاتو د اد امي لپاره برلین ته واستول شو.
ددې لپارد چې په هنرمندي کې پوره استعداد درلود، د لږ وخت وروسته د رسامي او نقاشي په هنر او دښکلو هنرونو په بیلابیلو ډولونو کې د پروفیسري درجې ته ورسیده، کله چې کابل ته راغی، د هغه ښه هر کلی وشو او دنفیسه صنایعو ښوونځي یې جوړ کړ، او ډیر شاګردان یې وروزل، او په خپله هنري څانګه کې دا ستادي او ښوونکي د لوړ مقام درلودونکي ؤ.
پروفسیر دازادي غوښتونکو او پرمختیا غوښتونکو ځوانانو په کړیو کې د ژوند تر اخیرو شیبو پوري دیوه ممتاز، مهربان او پالونکي شخصیت په توګه پاتی شو، ډیر زده کوونکي او اخلاص مندان یې درلودل، دیوه اوږده بند د ډیرو تر خو د زغملو سره سره

Library

بیا هم ځوان، ژوندی زړور روڼ اندی او ازاد خیاله پاتي و، او دپوهني وزارت او د هنري تدریس دکړیو دغړو څخه شمیرل کیده.
دده مړینه په کابل کې د۱۳۱۳ کال د لیندی یا قوس په ۱۴ وه او دعاشقانو او عارفانو په هدیره کې ښخ کړي شوې دی، (دده د کورنۍ او پلارینې عبدالباقي خان دسوابقو په برخه کې دې د سراج التواریخ دریم ټوک دکابل چاپ ۱۳۳۳ ق کال ته مراجعه وشي.)
۷ _ کاکا سید احمد خان لودین کندهاري:
هغه دکندهار دلودین دسیاستوالو او سوداګرې مشهورې کورنۍ دفیض محمد خان ځوی دی، چې دکوچینوالی څخه یې دامیر شیرعلي خان په عصر کې په حربي ښوونځی کې درس لوستي، او عالم او پوه شخص تري جوړ شوي و.
کله چې دحساب (شمیر) په علم کې یې دخلاصته الحساب کتاب په دری ژبه ولیکه چې چاپ نشو.
ده دسواد زده کړي په ښوونه کې په څپل نوښت سره داسي طریقه رامنځته کړه چې په پوهنه کې د (کاکا په طریقه) یې شدت پیدا کړ، او دا هغه لومړنی بدلون و چې نوموړی دسواد زده کړي لپاره د لومړني تدریس په طریقه کې رامنځته کړ، چې تر دغه وخته پوري بغدادي قاعده معمول وه، چې ماشومان یې ژرنه با سواده کول.
کاکا چې دکابل د روڼ اندو او دمشروطه غوښتونکو ملګرو دیوی ډلي رئیس و، د اماني دوری (۱۲۹۸ ش) پوری په ارګ کې بندي پاتي شو[16] او په همدغه یوولسو کالو دجیل کې یې دسواد زده کړي ځانګړي طریقه ترتیب او تطبیق کړه. مولوي محمد حسین دهغي نوم په ښه توګه یادوي، او هغه د جیل د وخت څپل ملګر ی، اروا

۱۶ د میر مقاله یالیکنه.



پیژندونکي او مهربانه ګوته نیونکي سړي په توګه پېژني چې د فوق العاده ثبات او فکر لرونکي، په فارسي او عربي ژبو پوهه او په ریاضي کې ماهر او پوهه و، په جیل کې یې بندیانو ته دسواد درس ورکاوه، او په هغه طریقې سره چې په خپله یې رامنځته کړي، وه ډیر نوی دسواد زده کوونکي یې باسواد کړل، او دکاکا همدغه طریقه د (قاعده نادره) په نامه په اردو ژبه ژباړل شوي او رواج یې پیدا کړ[17] کاکا په خپلي ربنتیا ویلو او دلهجي په صراحت سره داماني عصر تر منځني وخت پوري دخلکو او دربار په منځ کې محترم او ښاغلي و، او په زیاترو علمي او ادبي ټولنو کې یې ګډون درلود، او دده په وینا او مشوره به کارونه کیدل، تر څو چې د۱۳۰۶ ش کال دحوت یا کب دمیاشتي په ۱۴ د یکشنبی په ورځ د کابل په توبچی بڼ کې مړ شو، پداسي حال کې چې ډیر شاګردان او ارادتمندان تری پاتي شول، عمر یې د اویا کلو څخه زیات و، دده دښخولو ځای په شهدای صالحینو کې د محمد رفیق خان لودین په هدیره کې دی.
۸_۹ _ سردار عبدالرحمن خان او سردار عبدالحبیب خان:
دسردار عبدالوهاب خان امین المکاتیب ځامن هم دروڼ اندو او پرمختیا غوښتونکو ځوانانو له ډلي څخه و. چې یو څه وخت یې دهیواد څخه د باندی په تبیعد کې هم تېر کړي دي، او بیرته کابل ته راستانه شوي و. او د مشروطیت په غورځنګ کې لاس درلوده.
دا دواړه وروڼه دمشروطه غوښتونکو ملګرو دیوي فرعي جرګي په سر کې ځای درلوده چې شهزاده امان الله خان هم په همدی ډله کې شامل و، او دغه دواړه دنورو مشروطه غوښتونکو سره یو ځای په

۱۷ محمد حسین : د افغانستان انقلاب ۹۴ .

Library

راڅ کې بنديان شول، لاکن دکورنۍ رسوخيت له مخي ژر خوشي کړي شول، او دپوهني او قانون دپراختيا دمحرکينو څخه و،[18] عبدالرحمن خان د امير حبيب الله خان ددوري په پای کې په هند ( دهلی ) کې د افغانستان سفير و، او په اماني دوره کې په اماني لومړني کابينه کې سردار عبدالحبيب خان په ۱۲۹۸ ش کال کې دپوهنی وزير، او عبدالرحمن خان د بهرنيو چارو د وزارت مستشار او دفراه حکمران و، دده زيږيدنه په ۱۲۸۹ ق کال کې او مړينه يې په فراه کې په ۱۳۱۳ ش کال کې وه، وايې په هغه توګه کې چې مشروطه غوښتونکي ملګري په کابل کې سره را ټول شوي و او داسي فيصله يې کړي وه چې له دې وروسته بايد وسله وال وي ووېل شو چې: امير حبيب الله نه، بلکه رئيس عبدالحبيب!

نو دغه ټوکې ډوله خبره هم شيطانانو په خپله امير ته رسولي وه، نوله همدي کبله دربار په مشروطه غوښتونکو حملي وکړي او دا په خپله ددرباري دسيسه کوونکو يوه بهانه وه.

۱۰ _ بابا عبدالعزيز خان:

د امير عبدالرحمن خان دعصر غزني د مالي تر رشته دار دميرزا عطا محمد الکوزي کندهاري ځوی دي چې پوهه ماهر او ښه ليکونکي و، او دکابل په مطبعه کې يې د۱۳۲۳ ق کال په شاوخوا کې د ډېرين مصلح په توګه کار کاوه، دنستعليق او نسخ خط يې د کينې خوا څخه ښې خوا ته ډير ښايسته او واضح ليکه.

د مير قاسم خان په وينا هغه بادرايئه او جريح الهجه ځوان و، چې دتصارف له مخي د هغه نوم د لومړي مشروطيت دملګرو له ډلې

[18] د مير مقاله ياليکنه.



څخه پاتې شوي و او بندي نشو.[19] دا زړه ور اوتکړه ځوان ددوهم مشروطيت په غورځنګ کې هم شامل و چې د ۱۳۳۶ ق کال په شاوخوا کې بندي شو او په ۱۲۹۸ ش کال داماني دوري په پيل کې خوشي شو او کندهار ته ولاړ چې په اول کې دمطبعي کاپی ليکونکي او د ۱۳۰۱ ش کال څخه تر ۱۳۰۹ ش کال پوري دطلوع افغاني مدير او د ۱۳۰۹ ش کال دکندهار دښار دخلکو له خوا ملی شورا ته وټاکل شو لاکن د هغه مخالفت په وجه چې دشورا رياست ته يې دعبدالاحد خان وردک له ټاکني سره وکړه، هغه يې مسعفي کړ او ديوه څه وخت لپاره د بهرنيو چارو وزارت د مطبوعاتو مديرو، تر هغو پوري چې په ۱۳۱۲ ش کال دسنبلي ياوړي په مياشت کې دمحمد عظيم منشي زاده له خوا د برتانيا په سفارت باندي دحملي وروسته بندي شو او ۱۳ کاله د کابل د موتی سرای او دهمزنګ په زندانونو کې بندي پاتي شو.

هغه په ۱۳۲۵ ش کال کې خلاص شو اوکندهار ته ولاړ او په همدغه کال دکندهار د ښار د خلکو له خوا د همدغه ځاي د بلديې رياست ته وټاکل شو، د زوړوالي په عمر د ۱۳۴۲ ش کال په شاو خوا کې په کندهار کې مړ شو.

۱۱ _ استاد محمد انور بسمل:

د ناظر صفر ځوی او ديوی روڼ اندی کورنۍ څخه و، دا دحبيبې د ښوونځي د ممتازو شاګردانو ډلي څخه و هغه عالم، اديب ، شاعر اوروڼ اندی ځوش مشر به شخص و او د عمر له پلوه يې هم دځوانو مشروطه غوښتونکو د استادانو سره چنداني توپير نه درلوده، نو پدي خاطر يې د خپلو استادانو څخه هم درس زده کاوه او هم

[19] د مير مقاله يا ليکنه .

Library

دهغـوي سـره ملګـري او انـډيوال و، او نـږدي دوه کالـه د لومـړي مشروطيت په مسله کې پـه شـېرپور کې بندي و، او دخپـل پلار د نفوذ څخه په ګتې اخستني سره خلاص شو. هغـه عمـلا صـوفي ډولـه و، او په اسلامي او ادبي علومو کې لاس درلود، په هنري سبک يـې ښـه شـعر وايـه، د زړه وړونکـو اشـعارو پـه ځـانګړي ډول دغزلـو درلـودونکي دي، ددې لپـاره چـې پلار يـې نـاظر صفر پـه ۱۳۰۸ ش کال کې دقطغن او بدخشان د نايب الحکومـه پـه توګه وټاکل شو، بسـمل دخپـل پلار مرستيال و، پـه ۱۳۱۰ کـال کې پـه کابـل کـې د ادبي انجمن مدير وټاکل شو، چې د نادر شاهي رژيم پـر ضـد پـه پټـو فکري حرکاتو کې يې لاس درلوده، نو پدې خاطر دخپـل شاعر ورور محمد ابراهيم صفا سره يو ځای تر ۱۳۲۵ ش کال پوري په کابل کې بندي پاتې شو، کله چې خلاص شو، ديوه څه وخت لپـاره د مرستون (درالعجزه) ريـئس و، او وروسـتـه د مـاليې وزارت اداري ريـئس و، تر څو چې په ۱۳۴۰ کال کې دجدی يعنې مرغومي په دريمه نيټه پـه کابل کې مړشو.

بسمل او صفا دهندې سبک په اخرني پېړۍ کې د لومړيو شاعرانو څخه و دده بل ورور اختر جان پـه قرغي کې د اميرامـان الله خـان پـه وژلو کې لاس درلوده، هغه په هم هغه کال کې د پنځو تنو نـورو سره يو ځای اعدام شو، مولوي محمد حسين ليکي: ددې لپاره چې امـان الله خـان دمشـروطه غوښتونکـو ټولني تـه پـه اصـطلاح د اصـلاح غوښتونکو خطاب کـاوه، نـو پدې خـاطر يـې مـوږ ټول خـلاص کـړو، لاکن محمد [illegible] بسمل سره لـه دې چې دده ډېر ملګري او همفکره



وو د هغه د ورور اختر جان د جرم په سبب په بند کې پرېښـود تـر څو چې په پای کې دمولوي محمد حسين په يادولو خلاص شو.[٢٠]

۱۲ _ تاج محمد خان بلوڅ :

دکابل دروڼ انـدو څخـه وو هغـه يوپلټـونکي او، اوريـدونکی شـخص وو هغه دعلی محمد خان ځوی او دنـاظر عبدالوهاب خـان لمسـی او د محمـد شـريف خـان پغمـاني ورور، چـې د لمـړی مشـروطه غوښتونکو د فرغي ډلو څخه ديوي ډلي په سر کې يې کـار کـاوه، او هغـه وخـت چـې ددې ټولني مهمـو غـړو وسـله وال کـول او تفنګچـه درلودل تصويب کړل، د اليکلې مصوبه معوبـه، تـاج محمـد خـان تـه وسپارل شوه، دغـه مصوبه دده د ورور محمـد شـريف پواسـطه چـې دده سـره سـخت سياسّـي مخـالف او دحکومـت ګمـارلي وو دده لـه کورنـۍ اسـنادو څخـه وويسـتل شـوه او اميرتـه ورسـول شـوه [٢١] چـې دټـولي ټـولنې دبربـادی سـبب شـوه، غبـارد تـاج محمـد خـان نـوم دبنديانو په ډله کې راوړي دي،لاکن مير قاسم خان وويل، چې دملا منهاج الدين او عبدالحق د اشناي په اساس چې د موضوع راپور يـې امير ته ورکړي وو بنديان نشول، ځکه چې د هغه نوم يې د قلـم څخـه غورځولي وو.[٢٢] لاکن دهغه دبندي کيدو سبب د۱۳۳۷ ق په اواخـرو کې هغه تهديد ډوله خطونه وو چې د امير او د هغـه د ورور پـه نامـه ليکل شوي و،. تاج خان بلوڅ په اماني عصر کې هميشـه دروڼ انـدو لکه دسيداحمدخان د کاکا دځوي عبدالرحمن لـودين او داسـي نـورو

[20] محمد حسين انقلاب ۲۲۸

[21] غبار افغانستان در مسير تاريخ ۷۱۷

[22] د مير مقاله يا ليکنه.

سره ناسته ولاړه درلوده او ديو څه وخت لپاره د بلخ ددولت اباد ولسوال او دقطغن او هرات بهرنۍ مدير وو او دجنرالي درجي ته ورسيده، او د ۱۳۰۶ ش کال په شاوخوا کې په فراه کې د افغاني پوځ قوماندان وټاکل شو، چې دوسله والو بلوڅو په اوښانو دسپرو يو زرکسيزه مغرزه په چخانسور کې جوړه کړه، تر څو د مرکز په اشاره يا قوماندي سره اړتيا په وخت کې دشپي له خوا دبلوچستان په ساحل دګوادر په بندر يرغل وکړي شي، يا لاکن دغه کار د کورنۍ اړو دوړ په سبب تر سره نشو.

بلوڅ د اماني دولت د ړنګيدوو وروسته په کابل کې وو، ددې لپاره چې د اماني عناصرو څخه و او دانګليس پرضد شميرل کيدل، دمحمد نادر شاه د تخت دنيولو څخه څو ورځي وروسته غفبلتا ونيول شو او أعدام شو ۱۳۰۸ ش کال.

وايې چې پلار يې د امير عبدالرحمن خان سره يو ځای په بخارا کې فراري وو نو پدې اساس دده زېږيدنه هم غلته شوي ده، له هغي وروسته د نوموړی امير دشاهي په لومړيو وختونو کې (د ۱۳۰۰ ق په شاو خوا کې) بېرته کابل ته راغي او دقاضی سعيدالدين خان بارکزای څخه يې درس ووايه او دکابل په بالاحصار کې تحويلدار وو چې دلومړی مشروطيت په سری (پټه) ټولنه کې شامل شو،

۱۳ _ اخندزاده محمد اکبر اسحق زای کندهاري:

دمير قاسم خان په قول: هغه پوهه عالم و چې دمشروطيت په غورځنګ کې يې برخه درلودله او د امير حبيب الله خان ددوري تر پای پوري په شيرپور کې بندی و.



Library

۱۴ _ شير علی خان بارکزاي:

دا دسيستان د چخانسور د تنفذی او مخوري کورنۍ څخه و او دمشروطه غوښتونکو په ټولنه کې شامل وو نوموړی په ۱۳۲۷ ق کال کې دکابل په شير پور

کې بندي شو او د اماني په دوره کې ازاد شو،[23]

۱۵ _ مولوي محمد مظفر خان مروت:

مروت، دلومړی اودريم په فتحی او ددوهم په سکون سره، د پښتو نخوا د بنو او ديره اسماعيل په منځ کې د پښتنو ديوي قبيلي نوم دي. هغه په انګليسي هندکې خپلي زده کړي پای ته رسولي او دحبيبې په مدرسه کې درياضياتو او جغرافي داستاد په توګه موظف شوي، اودلومړی مشروطه غوښتونکو دټولنې غړي و چې په ۱۳۲۷ ق کال کې په شيرپور کې بندي شو. څوکاله وروسته په همدغه زندان کې په حق ورسيد.

۱۶ _ حافظ عبدالقيوم :

دحافظ چې نورمحمد مجذوب ځوی او دملا جانداد توخي لمسی چې ډير ذوقه، اديب او شاعر شخص و دا هم په شيرپور کې بندي شو، ددې لپاره چې پلار يې د سردار نورالله خان نايب اسلطنه دحافظانو د ټولنې غړی و او د هغې په وړاندي د احترام او درناوي وړ شخص ـ دوه کاله وروسته له زندان څخه ازاد کړي شو.

۱۷ _ مير زا عبدالرزاق:

دا دکابل ښار د نوي حمام د چهارستوق اوسيدونکي او د کابل دکوتوال د نايب ميرزا عبدالروف د ترور ځوی و او د ښه ليک او

[23] د ۱۴ څخه تر ۱۹ عدده پوری دمير قاسم خان دسند په قول او د ۲۰ څخه تر ۲۲ عدده پوری دغبار دليکني سره سم دي.

تکړه او ظریفو میرزایانو دډلي څخه و چې د امان الله خان غازي تر سلطنته پوري بندي پاتي شو.

۱۸ _ محمد حسین خان اڅکزایي :

دمشروطه غوښتونکو د ټولنې غړي پوه، تکړه او روڼ اندی شخص و او کله چې امیر امان الله خان پاچا شو دارګ دزندان څخه ازاد کړي شو.

۱۹ _ نظام الدین خان ارغندیوال:

دا د رښتینو مشروطه غوښتونکو څخه و چې دامان الله خان تر سلطنته پوري په ارګ کې بندي پاتي شو، اوله هغې وروسته ازاد شو دې اصلا د امیر دځانګړو غلام بچه ګانو څخه و چې په اماني عصر کې د امنیي وزارت مدیر او له هغې وروسته په المان کې د افغاني سفارت سکرتر وټاکل شو.

۲۰ _ حاجی عبدالعزیز:

هغه په لنګ زمین مشهور و دکابل دمخورو او دلومړی مشروطیت دغړو څخه و چې د لږ وخت زنداني کیدو څخه وروسته ازاد کړي شو.

۲۱_ صاحب زاده عبدالله مجددی:

هغه د لږ بند وروسته وبخښل شو او ازاد شو.

۲۳ _ ملا فیض محمد کاتب :

دسعیدمحمد ځوی او دخداداد لمسی و چې دغزني دمحمد خواجه له هزاره وو څخه و. دسراج التواریخ لیکونکي او د امیرحبیب الله خان دسوانحو لیکونکې دي. هغه پوهه لیکوال، روڼ اندی ادیب او دلومړی مشروطه غوښتونکو له ډلي څخه و، په شیرپور کې بندي شو، مګر پدي خاطر چې امیر هغه دشهزاده توب له وخته پژانده او د



l Library

سراج التواریخ په لیکنه کې یې دنده درلودله، له لږ وخت وروسته ازاد شو.[24] هغه د زو کړي کال ۱۲۸۹ ق دي.

دهغه قلمي اثار:

کاتب په رښتیا سره پر کاره لیکوال او عالم تاریخ لیکونکي و چې د ۱۳۲۰ ق کال په شاوخوا کې د امیر له خوا د تاریخ لیکلو لپاره ګمارل شوي،ددربار اسناد اونور هغه کتابونه چې ورته پکاروو دده په واک کې ورکړشول، هغه یو پنځ کتاب په دوو ټوکو کې د( تحفه الحبیب) په نامه ولیکه چې د احمدشاهي دعصر ټولي واقعې یعنې پېښې په ک، وي چې د ۱۱۶۰ ق څخه را وروسته تر ۱۲۹۷ ق پوری وخت یې په برکې نیوه، هغه ته دنده سپارله شوی وه چې د امیر عبدالرحمن خان دامارت د وخت پیښې د امیرحبیب الله دوخت دحالاتو په شمول دده تر خپل وخت پوري ولیکی.

کاتب دتحفه الحبیب دلیکني کار، چې دواړه ټوکه یې دده په خپل ښکلي نستعلیق خط په ملی ارشیف کې موجود دي، د۱۳۲۲ ق کال دشیوال په میاشت کې په ۸۸۵ مخونو کې دفل سکیپ په قطع پای ته ورساوه، چې دامیریعقوب خان د امارت په له مخته تللو او په ۱۲۹۷ ق کال کې دافغان او انګلیس ددوهمي جګړي په پای ته رسیدلو سره پای ته رسړی، او هغه په خپله امیر او دهغه د وخت مشهورو کسانو لکه سردار محمدیوسف خان د امیر دوست محمد خان ځوی، د قاضی القضات سعدالدین خان منشی محمدیعقوب او دوزیر اکبر خان منشی میرزا مومن چې تر دغه وخته ژوندی وو لیدلي وو او په حاشیو کې یې خپل نظرونه لیکلي دي. او پاتي

[24] دمیرقاسم مقاله

al Library

دکتاب لیکونکي ته خپلې اوریدني او لیدنې ویلي دي، او په ځینو برخوکې یې ځنیې اصلاحات راوستلي دي.
فیض محمد پدې کتاب کې ډیر پرکاره لیکوال دی چې دهغه وخت د ادبي موازینو او دلیکوالي ددو دسره سم دپیښو په لیکنه پیل کوی او کله هم خپل اومه مواد د( کلک در رسلک) په نامه یادوي چې دغه عبارت د امیر پاملرنه ځانته اړولي ده او ددوهم ټوک د ۳۹ مخ په حاشیه کې یې په سره رنګ لیکلي دي:
" ماشاالله ! کاتب به این عبارت چقدر رعونت وخود نمای اظهارنموده اند !!" ددغه طنز ډوله کلماتو په لیکلو سره یې په هغو کلماتو خط کښلي او په " مذکور گردید "سره تصحیح کړي دي.
په هغه ځای کې چې یوله دغو انتقاد کوونکو څخه چې لوړه سویه یې نه درلوده او ګوت نیونه یې کړي وه ، کاتب دهغي په مقابل کې په قوت سره دربړي دمثال په توګه چې ددوهم ټوک د ۱۰۴ مخ پرحوا شیویا غاړو چې دعبارت لیکلو داوږدوالي او د کلام د اوږدوالي اعتراض شوي دي هغه لیکي: " معترضه جمله چې دظالمانو په صفتونو مشتمله او دستمدیده ګانو د مظلومیت متغمینه ده دتنبه په توګه لیکل شوي ده ځکه چې ځای مې مناسب ولید اوومي لیکله، اوږدوالي په کې نشته [25] په همدې ډول فیض محمد چې دغوا مو خلکو څخه وو او دربارته یې لاره پیدا کړي وه طبعي ده په نظرکې یې درلودل چې په خپل کلام کې ستمدیده ګان یا مظلومان تمثیل کړي،او خپل طبقاتي وجدان ته تسکین ورکړي، لکه څنګه چې مې دکاتب دمعاصرانو څخه اوریدلي دي، هغه پدي لاره غمونه ولېدل او څو کاله ووهل شو، لاکن امیر هغه پرې نښوده

[25] نایل .دکتاب جمله (۱) ګڼه اول دکابل چاپ ۱۳۵۷ ش کال.



او هدایت یې ورکړ. چې هغه په نورو طرزونو چې دسراج لتواریخ شکل یې ونیوه راواړ وي.
چې دتخفي او سراج تر مینځ زیاتره پیښي او لیکني ګړي دي.
(۲) مګر سراج التواریخ:
چې دهغه دوخت دپوخوالي دکارونو او دژوندانه دتجربو څخه دي. د افغانستان ددولتي پیښود ثبتولو په برخه کې لومړني کتاب شمېرل کېږي، او دهغه نورو تاریخ لیکونکو لپاره چې غواړي خپل اثار دتاریخ لیکني دنوو موازینو سره سم ولیکي، دمعلوماتو ډیره ښه سر چینه شمېرل کېږي، ددې کتاب خطي نسخه چې په ښکلي نستعلیق خط په خپله کاتب پاک نویسي کړیده دکابل په ملي ارشیف کې موجوده ده، دهغې لومړي او دوهم ټوک په سربي طبع په کابل کې په ۱۳۳۱ ق کال کې په ۳۷۷ مخونوکې خپور شویدي.
ولي دسراج التواریخ دریم ټوک چې د افغان او انګلیس ددوهمي جګړي څخه را وروسته یعنې د۱۲۹۸ ق کال څخه د را وروسته پېښو درلودونکي دي د امیر عبدالرحمن خان دامارت په دوره پوري اړه لري چې د۳۷۸ مخ څخه تر ۱۳۴۰ مخ پوري یعنې ټول ۸۶۳ مخونه لري چې په ۱۳۳۳ ق کال کې دهغه دچاپ کار د کابل په حروفي مطبعه کې پای ته رسیدلي دي.
دریم ټوک یې د۱۳۱۴ ق کال تر پېښوپوري رسېږي او چاپ شوي دي. لاینځه کاله نورهم یعنې تر ۱۳۱۹ ق کال پوري لیکل شوي و چې چاپ نشو، په ۱۳۵۸ ش کال کې کله چې څوی یې محمد علي دده پاتي ټوني لیکني اواسناد په ملي ارشیف وپلورل ، دڅلورسوه مخونو په شاوخوا کې د امیر عبدالرحمن دعصر تر اخیره پوري

l Library

دکاتب پر خپل قلم لیکل شوي وو چې اوس په ملی ارشیف کې خوندي دي.

څلورم ټوک: لکه څنګه چې دکتوربهروز په ۱۳۹۱ ش کال کې ماته په مسکو کې وویل کاتب خپل تاریخ د۱۳۰۶ ش کال یعنې اماني عصر تر اتـ کال پوري ولیکه، د امیر عبدالرحمن خان وروستي شپږ کاله او د امیر حبیب الله خان دامارت ټوله دوره په یوه ټوک یعنې ددری زره مخونو په شاوخوا دمیرزا محمد قاسم خان کابلی په خط او دپوهني دوزیر فیض محمد خان په فرمایش او دتالیف او ترجمي د رئیس هاشم شایق افندي په لارښوونه لیکل شوي او دپوهني په کتابتون کې موجود وو، چې د امیرحبیب الله خان دوژلو احوال یې هم درلوده، لاکن اوس نه شته.

همداراز پنځم توک:دا ټوک هم په خپله دکاتب په خط دي او دامان الله خان دسلطنت داتو کالو او دری میاشتو حالات په کې درج شوي دي او د عبدالغفور غرقه سره لیدل شوي و، چې ددغو دوو اخیری توکونو سر نوشت معلوم نه دی.

۳ _ فیضي از فیوضات

دا هغه کتاب و چې فیض محمد هغه په ( ۱۳۰۶ ش کال) په کابل کې د ایران مختار وزیر مهدي فرخ ته ورکړي و، ده په خپل کتاب کې د افغانستان سیاسي تاریخ ( لومړي ټوک دتهران چاپ ۱۳۱۴ ش) له هغه څخه التقاط کړي، او ښکاره ده چې دداسي مطالبو درلودونکي دي چې فیض محمد هغه له خپلو یادداشتونو څخه لیکلي چې د افغانستان په داخل کې یې دهغه اظهارول نه غوښتل.



۴ _ تاریخ حکماي متقدمین از هبوطا دم تابعثت حضرت عیسی:

دپوهني وزارت په پریکړه درشدي ټولګیو لپاره په ۲۸۹ مخونو کې په کوچني قطع، دکابل چاپ ۱۳۰۲ ش کال.

۵ _ تذکرت الانقلاب :

دسقاو دځوی داړو دوړ او د اماني سلطنت د له منځته وړلو دورځو دورځینو پېښو څخه خپل دسترګو لیدلي حال د روزنا مچي په شکل لیکلي او هغه ګټور کتاب دي چې دکاتب د نورو پاتي شوو اثارو په جمله کې په ۱۳۵۸ کال کې د ملی ارشیف لپاره را ونیول شول او اوس هلته خوندي دي.

لکه څنګه چې مو پورته وویل: کاتب د امیر حبیب الله خان دعصر ټول احوال هم د۱۳۳۷ ق کال تر پایه پوري لیکلي و او د اماني دوري په لومړیو وختو کې هغه دفرمان په صادریدو سره چې اوس هم دهغه په اسنادو کې شته دیته وګمارل شو چې د اماني دوري پېښې هم ولیکلي او د بهرنیو چارو د وزارت څخه ورته سند ور کړ شوي و تر څو وکولي شي دارشیف اسناد وګوري.

دغه کاغذ هم دده په اسنادو کې موجود دي.

د اماني دوري ددربار وزارت د خطي مکتوب دیوي پاڼي څخه دا معلومه شوه، چې هغه دیوه هیئت سره په کتابت ټاکل شوي و، چې په هغي کې مولوي عبدالواسع کندهاري او بدري بیګ هم شامل وو چې دهېواد قوانین یې دشرعي موازینو سره برابرول ( ۱۲۹۹ ش کال).

دسقاو ځوی په ۱۳۰۸ ش کال کې کابل د شیعه مشرانو لکه: محمد علی جوارنشیر چنداولي، قاضي شهاب، خلیفه محمد حسین، استاد غلام حسین او فیض محمد په نامه فرمان صادر

Library

کړ، تر څو د ایزنګي ته ولاړ شي او د هزاره خلکو څخه دده په نوم بیعت واخلي. ددې لپاره چې هزاره خلکو د بچه سقاو تقلب ونه مانه، او دغه ډله دبیعت د اخستلو پرته کابل ته راستنه شوه، دسقاو ځوي په قهر شو، او د ټکولو لپارد یې ددغه بیچاره ګانو د وهلو او ټکولو امر ورکړ، چې فیض محمد هم ددغه وهلو څخه ډیر سخت ناروغه شو. او لدغه درد څخه په کابل کې له دې دنیا څخه سترګې پټې کړې، په داسې حال کې چې د پنځه زره پاڼو په شاوخوا کې چاپ او ناچاپ پاڼې یې دهېواد په تاریخ کې لیکلې، د مشروطیت په غورځنګ او دلیکوالې په دنده کې یې ربړونه او تکلیفونه لېدلي، او د وحشیانه وهلو ډبولو د ډیر تکلیف په لیدلو سره له دې نړۍ ولاړ. د( ۱۳۴۹ ش کال د روژې ۱۶ دچارشنبې ورځ یا ۱۳۰۸ ش کال).

۲۴ _ امرالدین خان:

یوله هغه شکمنو کسانو څخه چې دمشروطه غوښتونکو د افغاني او هندي ډلو تر منځ یې کار کاوه د غبار په قول[۲۶] امرالدین او د محمد حسین په وینا یې امرالدین نوم درلوده، هغه دپېښور په پولیسوکې مامور و، او د جرم دکولو په سبب هغه لدغه ځاي څخه افغانستان ته راوتښتېده،

او په جاسوسي، مخبري او فساد پیشګي یې شروع وکړه، په اماني عصر کې د جنوبي (نني پکتیا) حاکم اعلی وټاکل شو.[۲۷] او هلته یې هم په بدې اخستلو او نورو بدو اعمالو لاس پورې کړ، او دخلکو په عمومي غونډو کې یې دشریعت په ځاي قانون معرفي کړ چې په

[26] افغانستان در مسیرتاریخ ۷۱۹

[27] افغانستان در مسیرتاریخ ۷۱۹



دغه سبب د پکتیا خلک را وپارول شول ،[۲۸] او ویل به یې: چې اوس د شریعت وخت تیر شوي دي اوس د قانون وخت دي[۲۹] نو همدغه و چې دملاي لنګ یعنې ګوډ ملا په مشري په پکتیا کې په ۱۳۰۳ ش کال کې عمومي قیام پیل شو.

دغه شکمن فاسد او بدشخص د ۱۳۰۷ _ ۱۳۰۸ ش کلونو په اغتشاش کې د بچه سقاو دعمالو او ګمارل شوو کسانو غړي شو، تر څو چې په ۱۳۰۸ ش کال کې اعدام شو.

۲۵_ حاجی محمد اکبر یوسفي:

دا د کابل د روڼ اندو څخه و او په ۱۳۳۲ ق کال کې د ماشین خاني د تحویخان ې لیکونکي و چې په لومړي مشروطیت کې بندي او ژر بېرته خلاص کړي شو، او په اماني عصر کې د افغاني قونسل په توګه په بمبي کې یې په ۱۳۰۱ ش کال کې دنده درلوده او له هغې وروسته د سرحدونو رئیس او په هندکې وکیل التجاره و.

د۱۳۰۸ ش کال په لومړو دور کې یې د نادر خان سره کار کاوه، سردار محمد هاشم خان په لومړي کابینه کې څو میاشتې د سوداګري وزیر و.

ددې لپاره چې رازونه یې پټ و نشو ساتلاي، نوله څو میاشتو وروسته له کابینې څخه وویستل شو او په کور کښېنول شو، تر څو چې د ۱۳۲۰ ش کال څخه را وروسته د مشرانو دشورا غړي شو.

د۱۳۴۵ ش کال په شاوخوا کې په کابل کې مړ شو، او د سواتو د تطبیق کتا بچه یې د ۱۳۴۲ ش کال دقوس یا لیندي په میاشت کې د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوي ده.

[28] همدغه اثر ۸۰۵

[29] همدغه اثر ۷۱۷ او دمحمد حسین. انقلاب ۱۵۵

l Library

۲۶ _ میرزا محمد حسین:

دا په راقم اچکزایي مخلص او د کوتوالي لیکونکي هم غبار په قول ددې ټولنې غړي و. چې بندي شو او په ۱۳۳۵ ش یا ۱۹۱۴ م کال کې په زندان کې مړ شو دده داشعارو بیلګي په سراج الاخبار کې موجود دي.

۲۷ _ احمد قلي خان:

د چنراولو قز لباش او دستاره دولت (مخابراتو) مامور چې دا هم دغبار له قوله پیژنو.

۲۸ _ عبدالوهاب خان:

دغبار په قول د بلخ د مزاري کندک کرنیل.

۲۹ _ میرزا غیاث ا لدین:

د کابلي مستانشاه ځوي چې پلار يې متصوف شاعر او د اشعارو ددیوان خاوند و، هغه ددوو وروڼو سره تر اماني دوري پوري په شیرپورکې بندي پاتي شو(میر).

۳۰ _ ملا عبدا لحق:

ارغندیوال په اماني عصر کې د حبیبي د ښوونځي ددینیاتو استاد او د لومړني ښوونځي د څلورم او پنځم ټولګیو ددینیاتو د سلسلي مولف او هم د مشروطه غوښتني روڼ اندي عالم و، چې تر اماني عصره په شیرپور کې بندي پاتي شو. (مسیر).

۳۱ _ مولان خان:

بدخشاني چې د فرقه مشر دمحمد اکلیل خان مشر ورور او د مشروطه غوښتونکو د روڼ اندو څخه و، او په شیرپور کې بندي پاتې و. چې د اماني دوري په پیل کې خلاص شو، ورور يې محمد اکلیل خان د مزار شریف فرقه مشر د ۱۳۰۸ ش کال په اړو دوړ



کنې د مزار شریف په دهدادي کې ونیول شو او دسقاو دځوي دګمارل شویو کسانو په حکم ووژل شو. (مسیر).

(۵)

## ددربار غلام بچه ګان

لکه څنګه چې د بهیقي په تاریخ کې لولو: دکور (سرایې) غلامان، ددربار نیمه پوځیان چې د شخص سلطان او شاهي حرم په خدمت او ساتنه بوخت و، تاکلي تشکیلات يې درلودل. او د فخر ډک لباسونه يې اغوستل، چې د غزنوي عصر دهلمند دلشکري بازار د قصر په پاتي شونو چې په دیوالونو يې ددغي ډلي ځینې شکلونه پاتي دي،

په را وروسته وختونو کې تر احمد شاهي دوري پوري دغلامانو دغه ډلي دشاهي غلامانو، په کور کې پیدا شوي غلامانو او دکور غلام.[30] او په داسي نورو نومونو د فارسي او خراسان په دربارونو کې موجود و چې الفستون ددوې شمېر دسدوزو په دوره کې د قولاراقاسیان خاص تر مشري لاندي دیارلس زره تنه ښيي،[31]

د غلام بچه، جوړښت په خپله د افغانستان ددري ژبو جوړونه ده او ما په پخوانیو متنونو کې دهغي استعمال لېدلي ندي، دغلام کلمه هم دلته د (برده) یعني (مریې) معنې نلري، بلکه غلام په عربي ژبه کې هغه ځ' ته ویل کېږي چې تنکي او نوي ځوان وي او بروت يې

[30] محمود المنشي. تاریخ احمد شاهي ۱ _ ۱۹۷ او ۲۰۰

[31] سلطنت کابل ۲ _ ۲۳۴ ترجمه پښتو. د کابل چاپ ۱۳۶۱ ش کال

l Library

نوی راغلي وي او همداسي معمول و او په قران شریف کې هم دي معني راغلي دي.

غالبا چې د احمد شاهي عصر څخه را وروسته دغي کلمي په دربار کې رواج پيدا کړ او هغه چا ته ويل کېدل چې د شاهانو په دربار کې يې د چارو سمبالښت او پيش خدمتي دندي اجرا کولي.

امير عبدالرحمن خان دهېواد دمتفيذينو د قبايلو د مشرانو او مخورو خامن په خپل دربار کې د غلام بچه ګانو) په ډله کې داخلول، ددې لپاره چې ددغو مشرانو او مخورو زامن په دربار کې د يرغمل په ډول وي، تر څو چې پلرونه او دهغوي خپل خپلوان د مرکز د ا طاعت څخه سر غړونه ونکړي، دوهم دا چې دغه خانزاده ګان دلته د اسي وروزل شي چې د خانانو او مخورو په ادابو پوهه شي، نوي ژوند سره اشنا او دسواد خښنان شي، او په راتلونکي کې د هېواد په درد، دواشي. دغه ځوانان چې زياتره يې پې مخي او ښکلي و، او په دربار کې هم په ناز او تنعم کې ساتل کېدل. نو پدغه اساس د هغوي پلرونو ددغه حالت دقبلولو څخه سر غړونه نه کوله، او هم په خپله دغو ځوانانو د دربار دعيش او نوش سره له بلديدو وروسته نه غوښتل چې له دربار څخه جلا شي.

غلام بچه ګانو د شاهي ارګ په داخل کې ددربار دامنيت، دشاه او شهزاده ګانو د خوړو او لباس د ترتيب او شاهي حرم دندي په غاړه درلودي. نو پدي اساس ددربار او حرم د خلکو څخه د قدرت د خلکو او ددولت دغړو او شهزاده ګانو سره اشناو، چې په پاي کې کار پوهه هوښيار او تنظيمونکي اشخاص تري جوړيدل، او د همدغو عناصرو څخه و چې کله کله به ددربار د شاغا سي ګري ( د شاهي حرم او در بار د چارو کرده ګی) درجي ته هم رسيدلي. کله د



امير حبيب الله خان د شاهي حرم شاغاسي نيک محمد خان ګرديزي.

د لومړي مشروطيت د غورځنګ د پيل څخه ددې ټولنې د مخکښانو نظر در باري ځوانان ( غلام بچه ګان) ځانته راجلب کړي و.ځکه پدغه ډله کې با درکه او پوهه عناصر او د سياسي شعور درلودونکي شامل و، د ١٣٢٧ ق کال د صفري د مياشتي په نيولو رانيولو کې ددې روڼ اندو او ناکامو ځوانانو څخه ځو تنه ووژل شول، ددوهم مشروطيت په وخت کې د حالاتو په بدلولو، د امير حبيب الله په وژنه، او کله د امان الله خان پشان د روڼ اندي شهزاده په تخت کښناستلو او د هېواد د ازداي د بيرته تر لاسه کولو په کار کې يې هم پوره لاس درلوده. او محمد ولي خان د همدي ډلي مشر و چې د افغانستان د ازادي په اعلانولو سره ازادي د حاصلونکي دغازي امان الله خان له خوا د ا فغانسان د ګرځنده اوځانګړي سفير په توګه اروپا او امريکا ته واستول شو. ( ١٢٩٨ ش کال دوري٢١ ). له هغي وروسته په ١٣٠١ ش کال کې د بهرنيو چارو وزير او په ١٣٠٢ ش کا ل کې د حربي وزير او په ١٣٠٦ ش کال کې اروپا ته غازي امان الله د سفر په وخت کې دسلطنت د مقام وکيل، او د انګريزانو په ضد د هېواد پالني فعال غړي و، چې په ١٣٠٨ ش کال کې د نادر شاه په امر محاکمه او اعدام شو.

د غلام بچه ګانو له دغي ډلي څخه ډير مشهور ملکي او نظامي اشخاص رامنحته شوي دي، چې د اماني دوري په پېښو کې يې پوره ونډه درلوده، شهزاده امان الله خان او عليا حضرتي سراج الخواتين ملکي ( مورثي) د امير حبيب الله خان په عصر کې اکثر دغه سياستمداره غلام بچه ګان د خپلو طرفدارانو او اړوندانو په

l Library

کړې کې شامل کړي و، چې ددغه امیر د وژلو په پېښو او دغازي امان الله په تخت کېنناستلو کې لاس درلودلي و، د همدغه سربښندونکو ځوانانو له ډلي څخه و چې په لومړي مشروطیت کې یا ووژل شول او یا هم بندیان شول.

بنا کردند خوش رسم به خاک و خون غلطیدن
خدا رحمت کند ان عاشقان پاک طینت را

١ _ جوهر شاه غوربندي:

دربښتینو او هېواد دوستو څخه و چې اصلا غوربندي و، چې په هماغه لومړي ورځ په جلال اباد کې د دربار په د ننه کې د امیر په امر د تفنگچي پواسطه اعدام شو. وايي لکه څنگه چې امیر د ژوند په وروستیو شیبو کې هغه ته نمک حرامه وواېه، هغه ځواب ورکړ: " ما د افغانستان ددې غریبو خلکو نمک خوړلي دي، او دې خلکو ته به د ژوند تر اخره وفادار پاتي شم او پدې وفاداري کې خپل ځان قربانوم."

په المان کې افغاني محصل چې وروسته بیا په ١٣٢٩ش کال ) کې د فوایدعامي وزیر شو دیپلوم انجینر محمد اکرم پرونستا وویل: چې د تحصیل په وخت په برلین کې د ١٣١٠ ش کال په شاوخوا کې) د شجاع الدوله خان غوربندي ( پدې کتاب کې دې دوهم مشروطیت ته مراجعه وشي) چې په برلین کې اوسیده ورغلم، دده په خونه کې دیوه ځوان عکس لېده کېده، ماتري پوښتنه وکړه چې دا څوک دي؟ شجاع الدوله وویل: دادې دکاکا دشهید جوهر شاه عکس دي. هغه څوک چې د مشروطه غوښتني په لومړي غورځنگ کې قرباني شو، لاکن ما په خپله دغه گوته ( دښي لاس د شهادت گوتي ته په اشاري سره ) دهغه د ویني بدل د امیر څخه واخست.



دا مشهوره خبره ده چې د لغمان په کله گوش کې د امیر حبیب الله خان قاتل هم ددربار د فعالو غلام بچه گانو څخه همدا شجاع الدوله و، چې د امیر په وژلو سره یې دسسي د جلال اباد د حالاتو او دمعین السلطنته سردار نور الله خان د امارت ددعوا اطلاع په کابل کې شهزاده امان الله خان ته ورسوله. او د اماني تخت دنیولو په کار کې یې فعالیتونه وکړل، او دغازي امان الله خان پر تخت د کېنناستلو وروسته، په ١٢٩٨ ش کال په لومړني کابینه کې د امنیي وزیر. وروسته په ١٣٠٠ ش کال کې د هرات د تنظمید هیئت رئیس، او له هغي وروسته په ١٣٠٣ ش کال د کب په میاشت کې په لندن کې د افغانستان مختار وزیر و.

چې په ١٢٠٨ ش کال کې د اماني دولت د له منځه تللو وروسته برلین کې اوسیده، او په هماغه ځاي کې مړ شو.

٢ _ لعل محمدخان:

داد خاصو غلام بچه گانو په ډله کې د پخواني خزاندار د جان محمد خان کابلي ځوي و چې په جلال اباد کې ددري تنو نورو مشروطه غوښتونکو سره ددرباریانو پلاس اعدام شو.[32]

٣ _ محمد عثمان خان پرواني:

د محمد سرور خان پرواني ځوي چې ددربار دخاصو غلام بچه گانو غړي او د لومړي مشروطیت د فعالو غړو څخه یو تن و. او په جلال اباد کې توپ خولي ته وتړل شو،[33] دده پلار سرور خان د امیر شیرعلي خان او امیر عبدالرحمن خان ددربار دغړو څخه و[34] هغه د

---

[32] میر قاسم خان او غبار

[33] میر قاسم خان او غبار.

[34] همدغه ماخذ.

l Library

محمد ایوب خان کندهاري سره هند ته دتیښتې او په بهرنیو جریدو کې د مشروطه غوښتونکو د سرگذشت د خپرولو لپاره په سرحد کې ونیول شو او امیر ته راوستل شو. امیر په قهر شو او عثمان ځواب ورکړ:

" ځما د مرگ یا وژنې تکلیف له ځو دقیقو څخه زیات ندي، لاکن ستاسو محاسبه دایمي ده، ما نه غوښتل چې تاسو و وژنم بلکه غوښتل مو چې افغانستان اصلاح کړو." [۳۵]

۴ _ محمد ایوب خان کندهاري:

دا د تاج محمد خان پوپلزایي ځوی و کوم چې دکندهار دکابل بازار دیحي خان په کوڅه کې او سیده، دغه شخص دسردار ایوب خان سره یو ځای هند ته فراري شو،

او له هغې وروسته بیرته هېواد ته راغې دده ځوی ایوب د یوڅه وخت لپاره د چغانسور سرحدار او له هغې وروسته د حضور غلام بچه و، بیا د مشروطیت دقضیې دکشف نه وروسته د محمد عثمان سره یو ځای د جلال اباد څخه دهند خواته حرکت وکړ په لاره کې ونیول شول او دواړه په جلال اباد کې د توپ خولې ته تړل شول [۳۶]

د محمد ایوب یو ورور چې محمدعیسی نومیده او د میمنې د گرزیوان حاکم و د لومړي مشروطیت په دې قضیه کې لاس درلوده، چې بندي شو او په زندان کې مړ شو.

۵ _ پاچا میر خان:

هغه د لوګر او سیدونکي او د وزیرو د قوم د خانزاده گانو څخه د حضور غلام بچه و، چې له همغه وخت څخه یې د شهزاده امان الله

---

[۳۵] همدغه ماخذ.

[۳۶] میر قاسم خان او غبار



خان سره نژدې اړیکې درلودلې، دلومړي مشروطیت په غورځنگ کې د اماني دوري تر پیل پوري (۱۲۹۸) په ارگ کې بندي و. کله چې ازاد شو، د اماني دربار نژدې شخص شو، او د ډیر وخت لپاره د لوګر حاکم و، ده ددربار د خدمت کولو دسر پرستي او دولت ته د اطلاعاتو د رسولو دندې په غاړه درلودې. [۳۷]

دري تنه ۶، ۷، ۸ :

د دغو ویښو ځوانانو له ډلې څخه د غونډې مشر محمد ولي خان، میرزمان الدین خان بدخشاني او شجاع الدوله غوربندي هم و چې بندیان نشول لاکن په دوهم مشروطیت کې ددوې ونډه ډیره مهمه وه چې په راتلونکې کې به معرفي شي.

(۶)

## الف: د مشروطه غوښتونکو دلومړي ډلي یا د ټولنې مرامونه

د افغانستان دمشروطه غوښتونکو ډلې (ټولنې) یا دملت سر ښندونکو په ظاهره کوم ځانگړي او لیکلي مرامنامه نه درلوده، او یا دا چې موږ ته نده را سیدلې.

کله چې به یونوی غړي په دې ډله یا ټولنه کې شاملیده، په یوه فرعي او محدوده کړۍ کې د هغه اعتماد والي دهغه د اهلیت سره په نظر کې نیول کېده د هغې وروسته نوموړي ته په همدې کوچنې

---

[۳۷] میر قاسم خان او غبار

l Library

ډله يا کړۍ کې په قران عظيم او توري سره قسم ورکول کېده، او هغه دا لاندې غوره مرامونه په ځان منل:

١ ـ د اسلام د اصولو او د قر ان عظيم د تقديس اطاعت او د ټولو اسلامي احکامو منل.

٢ ـ د ملي حقوقو د لاس ته راوړلو او د ملت دا ستازود نظر لاندې د حکومت، د رژيم مشروطه کولو، د ملي حاکميت او د قانون د حکم د تامينولو لپاره هميشني او دوامداره کوښښ.

٣ ـ د ژوند د چارو په سموالي او د بدو او ناوړو عادتونو څخه په لري والي او يا ورته په بد ويلو باندې د خلکو د تلقين کولو په لاره کې کوښښ کول.

۴ ـ د افغانستان د ټولو قبيلو او قومونو تر مينځ ښه تفاهم او پخلاينه، او دملي يو والي ټينګښت.

۵ ـ د سولي او پخلايني له لاري د ملت د اصلاح کولو په لاره کې کوښښ نه دا چې د زور او د وسلي په استعمال سره .

۶ ـ د خلکو د ويښولو د وسايلو د مطبوعاتو د ښوونځيو او د پوهني عامول.

٧ ـ د خلک و د ازادو انتخاباتو له لياري د ملي شورا د مجلس ( جرګي) جوړول.

٨ ـ د افغانستان د ازادي او سياسي استقلال حاصلول، او د بهرني نړۍ سره د اقتصادي او سياسي اړيکو پراختيا ، ( ځکه په هغه وخت کې د افغانستان امير مکلف و چې د برتانوي هند له دولت پرته د نورو دولتونو سره سياسي اړيکي ونلري).

٩ ـ د ټولينز عدالت او مساواتو د اصولو ټينګښت.



١٠ ـ د صنعت او حرفت ( کسب) څخه دنوي مدنيت اساساتو پراختيا، د اوبو او برښنا او نورو سر چينو، دښارونو اونورو ودانيو جوړول.

دغو لسو مبداو ته هغوي په قراني تعبير سره ( تلک عشبره کامله ) ويل. ددې ټولني مخکښانو دا عقيده درلوده چې تر خپلي وسي دسولي، سلم او د خير غوښتني دتلقين له لياري خپل مرام مخ په وړاندې بوزي. او د وخت امير دپوهني عاملو، ددولتي چارو د اصلاحاتو قبلولو او د ظلم، زور او استبداد له مخته وړلوته تشويق کړي، او خنډونه د ښه او خير په فکر کولو او د امنيت په ټينګښت سره له مخته يوسي، او پدغه لاره کې لږه ځاني قرباني ورکړي. ځکه د هېواد د ځوانانو په منځ کې روڼ اندي، فهيم او پوهه کسان کم و، او دغه هر ،وه يو قيمت يا بيه درلوده، نو پدي اساس د ځاني تلفاتو څخه مخنيوي کول او د احتياط څخه کار اخستل عبدالجلال خان او با با عبدالعزيز خان کندهاری څخه اوريدلي و، چې د شهيد مولوي عبدالواسع او عبدالرحمن لودين خبری هم هغه تاييدولي.

## ب : د مشروطه غوښتني د ټولني نښان يا سمبول

د افغانستان د مشروطه غوښتونکو ټولنه چې دملت د سر ښندونکو په نامه هم ياده شويده. کوچني فرعي جرګه ګي يا کړۍ درلودي او په کلي توګه د تولني ټول غړي يې نه پېژندل، هري فرعي جرګه ګې يو مشر در لوده، او د هغوي دغه غونډي هم ددغو جرګه ګيو د غړو په کورونو کې په پټه توګه جوړيدي. کله چې د جرګه ګی غړي سره راټوليدل، او په خبرو اترو يې پيل کاوه قران عظيم يې په خپل منځ کې ايښود. چې په هغه باندې يو قلم اوتوره هم وه. . د ټولنې دغه نښان د بترک علامه اُو د اسلام ددين او د قران عظيم د لاربښوونو اُو

al Library

احکامو قبلول دي او د هېواد د استقلال د لاسته راوړلو لپاره پرتوره تکيه کول وو او قلم د پوهې غوښتنې او د پوهې خپرولو او عامولو نمايندګي کوله چې دغه دواړه يې د قران شريف په وجود سره بترک کول.

دغه نښان دغازي امان الله خان د تخت کښناستنې څخه را وروسته د پوهنې وزارت لپاره وټاکل شو، تر څو د هېواد د سر ښندونکو او د پخوانيو مشروطيت غوښتونکو د هېواد غوښتنې د مرام ادامه وي.

د پوهنې وزارت رسمي ليکونو (مکتوبونو) او خپرونو د يو څه وخت لپاره دغه نښان وساته، او د (معرف معارف) يوې مياشتنۍ خپرونې هم تر څو کالو پورې دغه نښان درلوده، او حتی چې د پوهنې دزده کوونکو د ځانګړې خولۍ لپاره هم د قلمي (رصاص) له مخې نښان په همدې شکل جوړ کړي و.

دغه نښان د (نظامنامه نشان های دولت عليه افغانستان) د برلين چاپ ۱۳۴۱ ش کال په کتاب کې داسې راغلي دي:

د غنمو د وږو په يوه دايره کې چې پورتنۍ برخه يې خالي ده يو مستطيل شکله کتاب دي چې لاندينې پښتې يې دليدونکي خواته ده دهغې د ښي خوا په اخرنۍ برخه کې هغه توره پرته ده چې د لاسې (دستی) برخه کې د کتاب په لاندينې برخه پرته ده، او دکتاب په بهرنۍ کينه زاويه باندې يوه مشواڼۍ ديوه وزر (پر) لرونکې قلم سره ليدل کېږي.

نوموړې نښان د پوهنې په لومړۍ، دوهمه او دريمه درجه دولتي نښانونو باندې هم رسم کيده، چې څنې وخت يې يوازې قلم او کتاب رسم کړي چې توره يې د هغې څخه لرې کړې ده او دا د هغه



کسانو کار و چې هميشه يې د خپلو سپرو او پخوانيو کسانو ملي شعاير او دودونه که څه هم ګټور و په خپل ټيټ سر سره يې له مخته يوړل او دتير وخت سره يې خپلې مسلسلې اړيکې شلولې دي.

ج: ايا د مشروطيت غورځنګ يو ملي اوهېوادنې غورځنګ و؟

موږ پدې رساله کې د مشروطيت په غورځنګ کې د هندي ښوونکو ونډه په جلا فصل کې تشريح کړې ده، موږ بايد د هندي مسلمانانو د ا خلاص نه ډکې هلې ځلې د پوهنې په پراختيا او د نوو افکارو په تلقين کې هيرې نکړو، لکه څنګه چې ځينو بهرنيو ليکوالو او دهغوي څخه په تقليد سره ځينو کورنيو خلکو داکتر عبدالغني هندي د مشروطيت د غورځنګ موسس او مشر ګڼلې دي. چې دا خبره دمنلو وړنده، ځکه نوی فکر او د نوی مدنيت د ګټور اساس اقتباس د ډيرو کلونو څخه مخ کې وجود درلوده، لکه چې د سيدجمال لدين ا فغاني فکري غورځنګ له همدې ځايه د هند، ايران، عثماني او عربي هېوادونو تر خپور شوی و او بيا د امير شير علي خان د عصر د غورځنګ او دکابل شمس النهار د جريدې خپريدل چې ديرش کاله مخ کې د نوموړې ډاکتر د راتګ څخه کابل ته زموږ ددې مدعا ښه شاهد دي. او له هغې څخه وروسته په ۱۳۳۳ ق کال کې د افغانستان د سراج الاخبار د ټولنې جريدل دا په ثبوت رسوي، چې دغه غورځنګ په خپله په افغانستان او دخلکو په افکارو کې سوابق درلودل.

د افغانستان خلک دلومړي مشروطيت غورځنګ نه مخ کې چې د څوارلسمی هجری پېړی د لومړی څلورمي په پای کې رامنځ ته شو، د نړی د ډيری لوی استعماری قوي يعنې د بريتانيا د امپرا طوری سره په خپله خاوره کې دوه ځله لاس او ګريوان شول، او په

al Library

دغو دوارو دفاعي جگړو کې بريالي راووتل. تر څو چې نرى خوړونكي دښمن يې له خپلې خاورى څخه وشاړه. ايا د هېواد څخه دغه ډول بريالى او په ميړانه دفاع د سياسي بيداري او دحالاتو ( واقعي ) درک څخه پرته ممکنه وه؟

د مشروطه غوښتونكو دټولنې نښان چې وروسته د افغانستان د پوهنې رسمى نښان شو.

پداسې حال کې چې پدغه دوارو جګړو کې له ۱۸۳۹ م كاله څخه تر ۱۸۸۰ م تـ له پوري څلويښتو كالو په موده كې نه كوم پردي او يا هندي سړي لكه داكتر غنى په افغانستان كې و او نه دهغه وخت په ساقطو حكومتونو پوري مربوط دداخلي اجالو نه كوم سړى، ( امير دوست محمد خان او امير شيرعلى خان ) اونه دغو خلكو زموږ د هېواد خلكو لوري وركونه او سازمان وركونه په غاړه درلوده او ما څو ځلى ويلي دي او بيا هم وايم: چې د هېواد څخه د دفاع يا ساتني دروند بار يا پيټى يوازي اويوازي د افغانستان د كليوالو، كسبگرو او بزگرو خلكو يعنې د افغانستان د عامو خلكو په اوږو پريوتلى و:

نازم به بازوى كه كشرانج بيشمار
تنها هم اوست منجى اين سر زمين خويش

پدې ځاي كې بيا د خبرو سر خداى بخښلي ميرقاسم خان ته ورپريږدو. چې دمشروطه غوښتونكو سره ملگرى اوبندي هم و، هغه وويل:

" په هغه وخت كې د څو تنو پر ته چې هغه هم د گوتو په شمار وو نو نور خلک ددې كلماتو لكه ديموكراسى او مشروطه سره بلدنه وو، دهمدغه روڼ اندو او دردېدلو كسانو يوې ډلې د همدغې مفكورې



د پرمخ بيولو لپاره ټولنې جوړې كړې وې. ددې لپاره چې ددغه ټولنې تكره كسان د حبيبي دښوونځي استادان وو. او ددغه ښوونځي عمومي سر پر ست ډاكتر عبدالغنى و نو داسې گمان كيده چې دغه مفكوره د ډاكتر عبدالغنى د فكر څخه را پيدا شويده، نو پدې اساس يې د مشروطه غورځنګ بنديانو ته د ډاكتر عبدالغنى دفقرې بنديان ويل، او كوم وخت چې به مشروطه بنديان د پوښتنې لپاره غوښتل كېدل،نو غږ به يې كاوه چې د ډاكتر غني د فقرې بنديان راو غواړي!

يوه ورځ د زندان نفر كوټه خلاصه كړه او غږ يې وكړ چې د ډاكتر غني د فقرې بنديان دې بيرون ته راشي، هغه څو تنه چې پدغه كوټه كې و بيرون ته راغلل، مير احمدخان كندهاري چې په كاكا مشهور و هغه هم پدغه كوټه كې و د هغه څخه يې پوښتنه وكړه چې ته هم د ډاكتر غني په فقره كې شامل يې، هغه پداسې حال كې چې ډاكتر غني هم پدغه خونه كې ورسره و ډيرې سختې ښكنځلې وكړې چې د ډاكتر غني داسې او هغسې، زه په خپله فقره كې بندي يم."

ميرقاسم وويل:

دكاكا خبره رښتياوه، ځكه دغه فقره يعنې لومړې مشروطيت د ډاكتر غني سره هيڅ اړيكي نه درلوده، ددغه غورځنګ ځوانان زموږه خپل پوه خلک و لكه د كاكا سيداحمدخان پشان يو شمير پوه او د حساب خلک په كې شامل و نو په دې خاطر دغه غورځنګ يو ملي او هېواد ني حركت ( غورځنګ) و.

مير صاحب زياتو ي چې:

" دا څويم ځل دي چې ځينو خلكو په افغانستان كې دمشروطه غوښتنې دلومړي غورځنګ په باره كې مطالب ليكلي دي: چې

al Library

ګوندي دغه سياسي، مترقي او افغاني غورځنګ ديوه پردي تن د افکارو ځخه رامنځته شوي دي، او ددې هېواد علمي، روڼ اندی اوتکړه کسان او هېواد غوښتونکي صديق او رشيد افغانان دي ديوه بهرني د لاس الـه وی... ښايي ددغو ليکوالو په نظر دا ډېره عجيبه او غريبه راغلي وي چې دغه ډول روښان او مترقي افکار دي پدغه راز تورتم او د ظلمه ډکه فضا کې ددې خاوري د زامنو د مغزو ځخه راسر شوي وي، لاکن د تاريخ په شهادت په هر عصر او وخت کې زموږ پدي خاوره کې داسي فکر منداونو ښتګر انسانان موجود و چې د پوهي او علمي مقام له نظره بايد هغوي په وجود افتخار وکړو..."[۳۸] دا هغه څه و چې د خدای بخښلي مير قاسم خان له وينا ځخه مو دلته رانقل کړل مګر ددې کرښو ليکونکي. په ځانګړی توګه پدي برخه کې د خپل تره ځوی او استاد د مولوي عبدالواسع شهيد ځخه چې د لومړی مشروطيت د بنديانو له ډلي ځخه و مي داسي واوريدل چې ددې ټولني دکندهاريانو لومړني غونډه، يعني مولوي واصف او دده د کورني غړی د کاکا سيداحمدخان سره د کوټي ملګرې و دغه خونه په شاهي مدرسه (چوب فروشي) کې د دغې مدرسي په مدرس مولوي عبدالروف خان پوري اړه درلوده چې په هغه وخت کې د هغه دوه ځوان زامن د عبدالواسع او عبدالرب په نومونو هم په هغه ځای کې اوسېدل او د لومړی مشروطيت د لومړني غورځنګ طرحه په همدغه ځای کې برابره شوه، او دا هغه وخت و چې تر دغه وخته ډاکتر غني افغانستان ته نه و راغلی، له دغې وروسته دغي مفکورې د حبيبي دارالعلوم ته هم نفوذ وکړ، او استاد مي داهم ويل : چې ما ډاکتر

---

۳۸ د سر قاسم خان مقاله.



غني په خپلو سترګو نه و ليدلی، تر څو په زندان کې مي د هغه سره وپېژندل. د هغه په وينا : ډاکتر غني انګليس مشر بې شخص و چې د انګريزی ژبي او د هغه علومو پرته چې په لندن کې يې زده کړی و، د ختيځو ادبياتو، سقافت او علومو ځخه په نور هېڅ څه شي هم نه پوهېده، او په ماته او ډېره بده فارسي ژبه يې خبرې کولی، او انګليسي ژبه يې د اردو ژبي ځخه هم ښه او روانه زده وه.

بل سړی چې د يوه څه وخت لپاره په کندهار کې و او ځما استاد و (۱۳۰۴ش) کال په شاوخوا کې و دا په کريټ متخلص عبدالرحمن لودين دی، دا تندمزاجي او راستکاره ځوان و، دا د کوچنيتوب ځخه د خپل پلار د کاکا سيداحمدخان پواسطه د مشروطه غوښتونکو د لومړی ټولني د غړو سره يو ځای اشنا او ددوهم مشروطيت روح او زړه و. هغه ځوان چې په شور بازار کې يې د امير حبيب الله خان په موټر دتفنګچي ډز وکړ، او دخدای بخښلي عبدالهادي داوی سره يو ځای بندی شو هغه هم دا ويل چې : د لومړی مشروطيت دافغاني ټولني لوي مشر مولوي واصف دي چې کبريت دهغه ځخه په کوچنيتوب کې درس لوستلي و، او دحبيبي په ښوونځي کې دهغه د ادبياتو استاد و.

هغه دريم سړی چې دمولوی عبدالواسع او کبريت دغه قول او وينا يې تائيدوله، خدای بخښلي بابا عبدالعزيز دی، چې زه دکندهار په طلوع افغان کې ځلو کاله دهغه مرستيال وم، هغه چې دمشروطيت په دواړو غورځنګونو او دروڼ اندو او وينښو ځوانانو په ټولنو کې ګډون درلوده، په صراحت سره ويل چې ددغو دواړو غورځنګونو رامنځ ته کوونکی، پر مخ بيونکي او دوام ورکوونکي موږ په خپله افغانان وو او هنديانو هم يوه ځانګړی فرعي کړی درلوده چې د

l Library

افغانی مرکزی جرګي سره يې اړيکي درلودی، ولي دکار رشته او عمومي لارښوونه دافغانانو پلاس او واک کې و، څما دغه ټولي اوريدني هم دخداي بخښلي مير قاسم خان دهغي وينا صدق کوونکی دي چې دمشروطه غوښتني غورځنګ يو خالص ملی او افغانستانی غورځنګ و نه دا چې دنورو او پرديو پواسطه برابرشوی او يا تلقين شوی وی.



## ۷ څپرکی

## دهندی ښوونکو ونډه (داسلام سرښيندونکی)

وارسيديم بجايی من وخاطر در عشق
که بود بلبل وپروانه نصحيت ګر ما

په لومړی مشروطيت کې خون ګرمه ځوانانو، تندرو او راديکالو اشخاصو وجود درلوده، چې دهغوی لارښوونکي او رهبران دمعتدل فکر او احتياط خوښونی درلودونکی وو. او دکار دپيل څخه يې داسي فکر کاوه، چې په خپل منځ کې بايد ځني معتدل عناصر او په ګوندی چارو پوهه تجربه لرونکي اشخاص هم ولری.

د۱۹۰۳ م کال په شاو خوا کې کله چې دحبيبي دارالعلوم په کابل کې پرانستل شو په هغه ځای کې په ځينو افغاني پوهانو برسيره، دطبعي علومو لکه: رياضي جغرافي دتدريس لپاره دځينو ماهرينو استادانو شتون ته هم اړتيا پيدا شوه ځکه افغانستان په نوو تجربوی علومو کې ماهران نه درلودل. زموږ علماو د منځنيو پړيو دمعقولاتو دښووني دنصاب سره سم دحکمت فلسفي او رياضي دعلومو سلسله چې په اسلامي هېوادونو کې معمول وه لوستل .او دمفقولو او معقولو علومو دزړو معلوماتو ديوی څانګي سره اشنا او بلد شو، پداسي حال کې چې صنعتي انقلاب (بدلون) او داروپا

l Library

رنسانس په ټولو عقلي او طبعيی علومو کې هغه نوي بدلون چې دتجربي او ازمايښت په اساس ولاړ و منځ ته راوړي و. او نوي علومو په هندوستان په ۱۹ پیړي کې دانګليس داستعماري قواو په راتللو اود ښوونځيو او نوو پوهنتونونو په پرانستلو سره رواج پيدا کاوه.

افغانی پوهانو ددربار په ګډون دښوونې او روزنې د نوي قانون رواجول، او دنوي پوهنی عامول د اروپا د تمدن د هداياتو سره سم په خپل هيوادکې لازم ليدل. نو پدي اساس پدي فکر کې شول چې ځني مسلمان ښوونکي دانګليس د هندي مستعمري څخه خپلو ښوونځيو ته راولي، تر څو زموږ نوی زده کوونکي وکولي شي د نوي پوهني سره اشنا شي. او پدی وسيله نوي علوم، صنعت او حرفت پراخنيا او پرمختيا وکړي.

د۱۳۲۳ کال دسراج الاخبار د يوی ګڼي سر مقاله او مطالبو يې چې په تيرو څو کرښو کې مو معرفي کړل د خلکو او دربار دغه هیله او ارزو ښه توضيح کوي.

پدي سلسله کې د هندي ښوونکو لومړني ډله چې افغانستان ته راغله ډاکتر غني او دده ورونه و چې د حبيبي د مدرسي د تدريس او تنظيم لپاره کابل ته راغلل (۱۹۰۳ م) د مير قاسم خان په قول دا ډاکتر غني د پخاپ د کجرات د جلال پورد جټانو د خلکو او د علی ګرد کالج د تکړه او ممتازه محصلينو څخه و. چې انګريزانو هغه د لوړو زده کړو لپاره کيمبرج ته واستاوه، نوموړي د خپلو زده کړو په وروستي کال کې ناروغ شو او ويې نکړاي شول چې په اخرينو ازموينو کې بريالي شي، کله چې نايب السلطنه سردار نورالله خان د ملکي ويکتوريا په د عوت انګلستان ته ولاړ. ( ۱۳۱۲ق ۱۸۹۵ م)



نو هغه ورته د خدمت لپاره راغي او ځيني وخت يې ور سره د ژباړونکي په توګه کار وکړ. کله سردار بيرته خپل هېواد ته راتله نو هغه ته يې د افغانستان دراتللو دعوت ورکړ،اويو کال وروسته کابل ته راغي، او د حافظ احمدالدين وروسته د حبيبي د مدرسي د مدير په توګه وټاکل شو. دده لوي ورور مولوي [39] نجف علی او کشر ورور يې مولوي چراغ علی هم د ..مدي مدرسي، عربي او فارسي اسلامي پو..نتون کې هيڅ لاس نه درلوده او يوازي په انګريزي ژبه کې يي خپل زده کړي په رياضي و طبعيياتو کې بشپړي کړي وي. اود افغانستان په ښوونځيو کې هم د رياضي، جغرافيی او طبيعی علومو درس ورکاوه، په هغه وخت کې په کابل کې دريو کورنيو د مولوي لقب درلوده:

اول: د شاهي مدرسي مدرس او د لومړني سراج الاخبار موسس مولوي عبدالروف او دده دووزامنو مولوي عبدالواسع او مولوي عبدالرب چې پدي رساله کې معرفي شوي دي.

دوهم: د ميزان التحقيق فقر اسلامي غړي مولوي عبدالرزاق د هغه د زامنو سره.

دريم: تاجر مولوي احمدخان او ځوي يې مولوي محمد سرور واصف چې پدي کتاب کې په جلا توګه معرفي شوي دي.

د ښوونکو له ډلي څخه وو. يو کال وروسته چې کله دغه ډاکتر درخقيی لپاره هند ته تلو. په ده باندي ديو ډول قاچاقو اشتباه وشوه. او هغه يې په تورخم کې تالاشي کړ، ولي څه شي يې تري تر لاسه نه کړل، نوموړي پدي حرکت سره ډير په قهر شو او افغانستان

---

[39] مولوي لقب په هندوستان کې هغه چاته ويل کېږي چې په دين يا ادبي علوموکې په عربي يا فارسي ژبوکې د استادي د مقام درلودونکي وي

ته يې د بيرته راتللو څخه انكار وكړ، كله چې امير ته ښكاره شوه چې دي اشتباه حقيقت نه درلوده نو دوه ځله يې په موكده توګه هغه ته وليكل كه چيري دا يو راسخ مسلمان وي نو د اسلامي هېواد د خدمت څخه بايد ځان ونه سپموى، هماغه و چې ډاكترغني بيا كابل ته راغي.

هغه د مشروطيت په مقاله كې د خپلو ورونو او مولوي محمد حسين سره يوځاي چې په اماني دوره كې د لوړينو ښوونځيو مدير او بيا وروسته د تدرساتو رئيس و په ارګ كې بنديان شول. تر څو چې د امان الله خان دسلطنت په وخت كې ازاد شول، او د على احمدخان والي په ملګرتيا د هېواد د اسقلال د بيرته لاس ته راوړلو د سولي د خبرو په هيت كې راولپنډي ته واستول شو.

هغه وخت چې ډاكتر غنى د يوولس كاله زندان څخه وروسته د اميرحبيب الله خان د وژلو نه را وروسته د ارګ له زندان څخه را ووت . ( ۱۲۹۸ ش) په ډير درناوي سره يې هر كلى وشو. او دامان افغان جريدي د زندان څخه دده د ازادي خبر په ډيره خوښي سره خپور كړ او د افغانستان په پوهنه كې يې دده د خدمتونو د ادامي غوښتنه وكړه.

مولوي محمد حسين چې د پيښو شاهد او دده سره په زندان كې يوځاي و ډاكتر عبدالغنى په برخه كې داسي ليكي :"هغه د ملت دسربښندونكو يا د اسلام دسر ښندونكو د مجلس مشر( دلومړي مشروطيت د هنديانو ډله) و چې ۱۱ كاله بي ځايه زندان يې تير كړ د هغه علمي او اخلاقي لياقت ښكاره و، چې د پنجاب د سټيټ سكالر په توګه يې په انګلستان كې نهه كاله تحصيل وكړ او د لندن په اسلامي ټولنو كې يې د فصيحو او بلغيوويناو په كوونكي



شهرت درلوده، او امير عبدالرحمن خان هغه ته بلنه وركړي وه چې د هغي د منشي په توګه افغانستان ته راشي."[۴۰] سره له هغه نظره چې په نوي پوهنه كې په تدريسي چارو وګمارل شول، په خپله ډاكتر غنى چې د زندان ډير اوږد رنج او تكليف يې تيركړي و، د خپلو خپلوانو د لېدلو په بهانه هندته ولاړ او بيرته رانغى، هغه په انګريزي ژبه د REVIEW OF POLITCSIN CENTERAL AS SID كتاب وليكه چې په لاهور كې په ۱۹۲۴ م كال كې چاپ اوخپور شو، او په كابل كې يې يوازي يو وراره د نجف على ځوي عبدالمجيد د ښوونكي په توګه پاتي شو.

د ملت د سربښندونكو( د اسلام سربښندونكو) د هنديانو هغه ډله چې په كابل كې وه او د افغان مشروطيت غوښتونكو سره يې يوځاي كار كاوه، خپل شعار يې د هندوستان د كانګرس د ګوند په تقليد د خپل هېواد د لباسونو اغوستل ګرځولي و،[۴۱] وايې چې عبدالغني مفكر او پوهه شخص و، كله چې په ۱۳۲۹ ق يا ۱۹۱۱ م كال كې د منګلو قبايلو اړودوړ او بغاوت وكړ،او جنرال محمد نادر د هغي دغلي كولو لپاره وګمارل شو، په دغه وخت كې ډاكترغني د ارګ د زندان له دننه څخه د هند په جريدو كې يومضمون خپور كړ او په هغي كې ليكلي و چې كه امير د اسلام د سربښندونكو د هڅو ددوام اجازه وركړي وي ، داسي پيښي به نه راپيدا كېدى، ځكه د هېواد د ټولو قومونو او خلكو استازي به دتل لپاره د امير په حضور كې موجود وي، او د خلكو شكايات او ستونزي به يې امير ته

40 انقلاب ۱۱۰ .

41 انقلاب ۹۱

l Library

تقديمولي او دشكايت او بغاوت ځاى به نه و.[42] دډاكتر عبدالغني په برخه كې د همغه اولي ورځي څخه چې د افغانستان ته راغي داسي اوازي اوشايكات و چې نوموړي دانګليسي مقاماتو د هندوستانږ حكمرانانو ګمارل شوي او استول شوي شخص دي.ددې لپاره چې په هندوستان كې اوس د انګليسي انتلجنس سرويس اسناد دمحرميت څخه راوتلي دي او اوس د څېړونكو په لاس كې دي، نو هغه چا دا اسناد لېدلي دي وايي چې پدغو اسنادو كې دډاكتر غني په برخه كې داسي اسناد موجود دي چې د انګليس د جاسوسي ددستګاه سره دده تړلتيا ښي ددې لپاره چې ددې كرښو ليكونكي په خپله دغه څه ندي ليدلي او داسي نقل كوونكي(راوي) چې شقه او داعتبار وړ وي او هغه يې كټ مټ نقل كړي اويا خپاره كړي وي هم موجود ندي نو پدي خاطر پدي ځاى كې د ميرقاسم خان وينا چې دډاكتر غني هم عصره و رانقلوو او راتلونكي، راتلونكو ته پرېږدم، تر څو په خپله وګوري او يقين حاصل كړي، دا ځكه چې يوازي دي چاپه برخه كې په يوه د فتر كې د اطلاعاتو او اسنادو شتون نشي كولاي د يوه چا د بدكاري او فساد سبب شي ځكه كېداي شي هغه اطلاعات دهغه دنيكو او مثبتو اعمالو په برخه كي وي.

خداى بخښلي ميرقاسم وايي :" ويل يې چې داكتر غني دانګريز جاسوس دي كه دغو كسانو چې دغه خبره يې كړي ده د انګليس د انتلتجس سرويس څخه پوره او شقه معلومات تر لاسه كړي وي نو پدي صورت كې ددغه كار ترديد مشكل دي او كه چېري خبره يې يوازي د حدس اوګمان له مخي وي، نوښه به داوي چې نوموړي

[42] انقلاب ۱۰۹



ډاكتر د حركاتو له مخي وڅېړو او قضاوت پرى وكړو: هغه چې په افغانستان كې انګريزانو په ګټه كار كاوه نو ايا په افغانستان كې د مطلقيت او ارتجاع په ضد ديوى مترقي مفكوري رامنځته كول او هغي ته پراختيا وركول د انګريز په ګټه و؟ همدا زړه ورملي غورځنګ و، چې د اميرحبيب الله خان لپاره د تركمانچي[43] د متحوسي موافقت نامي نه منل يوه لويه بهانه شوى، هغه دانګليس په مقابل كې وويل، څرنګه كېداي شي دداسي يوه تړون سره چې خلك په كې رضايت نه لرى موافقت وښايم؟ په داسي حال كې چې د افغانستان خلك دمشروطه غوښتني لپاره هلى ځلي كوي، بايد و چې داكترغنى فعاليت كړي وي ، تر څو پدغه تړون باندي د اميرحبيب الله خان لاسليك اومنل ژر ترژره تر لاسه شوي واي ترڅو چې دده دا ښه خدمت د انګلسانو له خوا تقديريده.

[43] همدا راز د ميرقاسم په مقاله كې ؟ لاكن ځما په يقين د حافظي هېرتياده ځكه چې دتركمان چاي تړون ( دا زربايجان د ګرم رود ديوه كلي نوم دتركمان سيند دي) د۱۸۲۸ م كال دفبرورى په مياشت كې د اميرحبيب الله خان د عصر څخه مخ كې د ايران او تزاري روسي ترمنځ شوي، وضانات ايروان او نخچوان كې د پنځه مليونه تومانو په مقابل كې روسي ته وركړ اوځانګړي ګمركى حقوق او نظامي محاكمات يې هغه دولت ته ور كړه وو لغوه اعلان كړه، شايددخداي بخښلي ميرقاسم خان مقصد پدي ځاى كې د روس او انګليس ترمنځه د ۱۹۰۷ م كال تړون وي.چې په لومړۍ ماده كې تزاري دولت افغانستان د خپل قدرت د كړۍ څخه چې يسنن د اكتوبر د انقلاب څخه را وروسته د هغي بيرون بللي اودافغانستان سره يې اړيكي د انګليس د بهرنيو چارو دوزارت له لياري ومنل.او د هغي په څلورمه ماده كې دواړو خواو په افغانستان دسوداګري مساوات ومنل، لاكن امير حبيب الله خان ددې تړون دتصديق څخه ځان وژغوره، اودواړو خواو د افغانستان د پاچا له موافقي پرته د تړون اجرا وړ وباله او اميرهم چوپه خوله پاتي شو...

l Library

نه دا چې د هغې د وروسته کيدو سببونه يې برابر کړل، زه ( میرقاسم) د ډاکتر غنی سره څه اړيکي نلرم، مګر د اخلاقو له پلوه، دمستندو دلایلو پرته، يوانسان او په ځانګړي توګه يود اسي مسلمان چې څوکاله يې زموږ د هېواد پوهنې او مطبوعاتو ته خدمت کړی دي، د جاسوسي او ورانکارۍ په فعاليتونو تورنول د انصاف څخه لري کاردي .... که څېرې هغه د انګلیس جاسوس و نو طبيعي خبره ده اعلحضرت امان لله خان چې د انګريز سر سخته دښمن و، هغه ژرنه ازاد اوه،او خاصتا هغه به يې د والي علی احمد په ملګرتيا د هېواد د استقلال د بيرته ترلاسه کولو او دسولي د خبرو په حقيقت کې راولپنډۍ ته نه استاوه."

مولوي محمد حسين:

بل مهم سړي چې په لومړي مشروطيت کې يې لاس درلوده اويو ولس کاله يې بند ولېده، د پنجاب د جالندهر دهندي شوو افغانانو د اورمړ د کورنۍ څخه يوتن و چې د علي ګر په پوهنتون کې يې د ( بي،ای) تر درجې پوري درس لوستي، او په انګريزی، پښتو،فارسي، اردو او عربي ژبوښه پوهيده، هغه د حبيبي د مدرسي دجوړيدو څخه را وروسته په ۱۹۰۷ م کال کې کابل ته راغي او پدغه مدرسه کې دتاريخ او جغرافيي د ښوونکي په توګه وټاکل شو او د افغاني مشروطه غوښتونکو سره يو ځای شو، او د ډاکتر غنی څخه را وروسته د ملت دسرښندونکو دهندیانو دټولني داراکینو څخه و، چې د ۲۶ کلنۍ په عمر په ۱۹۰۹ م يا ۱۳۲۷ ق کال کې د مشروطه غوښتونکو له ډلي سره دکابل په ارګ کې بندي شو، يوولس کاله وروسته د امان الله خان دپرتخت کښيناستلو سره سم په ۱۳۳۸ ق کال کې ازاد شو،هغه په زندان کې قران عظيم حفظ



کړ. او د تفسير په دقيقه مطالعه کې لګيا شو، ددې لپاره چې دعلی ګر په پوهنتون کې يې عربي ژبه زده کړي وه،خپل ځان يې نور هم په اسلامي علومو وپوهاوه، د بندڅخه د خلاصيدو وروسته اماني دربار ته يې لياره ومونده او په ۱۲۹۸ ش کال کې دکابل د لومړنيو ښوونځيومدير [44] وټاکل شو چې په تصلمي غونډه کې لومړني تن و، تر څو چې د ۱۳۰۵ ش کال په شاوخوا کې د پوهنې په وزارت کې د عمومي تدريساتو په رياست وټاکل شو.

مولوي محمد حسين د اماني رژيم د زمانه سازی د شخصيت سره موافق و او د(افغان پادشاه) په نامه کتاب يې د اماني دوري د حالاتو په توصيف کې په اردو ژبه وليکه، چې په ۱۳۴۶ ق کال کې په لاهور کې چاپ شوي دي.

ولي څه وخت چې حبيب الله د سقاو ځوي په ۱۳۰۷ ش کال په ژمي کې کابل ونيوه، هغه د حبيب الاسلام په نامه دارتجاعي جريدي مدير شو، او څه ناسزا نه و چې ده د امير امان الله خان په برخه کې روا ونه بلل او وروسته له څو مياشتو د کابل څخه وتښتيد او هند ته ولاړ.

کله چې د ۱۳۰۸ ش کال د ميزان يا تلی په مياشت کې محمدنادرخان کابل ونيو او پاچا شو، هغه د ( انقلاب افغانستان) په نامه کتاب په جالندهرکې په اردو ژبه خپور کړ، چې سر تر پايه د محمدنادرخان او دهغه د کورنۍ په صفتونو او مدايحو او دامان الله خان او د هغه د وخت د اشخاصو په غندني او بدولو ډک دئ دغه دواړه اثرونه اګر چې بيطرفانه ندي، لاکن په کابل کې د هغه د ۲۵ کلن ژوند د شاهداتو درلودونکي دي،چې د تاريخ ليکونکو

[44] انقلاب ۲۱

l Library

لپاره ښه ماخذ اومدرک کيداي شي ( د ټولو هغو وچو او لمبدو سره چې په دواړو کتابونو کې موجود دي.)

محمدحسين پر کاره سړي و، په کابل کې ( ۷۵ ) کتابونه او رسالي په پښتو، فارسي، انګريزي، او اردو ژبو وليکلي چې د هغي څخه ۱۳ ټوکه يې د پوهني وزارت په تعليمی نصاب کې چاپ شويدي، او ۱۸ توکه يې امان الله خان ته تقديم کړل او پنځه ټوکه نوريې د پوهني دارلتاليف ته ليکلي او يا ژباړلي او نور پاتي يې په هند کې چاپ او يا نا چاپ پاتي دي[45] د ۱۲۹۹ ش کال په شاوخوا کې د ( معرف معارف ) مجله هم دده له خوا خپريدله چې په هغي کې د( جهاداکبر) په نامه دده خپل په فارسي ژبه ناول په تدريج سره چاپيده، چې د افغان او انګريز دلومړي جګړي پښني يې د افغانستان د خلکو د هېواد پالني او جهاد دوستي دولولو په تعويرولو د کابل د عوامو د محاوری سره سمي ليکلي او دا په فارسي ژبه لومړني ناول دي چې په افغانستاني مطبوعاتو کې خپور شوي دي.

هغه د خپلو کتابونو په فهرست کې په اردو ژبه ديوه کتاب يادونه کوي چې دلومړي مشروطه غوښتونکو د ټولني پراحوالو يې ليکلي و ولي په خواشيني سره بايد ووايو چې چاپ شوي ندی. په هر حال سربيره پردي چې دا زمانه سازه او مذبذبه شخصيت و ولي هغه کار چې محمد حسين خان د افغانستان د پوهني په برخه کې تر سره کړي او د مشروطيت په لاره کې دده ويوولس کلن زحمتونه او د افغانستان د پژندني په برخه کې دده تاليفات د هيرولو وړ ندي.

[45] انقلاب ، د کتاب د پاي فهرستونه.



# ۸

## د مشروطيت د غورځنګ مخبران

د مشروطه غوښتونکو د ټولني د مخلصو او رښتينو دردېدلو غړو په منځ کې څوفاسد او ددولت ګمارلي اشخاص هم و، چې دټولني د اقداماتو او پريکړو اطلاع يې امير ته ورکوله، چې د هغي جملي څخه د مير قاسم خان په وينا بلوونکي ملامنهاج الدين، سردار محمد کبيرخان او عبدالحق څخه يادونه کولي شو، او مولوي محمدحسين هم دهغه نوم راوړي اوليکلي چې: امير حبيب الله ملامنهاج الدين ته ويلي و چې: که چېري دده د فهرست شامل ټول کسان(مشروطه غوښتونکو د ټولني ټول کارکونکي) ووژل شي د هغوي خون به ذهغه په غاړه وي[46] نوېدي اساس امير د ټولني ټولو غړو اوږد فهرست په بخارۍ کې وسو ځاوه، او وي ويل: که چېري دغه ټول ځلمک ووژنو عالم به برباد شي.[47] ملامنهاج الدين چې اصلا د جلال اباد دختيځ لوري د شينوارو د قوم څخه و اود دربار دشهزاده ګانو ښوونکي و، ددې ناجايزه عمل د کولو سره سره چې د روڼ اندو د نفرت وړوګرځيده، ولي بيا هم د زمانه سازي او د استخباراتي سرچينو سره د اړيکو په سبب په اماني دوره کې په خپل ځاي پاتي شو او په ۱۲۹۹ ش کال کې د چاريکارو دستاره افغان د جريدي د مدير په توګه وټاکل شو، لاکن د مشروطه غوښتونکو دنوو ازادو شوو ملګرو په احتجاج د پوهني وزير

[46] انقلاب ۲۲۸

[47] غبار. مسير ۷۱۸

l Library

محمدسیلمان خان د هغه لاس د کاره وویست، چې بیا وروسته دقطغن او بدخشان د لوري په مخبري یعنې جاسوسي واستول شو.[48] دویم شخص عبدالحق یوازی د میر قاسم خان په وینا پیژنم او په بل ځای کې مې دده نوم ندی لیدلی، لاکن دا کاذب یا درواغجن مخبر عبدالحق د ملا عبدالحق ارغندیوال څخه پرته بل څوک دی چې د عبدالحق ارغندیوال یادونه مخکې راغله.

دریم شخص چې د فهرست په توګه د مشروطه غوښتونکو د نومونو په تقدیمولو سره امیر ته متهم یا تورنی دی د غبار په قول د کابل د فابریکې[49] فني کارګر استاد محمدعظیم خان و چې دوشکي د پخوانیو او ماهر و جوړونکو له کورنۍ څخه راوتلی او په خپل فن کې ډېر پوخ ماهر و، او د راپور د ورکولو څخه وروسته لوړو رتبوته ورسېد.

دغه فني شخصیت په اماني دروه کې هم په لوړ قدرت کې و، د جګړه ایزو وسلو جوړولو د سر افسر په توګه و ټاکل شو او د ۱۳۰۰ش کال په شاوخوا کې د وسلو د پېرودلو لپاره اروپا (ایتالیا او المان) ته واستول شو او د برلین د ختیځ د ازادۍ په جریده کې د هغه عکس د افغاني اشخاصو په ډله کې چاپ شوی و. هغه په کابل کې په برګر عظیمو شهرت درلوده.

---

[48] انقلاب ۲۲۸

[49] غبار ۷۱۷



# دوهم بخش

## دوهم مشروطیت

## لومړنی خبرې

په تېرو مخونو کې مو د لومړۍ مشروطیت دملي غورځنګ د پیل داستان چې په ۱۳۲۳ق کال کې د سراج الاخبار د ټولنې په بنسټ رامنځ ته شوی و او د یوي ډلې روڼ اندو افغانانو په وژلو او بندي کولو سره د ۱۳۲۷ق کال د صفری په میاشت کې پای ته ورسید ولوسته.

هغوی په خاورو او وینو کې ولړلی شول او د ملي مبارزې په ډګر کې قرباني شول، ولې:

عشق از فریاد ما، هنگامه ها لقمیر کرد
ورنه این بزم خموشان هیچ غوغای نداشت

هو! دا فریادونه، زګېروی او شور او واویلاوی ارامې نه شوی، او د هېواد او ملت سره دمینې لرلو او د همدغسې روښانه پاتې شو، او د زموږ د خلکو او روڼ اندو تر منځ د ازادۍ غوښتنې غورځنګو نو او د ملي بیدارۍ یا ویښېدو څپو دوام وموند.

د شلمې پېړۍ په دوهمه لسېزه کې زموږ د هېواد ټولنېزه ښه ښه نه وه ځکه امیر حبیب الله خان د خپل قدرت په لوړو پوړو کې له خلکو څخه لرې او د غبار په قول "په حرم کې ډوب شوی و" او په دغه کار کې یې دورمره افراط او زیادښت وکړ چې مزاجې حالت یې هم ډېر بد او زیږ شو، او د ده مامورینو اوګمارل شوو کسانو ولیدل چې امیر د غفلت په خوب کې ښه ډوب شوی دی، نو د بې ګناه خلکو په

Library

چور او چپاول یې لاس پوری کړ. څو ځلې د پکتیا (جنوبي) کندهار او هرات په سمتونو کې د عوامو خلکو بلواوی اواړو دوړ رامنځ شو، لاکښن مرکزي حکومت په زور ښودلو او لښکر کشیو اتکا وکړه، او امیر د غفلت د خوب څخه راویښ نشو.

د مظلومو خلکو او په ځانګړی توګه د افغانستان د ملت د شجایاو او مزاجی خطایعو څخه ده هر څومره چې ربړونه او تکلیفونه وګوري او هر څومره چې وتکول شي په هماغه اندازه د دوی ملي مقاومت، ټینګتیا او استواری نوره هم زیاتېږي او د مبارزې میدان ته تر ټولو مخکې ورځي.

د افغانستان خلکو په دوو دفاعي جګړو کې بهرنیو یرغلګرو او انګلیسي نیورکګرو ته خپل دغه ملي خوې او خصلت په ثبوت رسولی دي. دغه راز زموږ د خلکو ملي احساس د کورنۍ زور زیاتی او د امیر د ګمارل شویو د چور او چپاول په مقابل کې هم ژوندی و چې:

ملت بود ان شیر، هنګام تزاحم
چون بیشتر ازرده شود، پیشتراید

د لومړی مشروطیت نیک او ملي غورځنګ د امیر او د ده د ذرباریانو په استبداد، زور ازمویلو او وینو تویولو سره چې ویل به یې "د نوو اصولو هر څه قبلوم الامشروطه" [50] په ظاهري توګه له منځه ولاړ، لاکن وروسته یې د ملت د زامنو په زړونو کې په پټه

[50] دا ملت عبدالقدوس خان اعتماد الدوله په هغه استضتا کې چې د کندهار د علماو څخه یې په ۱۲۹۹ش کال کې کړی و، لیکلی دی (د بشپړو معلوماتو لپاره د غبار ۸۰۳ مخ وګورئ) د اعتماد الدوله مړینه د چهارشنبي په شپه د ۱۳۰۷ش کال د کب په ۲۳ د کابل په شهرارا کې ده.



زیلی ځغلولی وې او دوهم مشروطیت یې رامنځ ته کړ، چې په الماني دوره کې یې د هېواد ازادی، د اداری نوی لاره، او د افکارو د بدلون ثمره وکړه.

لومړی نړیواله جګړه چې د ۱۳۳۲ق کال د روژی په میاشت او د ۱۹۱۴م کال د اګست په میاشت کې پیل شوه، ټولې بشري نړۍ ته ټکان ورکړ د دی لپاره چې د خلافت مقام (د ترکي عثماني سلطنت) هم په هغه کې د المان او دهغه د متحدینو په طرفداری ورګډ شو، د انګلیس د دولت او دهغه د اندیوالانو د جګړه ایزو اقداماتو په خلاف لویه هیاهوی او شورماشور د هندوستان د مسلمانانو او د نورو اسلامي هېوادونو تر منځ راپورته شو، او په ډېره لږه موده کې د نړۍ او د ختیځو هېوادونو د ژوند حالات او سوداګرۍ بدله کړه.

امیر حبیب الله خان یوه میاشت وروسته په کابل کې د هغه وخت د سپین ږیرو او مخورو په دیوه لویه غونډه کې د بیطرفۍ اعلان وکړ (د ۱۳۳۲ق کال د شوال میاشت ۱۹۱۴م کال) په داسې حال کې چې عوامو خلکو د عثماني ترکي او د اسلامي خلافت د مقام چې په استانبول کې و د بریالیتوب شعارونه ورکول، او د خلافت ګوند چې د هندوستان د ملیونونو مسلمانانو په منځ کې نفوذ کړی و او د عثماني ترک د قواو د تقویې لپاره یې د مرستې وسایل او چاندې راټولولې، او هره ورځ به د خلافت د ورځپاني په سلګونو زره نسخې په بمبي کې ویشل کېدې، او سلطاني سره خولۍ د مسلمانانو شعار ګرځېدلی و.

لاکن امیر چوپ او د حرم له اړخه لری نه تللو، شاید چې په دهلي کې د هغه د انګریزی اربابانو لپاره همدغه د چوپتیا او اراموالی

Library

حالت د ي ـه داسې هندوستان په خوا کې چې په جګړه کې د بریالیتوب د سرچینو څخه یوه و مطلوب و.

افغانستان د افغان او انګلیس د دوهمې جګړې را وروسته د برتانوي هند د قوي دولت په خوا کې و، او امیر عبدالرحمن خان چې قهار سیاست مدار او د کورنیو سر غړونکو لپاره د تیره تیغ درلودونکي سړی و. په بهرنی سیاست کې د ډېري ښي رویې سره یې یوازې په دهلي تکیه وکړه، او د افغانستان هغه سیاست چې تزاري روسي ته یې تمایل درلوده او د امیر شیر علي خان سیاست و چې د هغه د له منځه تللو سبب شو په ښکاره یې هغه یوه سهوه او خطا وبلله او منشي سلطان محمد هندوستانی په هغه شرح حال کې چې د ده د نظر لاندې لیکلی او د تاج التواریخ په نامه ژباړل شوی محکوم کړ لاکن د دغه دارمدار او نرمش او د هند د وریسرا څخه د کال ۱۸ لکو کالدارو د ترلاسه کولو سره، سره بیا هم ختیځ سرحدات او د قبایلو چاري یې یوازې د وریسرارحم او کرم ته پرې نښودې، او په هغه پوهې او لیاقت سره چې په سیاست کې لرله د یوې خوا یې د هند وریسرا ډاډه ساته، لاکن د دې لپاره چې د افغانستان د سیاسي او شوق الجیشي موقیعت څخه یې پورته ګټه اخیستی واي، نو کله، کله به یې د هډې د ملا نجم الدین په شان ملایان د کابل د ګردي جومات او د نورو دیني مرکزونو څخه قبایلو ته ور شړل او فراري کول تر څو هلته د جهاد اوازې ګرمي وساتي او وریسرا پاملرنه به یې دې ډول قبلوي غورځنګونو ته راوړوله چې که چېرې د هند د لویدیځ سرحدي قبایل د دې خوا څخه تحریک شي نو د برتانوی هند لپاره به یې نتیجې ډېرې وي، هغه ۱۸ لکه



کلداري چې واسراي یې ورکوي یوازې د امیر د مینځلو مزد دي، او د برتیانوی هند وایسرا باید په دی باندې همیشه معترف وی چې:

" امروز در قلمرو دل، دست، دست تست"

په دغه کاره او ناروغ سیاست سره امیر عبدالرحمن وکولی شول چې خپل موقیعت د افغانستان د امارت سره ټینګ وساتي، لاکن د هغه د مړنې وروسته ځوي یې امیر حبیب الله خان ونه کولی شول چې په یوازې توګه دغه حالت ته دوام ورکړي، نو په دې خاطر یې خپل ورور سردار نصرالله خان چې یو اخوند مشربي سړی و، د دې سیاست د یوه اړخ د پر مخبیولو لپاره وګماره، دا په خپله دوایسرا سره جوړ راغي او خپل مشر ځوي سردار عنایت الله خان یې د هند د وریسرا لارد کرزن حرمنور ته ورولېږه ( ۱۹۰۴م کال د ډسمبر ۱۲ ) او یو کال وروسته ( ۱۹۰۵م کال ) یې د هند د بهرنیو چارو سکرتر لویش ولیم دین ته په ډېره ښه بڼه او دارمدار سره په کابل کې هر کلي و وایه ، او په یو څو کرښیزو تړون کې هر هغه څه چې امیر عبدالرحمن د راولپنډي په سفر کې په ۱۸۸۴م کال کې د لارد سره منلی و کټ مټ یې هغه ومنل او په دې توګه افغانستان بیا د هند د وایسرا د ستقیم نفوذ لاندې پاتي شو، د موافقت دغه اړخ د وایسرا د سیاسي اعتماد د ترلاسه کولو لپاره و چې امیر د همیشه لپاره هغی ته متعهد و او د سرد ویښته په اندازه یې د هغې څخه کوږوالی نه کاوه او د بریتانیا د دولت اعتماد یې له لاسه نه ورکاوه.

لاکن په دغه سیاسي لوبه کې یې چې امیر یې په خپله لوبغاړی و، خپل بل ورور سردار نورالله خان یې له شاهي ارګ څخه وویست او د

Library

ارګ په لویدیځ لوري کې ورته هغه مانۍ چې اوس د وزیرانو د شورا د کار ځای دی دزین العماره په نامه ورته جوړه کړه ترڅو چې خلک وکولی شي پرته له قیدو بسته همیشه په ازاده توګه ده ته راشي، او د هر خان، ملک او اخوند سره اړیکي ولري، او د ټولو سرحداتو او قبایلو چاري اداره کړي، او د لازم لېدلو په صورت کې وکولی شي په ختیځو سرحدونو کې یو حرکت او خوځښت را منځته کړي. او که چیرې وغواړي جهاد اعلان کړي او هغې ته د افغانستان د خلکو د ارادې د ښکاره کولو رنګ ورکړي،

دا هغه سیاست و چې امیر او د ده ورور له خپل پلار څخه زده کړی و، چې د خوږوالي او سازش سره یو ځای د قهر او غضب وسله هم باید په لاس کې ورسره وي. نو په همدې خاطر د سردار نصرالله خان مقر د همیش لپاره د قبایلو د مشرانو، روحانیونو او د جهاد د اخوندانو رجع وه د هېواد د مرکز او اطرافو سره، او په همدې ترتیب سره یې د افغانستان پر خلکو خپلې مطلقې حکمرانۍ ته ادامه ورکوله او د سراج الملته والدین د ؟) خپل ذات یې د دیني او دینوي روښنا یوو سر چینه بللې و، پداسي حال کې چې دده زیاتره ارزښتناکه وخت به ددربار په ښایست او دحرم د ښکلو میرمنو په ډول او سینګار کې تیریده، او که کله به بهرته هم راووت نو په ښکار میله جوړول او د ساعت تیری د فرش وظرف په ترتیب او سمبالولو به لګیا او اخته کیده او سراج الاخبار به دده دښکار په برخه کې د طنز او کنایې په توګه داسي لیکل:

همه اهوان صحرا، سر خود رانهاده برکف!
بـا میدانکه روزی بشکار خواهی امد!



(٢)

## ګاوندی محرکه عوامل

ازاد قبایل او د هندی مجاهدینو مرکزونه:

ددیورند دسرحدی کرښې په دواړو غاړو کې، چې د برتانوی هند او د افغانستان تر منځ د ١٨٩٣ م کال دنوامبر په ١٢ په ١٣١١ ق کال کې د هند د بهرنیی سکرتر سرماتیمر د یورند او د امیرعبدالرحمن تر منځ رامنځته شو، او د افغانستان د خلکو او قبایلو د رضایت پرته په رسمیت و پیژندل شو او وتپل شو، پښتو ژبی سر حدی قبایل جنوبا د وزیرو، میدو، دوړو بنګښ، اپریدی، مومند او نور دلار یې تر سیمی پوری شمالا او سیدل، دي قبایلو دپښو راو دنورو هغو ښارونو د انګلیس حکمرانانوسره چې د هغوی د مستقمي سلطی لاندی وي دهندوستان د پولیټکل ایجنټ پواسطه اړیکي درلودي. لاکن د صوبه سرحد دداخل پولیسي او امنتي قوانین پرهغوي جاري نه و، او عموما د عنعنوي جرګي په توګه اداره کیدل، نو پدي اساس انګلیس پولیټکل ایجنټ دا حق نه درلوده چې د هغوي په کورنیو چارو کې مستقیمه مداخله وکړي.

د هند د مغولي امپراطوري په مرکزکې د ١١٧٠ ق یا ١٧٥٦ م کلو په شاوخوا کې یو ډیر مهم فکري، اصلاحي او دیني حرکت د هغه وخت د مشهور عالم شاو ولي الله دهلوی پواسطه منځته راغلي و، چې ددغي کورني د مشرانو له خوا تعقیب شو،د هغه د مهمو اصولو څخه د ټولینزو او اقتصادي اصلاحاتو او د اسلامي

Library

حکومت د ساتلو په لاره کې د جهاد څخه یادونه کولي شو، او
کله چې لدې وروسته لار دلیک Lord Lalke انګلیسي
حکمران په ۱۸۰۳ م کال کې دهلي ونیوه نو سکانو هم په پنجاب
کې خپله سلطه ټینګه کړه، نو پدې خاطر د شاه ولي الله لمسي
مولوي اسماعیل د هلوي د سید احمد بریلوي سره یو ځای د
مجاهدینو دیوه کاروان په ملګرتیا دسیند، کندهار او کابل له
لیاري پیښور ته راورسیدل، او د جهاد هنګامه او ولوله یې د هغه
سیکانو سره چې پیښو ریې نیولي و او هم یې د بارکزایي سر دارانو
سره ( د امیردوست محمدخان وروڼه) ګرمه کړه، او یو شرعي
حکومت یې د ۱۲۲۴ ق کال د جمادي الاخیر په ۱۲ یا د ۱۸۲۷ م
کال د جنوري په میاشت کې د پیښرر په چارسده کې اعلان کړ،
لاکن ددغه حرکت یا غورځنګ دواړه مخکښان یا مشران د ۱۲۴۶
ق کال د ذیقعدی په ۲۴ یا ۱۸۳۱ م کال د مې په ۶ دسیکانو د
لښکرو په مقابل کې د برجیلم په غاړه په بالا کوټ کې په شهادت
ورسیدل. او ددوی نور ملګري په هم هغه غرونو کې سره خواره واره
شول. تر څو چې ددغې کورنۍ د پاتي کسانو څخه یوتن سید
نورالدین دهلوی د صوبه سرحد دکوهستان په درستانه کې د ازادو
مجاهدینو لپاره یو مرکز په ۱۸۴۰ م کال کې جوړ کړ او دهغه دنیا
یې خلکو څخه مولانا عبدالله چې په ۱۹۰۲ م کال کې و مړ د هغه
څخه وروسته د هغه ورور عبدالکریم چې په ۱۹۱۵م کال کې مړ شو
او دهغې څخه راوروسته دهغه لمسي رحمت الله او نعمت الله د
چرکنډ د سمځې په ځای کې یو په بل پسې د هغه په ځای
کیناستل. دي سلسلي دالمجاهد د جریدی په خپریدو سره چې
مدیر یې محمد بشیر چې تر ۱۳۱۰ ش کال پورې هم ژوندی و دوام



درلوده، او همیشه یې دکابل ددربار او ددې ځای دروڼ اندو سره
اړیکي درلودل چې ددې اړیکو د اسنادو یوه برخه د کابل په ملي
ارشیف کې موجوده ده، چې افغاني حکومتونو به د هغوي سره
مالي او اخلاقي مرستې هم کولې. د شلمې میلادي پېړۍ په پیل کې
په هند کې دکانګرس د ازادی غوښتني غورځنګ اوله هغې وروسته
په ۱۹۱۴ م کال د لومړي نړیوالي جګړې له پیل څخه په هغه ځای
کې د خلافت غورځنګ او مهاجرت په ډیر شدت سره روان و. او په
هندي ځوانانو کې ( د هندوانو او مسلمانانو په ګډون) د هندوستان
د ازادي غوښتني جذبې مخ په وړاندې خپلې ځغلولي، او ټول دغه
راز خلک چې د پردیو دحکومت او د انګریز د نیواکګرو سره یې
جوړښت نه درلوه او غوښتل یې چې د ازادي لپاره یو کاروکړي، نو
دپښتنو د سرحد دازادو قبایلو او د مجاهدینو دي ټاټوبي یا ځالي
ته یې مخ راګرځاوه ، او د همدغه سرښندونکو او زیار کښو خلکو
په واسطه به په کابل کې افغاني مرکزونو ته ور پژندل کېدل، او
کابل ته به یې د هغوي درسولو وسایل د قبایلي سرحداتو د لیاري
برابرول ، او همدا خلک و چې د هند د ازادي او د ازاد هندوستان د
موقت حکومت د جوړولو زمیني یې په کابل کې برابري کړې. چې
ددهلي انګریزان او دپلټنو نیواک ګر مرکز ونه یې ډیر سر ګردانه
کړي و.

دشیخ الهـ: د غورځنګ د یاغیستان د قبایلو په منځ کې د ازادي
غوښتونکو مرکزونه او کابل :

په ۱۸۵۷ م کال یا ۱۲۷۳ ق کال کې دهند د ازدادي غوښتني د
پاڅون وروسته چې انګلیسي نیورګ ګرو هغه د غدریعنې
MuTiny په نامه و ځپل دهند ځینو ( مسلمانو مخ کښانو د شیخ

Library

الهند مولانا محمود الحسن ( د ۱۹۱۷ څخه تر ۱۹۲۰ م کال تر جون پوري په مالتا کې اسیر ) په اشاره او تلقین د هند په د ننه او بهر کې د ازادي غوښتني حرکاتو ته ادامه ورکړه، چې د هغي جملي څخه ومولانا ابوالکلام ازاد، مولانا محمد علی جوهر، حکیم اجمل خان نواب وقار الملک، ډاکتر مختار احمد انصاري، مولانا تاج محمد امروتي او د کراچی سوداګر عبدالله هارون او داسي نورو چې د هند په دننه کې يې په پټه توګه فعالیت کاوه، او په ازادو سرحداتو کې فضل واحد د ترنګزو حاجی، دباړې ملاصاحب ( چې د ۱۹۱۵ م کال په سپمتبر کې د شبقدر د حملی مشرو ) او د اباسین دکوهستان ملااحمد جان صاحب سنډا کې چې ( د ۲۰ پیړي په پیل کې د انګلیس د استعمار په مقابل کې سر سخته مجاهدین و ) لدې وروسته د خداي خدمتګارانو دټولني بنسټ ایښودنکي خان عبدالغفار خان و،

شیخ الهند ده ۱۹۱۵ م کال دسپتمبر په ۱۸ یا په ۱۳۳۳ ق کال کې حجاز ته ولاړ او له هغه ځاي څخه يې د ازادي د مبارزي د لیاري د ملګرو څخه یوتن ( نوي مسلمان شوي شاګرد ) مولانا عبیدالله سندهی دکویتی، ښوراوک او کندهار د لیاري څخه کابل ته راو استاوه، چې د ۱۹۱۵ م کال په اکتوبر کې دي ځای ته راورسیده، او دسردار نور الله خان، سردار عنایت الله خان او دانډو د حاجی عبدالرزاق په مرسته يې د هند د ازادي غوښتونکو د فعالیت لپاره په کابل کې مرکز جوړکړ، او د ( ازاد سرحد ) د چمبرکند د سمځي او ستهانې د مجاهدینو د مرکزونو سره يې خپلي اړیکي ټینګي کړي، او له همدي لاري څخه به د هند ازادي غوښتونکي ځوانان او عالمان د تحریک د ادامي لپاره کابل ته راتلل، او لدي ځاي څخه



به يې د هند د ازادي د حاصلولو لپاره د اسیا او اروپا په هېوادونو کې خپلو هلو ځلو ته دوام ورکاوه.

په همدي وختونو کې د لاهور د ګورنمنټ کالج د زده کونکو یوه ډله د هرى پور او ازادو سرحداتو له لیاري د ۱۹۱۵ م کال په فبروری کې کابل ته هجرت وکړ، چې پدې ځاي کې د هند د ازادي غوښتونکو په ټولنه کې شامل شول، چې پدي ډله کې د ملتان افتخاري مجیتریټ د ( بابړو د قوم ) خان بهادر رب نواز ځوي الله نور خان هم شامل و، چې وروسته يې د هند درښتنو ازادي غوښتونکو اطلاعات دکابل څخه دانګریزي جاسوس سر چینوته ور کول.[51] په دي ډول کابل د هند د سیاسي فعالیتونو مرکز وګرځید، ار محمد میان بن عبیداله ( مولوي منصور انصاري ) چې د شیخ الهند د سر ښندونکو شاګردانو څخه و د مهمو سیاسي اسنادو سره د حجاز څخه هند ته ورسید، ( ۱۹۱۶ م کال اپریل ) او له هغه ځاي څخه د ازادو سرحدونو له لیاري د ۱۹۱۶ م کال د جون په میاشت کې کابل ته راغي، دا شخص باعمله عالم و چې په ۱۳۰۱ ق کال د هند په سهانپور کې زیږیدلي او د ۱۳۲۴ ش کال ددلوی په میا شت کې د ۶۲ کالو په عمر وفات شو چې د لغمان د مهترالملک په هدیره کې ښخ شویدي.

---

[51] الله نواز جې په اماني دوره کې یو شکمن شخیصت و او له معارف څخه وویستل شو، د محمد هاشم خان په کابینه کې وزارت او سفارت ته ورسید. او د عمر تر پایه په کابل کې پاتي شو. چې په همدي ځاي کې د ۱۳۴۵ ش کال د وږی د میاشتي په ۱۲ نیټه مړ شو، هغه ددوهمي نړیوالي جګړي په وخت کې د افغانستان د سفیر په توګه د هتلر تر څنګ په برلین کې ناست و.

Library

مولانا منصور سربيره د ازادي غوښتي دكردار، فكر مند مولف او دځانګړو ، ياسي نظرياتو درلودونكي شخصيت و چې په اردو او فارسي ژبو كې اتلس ټوكه كتابونه د اسلام له نظره په سياست دين او حقوقو كې وليكل، چې ځنيې يې چا پ شوي دي، ددې كرښو ليكونكي هغه لېدلي او د هغه سره خبري اتري درلودي، هغه د عمر تر پايه د ازادي غوښتني او فقيري او درويشي پر مسلک د " دالهي حكومت" د ثابتو او نه تغيريدونكي افكارو سره پاتي و، ددې لپاره چې په ازادو سرحداتو كې د افغانانو سره ډېر وخت لپاره يوځاي و په پښتو او درى ژبو كې ښى خبرى كولي او د سيد محمدامين بنورى باجوړى دلور زهرانامى سره يې واده كړى و چې او لادونه يې تر اوسه په كابل، ننګرهار او هند كې پاتي دي.

## دري مهمی پیښی

دلومړى نړيوالي جګړي د پراختيا او شدت سره، د انګليس د امپراطورى بډايې مستعمره هندوستان د المان او دهغه د ملګرو له نظره په جګړه كې لرى نه و، او غوښتل يې چې پدغه نيمه لويه وچه كې او په ځانګړي ډول د هغه ځاى د مسلمانانو په منځ كې نفوذ وكړى، او دغه كار د عثماني خلافت پواسطه چې په جګړه كې د هغوي ملګرى و تر سره كيده، تر څو د افغانستان مسلمانان د انګريزانو په مقابل كې جهاد ته ولمسوي، او پدي وسيله په هند كې يو پاخون منځ ته راوړي او د انګريز قواوي په خپله په هند كې بوختي وساتي او د جګړي له ډګر څخه يې لرى كړي: نو پدي خاطر كابل د ځينو اروپايي او اسيايي هېوادونو د سياسي فعاليتونو مركز وګرځيده، لاكن امير په ډيره خونسر دي او هغي تجربى سره چې د خپل پلار له وخت څخه يې پدي برخه كې لرله، د



افغانستان او د سرحداتو دمشرانو او مخورو يوه كو چني جرګه په كابل كې جوړه كړه، ( د ١٩١٥ م كال اپريل يا ١٣٣۴ م كال ) او د افغانستان بيطرفي يې تائيد كړه. پداسي حال كې چې د افغانستان زياتره خلک د اسلامي يووالي او د عثماني خلافت سره د مرستي طرفدارو، د سراج الاخبار مدير محمود طرزي د عامو خلكو د ولولو په ټ ركندولو د ١٣٣۴ق كال د ربيع الاول په ګڼه كې چې د ١٢٩۴ش كال د مرغومې د ١۶ سره سمون خورې په دغه جريده كې د لاحي "علي الفلاح" تر عنوان لاندې يوه مقاله خپره كړه او په هغي كې خلک د سياسي ازادى د تر لاسه كولو او ملي پاخون ته ولمسول شول، چې دغه مقاله سانسور شوه او محمود طرزي ته وويل شول چې : هغه چرګ چې بې وخته اذان كوي سر يې د غوڅولو دى، او هغه يې ۲۶ زره روپۍ جريمه كړ، چې دغه پېښې د هغه زوم شهزاده امان الله خان خلاصي كړى، انګريزان ويښ او د حالاتو څارېې كاوه او د هغو ملكي او عسكري جاسوسى د وسايلو پواسطه يې چې په اسيايي هېوادونو او هندوستان كې يې درلودل، د انتلجنت سرويس، سي، اى، ډي او د ټولو ښارونو او په ځانګړې توګه د كابل د سياسي ماينـدګيو څخه د اطلاع اخيستله، چې د دغو پټو اطلاعاتو يوه ټولګه د ١٩١۶م څخه تر ١٩١٨م كلونو پوري اوس د محرميت څخه خلاصه شوى او د لندن په انډيا افيس كې موجوده ده، او د هغي اردو ژباړه د "تحريک الشيخ الهند" په كتاب كي چې په ١٩٧٥م كال كې په ډهلي كې چاپ شويدى خپره شويده، چې په دې فصل كې مې د هغي څخه استفاده كړى ده چې د هغي حواله د تحريک د لنډيز په علامې سره وركړ شويده.

Library

چې په دې وخت کې په کابل کې څو مهمې پېښې شویدي چې د افغانستان د کورنیو خلکو په فکري حالاتو يې اغېزه کړې وه چې د دوهم مشروطیت سره فکري اړیکي لري چې باید په دې ځای کې په لنډېز سره راوړل شي:

## اول: د هندیانو تنظیم

لکه څنګه چې مو وویل د شیخ الهند رښتني او ازادۍ غوښتونکي شاګرد مولانا عبیدالله سندهي د ۱۹۱۵م کال په اکتوبر کې کابل ته راغی او ټول هغه هندي طالبان چې مخکې ازادو سرحداتو او کابل ته راغلي و راټول او تنظیم يې کړل، او د سردارنصرالله خان او سردارعنایت الله خان چې د امیر له خوا په دې کار ګمارل شوی و او د حاجي عبدالرزاق اندړ سره يې خبري اتري وکړي او د ۱۹۱۶م کال د جون په میاشت کې مولانا منصور انصاري هم په دې ډله کې ور شامل شو، او د شیخ الهند مهمي لارښووني يې هغوي ته ورسولي.

په دې وخت کې یو نوی مسلمان شوی شخص (د هند د نامتو لیډر د اچاریه کر پلانی مشر ورور)[52] د مولوي عبدالرحیم په نامه چې د هند د ازادۍ غوښتونکو د تکړه کارکوونکو له ډلې څخه و کابل ته راورسېده او د سرحد د مجاهدینو د ایلچي په توګه يې د نایب السلطنه سره کتنې وکړي، او د افغاني شخصیتونو سره د هندي مهاجرینو د اړیکو د ټینګولو وسیله وه، چې د نایب السلطنه له خوا يې ازادو قبایلو ته کمکې نقدې پېښې او وسلې رسولې، .

د هندیانو ډله د حکومت او په کابل کې د بریتاني د سیاسي نماینده له خوا د کلکې څارنې لاندې وه. او د دې لپاره چې نه يې

[52] د ۱۳۶۰ش کال د حوت د میاشتې په ۲۸ په دهلي کې ومړ یعنې ۱۹۸۲م.



شو کولای د کابل د خلکو سره وګورې نو په دې خاطر د کابل د ملکي روغتون په دننه کې د ترکي سر طبیب ډاکتر منیربیګ چې د عثماني ترکانو له خوا د دې غورځنګ ملګری و د ده خونه يې د یو بل سره د لیدنو کتنو لپاره ټاکلی وه او همدلته به يې یو د بل سره کتل او سلامشوري به يې کولې.

کله چې د ۱۹۱۵م کال په اکتوبر کې مولوي برکت الله بهوپالی (هندي فراري انقلابي شخص) هم د الماني پلاوی سره کابل ته راورسېده، او د دې متشکلي او منظمې ډلې سره یو ځای شو او د هغوي په راس کې يې په انقلابي اقداماتو پیل وکړ.[53]

## دوهم: د الماني پلاوی سره د راجه مهندره پرتاب راتګ:

په اروپا کې د المان او د هغې د طرفدارو سریزو، د عثماني دولت په ګډون چې د خلافت د مقام لمړنۍ مقدس ځای و په هندوستان کې د اړو دوړ او نا ارامۍ د پېداکېدو لپاره يې د افغانستان بې طرفه هېواد تشخیص کړی و نو په دې اساس يې یو بشپړ پلاوی چې په هغې ک ې الماني، استریایې، ترکي او د فراري ازادۍ غوښتني هندیانو منصبداران په کې شامل و، د استانبول، حلب، بغداد، اصفهان، قم او هرات د لارې کابل ته واستاوه، چې د ۱۹۱۵م کال د سپتمبر په ۲۶ نېټه د هزاره جاتو له لېارې کابل ته راورسېده، او د ۱۹۱۵م کال د اکتوبر څخه د ۱۹۱۶م کال د می تر میاشتې پورې د کابل د بابر باغ په میلمستون کې پاتې شو، او د دولت له طرفه د دغه پلاوی میلمه پالی شجاع الدوله او اشباشي و. دا پلاوی د شجاع الدین چې د هندي مهاجرو طالبانو څخه په کابل کې و (په

[53] د شیخ الهندي په تحریک کې په تفصیل سره راغلی دی.

Library

ایران کې نیول شوی) د هغه بیان په اساس چې د هندوستان پولیسو ته یې د پوښتني په وخت کې کړی و عبارت و له : [54]

۱_ راجه مهندره پرتاپ:

د ګهنشام سنګر راجه مرستان ځوی او د علي ګره د مرستان د ځای د حکمرانانو د کورنۍ. د راجه دت پرشادسنګهه ورور او په هغه ځای کې د ځمکو د پراخه جایداد درلودنکی و چې په علي ګړکي زده کړې کړې وې. په بندرابن کې د یوه موټې هندوستان په فکر د مسلمانانو هندوانو او مسیحیانو د پیوستون یوه کمېټه جوړه کړه، د دې لپاره چې د سیل ګړی سره یې مینه درلوده، په امریکا کې د هردیال او د هند د ازادۍ غوښتنې د باغیانو د ټولنې له نورو غړو سره یې وکتل او د انقلابي افکارو سره یې مینه پیدا شوه، او د ۱۹۱۴م کال د ډیسمبر په ۲۰ نېټه هندوستان ته راتلو په لباره مارسلیز ته راغی او له هغه ځایه برلین ته ولاړ او د هندیانو په هغه ټولنه کې شامل شو، چې د هند د ازادۍ د لاس ته راوړلو لپاره یې هڅې کولې چې هندي مولوي برکت الله بهوپالي او هردیال هم په کې ګډون درلوده.

راجه د المان د قیصر Wilhelm II او د جرمني د نورو اشخاصو سره د کتنو نه وروسته د خپل کار پلان داسې طرحه کړ، چې د هند د ازادۍ غوښتونکو او ترکي او الماني اشخاصو ګډ پلاوی دی د قیصر او سلطان محمد رشاد خامس او انور پاشا لیکونه او د استانبول د شیخ الاسلام فتواوي افغانستان ته ورسوي، تر څو د

[54] د شیخ الهند تحریک.



افغانستان اشخاص د هغې پر بنسټ د انګلیس پرضد پاڅون او جهاد اعلان کړي.

په هغه لیکونو کې چې راجه د المان څخه راوړی و، د جرمني د دولت د رئیس لیکونه یې د هند د ایالاتو د راجه ګانو په نامه په الماني او هندي او هم د کابل د امیر او د رانانیپال په نامه درلودل، تر څو مهندره پرتاپ سره مرسته وکړې او هندوستان د انګلیس د استعمار د مینګولو څخه خلاص کړي او الماني دولت د هندوستان د ازادۍ د ساتلو ژمنه کوي.

د دې لپاره چې هندي او الماني پلاوي او دغه راز د هند موقتي حکومت د کابل په بابر بڼ کې ناکام پاتي شول، راجه د ۱۹۱۷م کال د اکتوبر د پاځون څخه وروسته د کابل څخه ولاړ او د شوروي دولت د لپاري اروپا ته ولاړ او د هند د ازادۍ د اعلان وروسته په ۱۹۴۷م کال کې د جواهر لعل نهرو حکومت هغه ته د هند د راتللو بلنه ورکړه، او تر یوه وخته یې د هند د مشرانو په جرګه کې غړیتوب درلوده تر څو چې په زاړه عمر کې د ۱۳۵۸ش کال د ثور په ۹ یا د ۱۹۷۹م کال د اپریل په ۲۹ په نوی دهلي کې ومړ، او دغه د ولولو ډکه لمبه یا شغله مړه شوه.

۲_ فان هینتهنګ Von Henting :

هغه د المان د توپخانې مشر، پلار یې د عدلیې وزیر، تکړه پوځي ځوان و چې په نوموړي پلاوی کې یې دیندرمایر سره په ګډه مشري په غاړه درلوده.

Library

د دې لپاره چې په خپلو موخو کې بريالی نشول نو بېرته المان ته ولاړ او خپل راپور يې وليکه چې په ۱۹۶۳م کال کې د هغې متن په ګوتڼ ګڼ کې چاپ شو.

ده د خپل راپور په ۹۳_ ۹۴ مخونو کې د خپل پلاوي غړي داسې معرفي کړي دي: Dr: Becrer او لفتننت Rdether الماني او ترکي کاظم بي او هندي مهندره اپرتاب او برکت الله او شېر تنه افريدی کوم چې ددوی انګليس سر تيري و او په جګړه کې د المانيانو په لاس ورغلي و، دوه تنو افغانانو د عبدالرحمن او سبحان په نومونو هم په خپل لګښت سره په دې پلاوي کې ګډون درلوده. [55]

**۳_ ويګنر**

ديوي الماني کورنۍ ځوی او د بي سيم د مخابري مشر و.

**۴_ لواري:**

دوان هينتنګ د سکرتر په توګه.

[55] لودويک ادميک افغانستان ۲۲۳ د ۱۹۶۷م چاپ. د الماني عسکرو مشر او فعال نظامي سړی و چې نوم يې په اردو ژباړه د شجاع الله په وينا کې سينديري مشر راغلی (تحريک ۲۶۵) لاکن اصلا د المان په ملي ارشيف کې (بون) او په نورو سرچينو کې Nieder myer دی. هغه د ۱۹۱۴م کال په سپتمبر کې په استانبول کې د روف بي ترک په مشری د ويلهلم واسموس تر رياست لاندې د المان د ۲۳ کسيز عسکري هيت غړی و چې د مهندره پرتاپ د پلاوي سره يو ځای شو او خپل ځان يې په منځنۍ اسيا کې د حربي منصبدارانو د نظامي چارو د روزني ژمن باله. په داسې حال کې چې د ده بل ملګری هنتنګ د افغانستان سره د سياسي اړيکو د ټينګولو لپاره هلې ځلې کولې.
نيدرماير په کابل کې يوه کوچنۍ افغاني نظامي مفرزه د نظامي روزني لاندې ونيوله چې د هغې جملې څخه يو هم قوماندان عبدالحميد و چې په اماني دوره کې رئيس ارکان و چې بيا وروسته په ۱۳۰۲ش کال د ګوډ ملا د سر غړوني په قضيه کې په لوګر کې ووژل شو



**۵_ ووکات (هوخت):**

دوان هينتنګ سکرتر.

**۶_ نيدرماير:**

**۷_ يوزباش کاظم بي (ترکي):**

هغه د ترکي عسکرو ډګروال او د منصبدارانو په هيت کې د انور پاشا کارمند و، چې د الماني تر وخته پورې په کابل کې پاتې شو او د ۱۹۱۹م کال په جنوری کې بخارا او خيوا ته راغی.

کله چې د ۱۹۱۹م کال په اپريل کې د محمد ولي خان ځانګړی هيئت يا پلاوی مسکو ته ورسول شو. کاظم بي هم په دې ډله کې شامل و. او له هغې وروسته هغه په عشق اباد کې وينو چې د "غريبانو غږ" د ترکي ژبي جريدي Vioce of the foor سره همکاری کوې اوخپل ځان يې د هغه ځای يو تکړه حکمران جوړ کړی و، د ۱۹۱۹م کال په اکتوبر کې يې په کاګان کې د ځوانو بخارايانو د ټولني په جوړولو کې هلې ځلې وکړې او په سياسي غورځنګ کې يې ونډه درلوده او د افغانستان سره يې هم خپل اړيکي ساتل او د هرات حکمران ته به يې ليکل چې:

"په دې نږدې وختونو کې به د پان اسلامي قواوی ايران ته ورداخلې شي او د انګليس پوځونه به له هغه ځای څخه وباسي او تاسو ته د بلشويک دوستانو په برخه کې ځانګړی ډاډ درکوم چې هغوي د مسلمانانو ډېر نزدي دوستان دي او د غازي امير امان الله لپاره به دوی الوتکې، توپونو او نور ډېر جنګې سامان برابر کړي." [56]

**۸_ مولوي برکت الله:**

[56] ادميک افغانستان ۱۴۴، د هند د ملي ارشيف د محرمانه اسنادو څخه ۱۶۰ د ۱۹۲۰م کال د فبروری مياشت

د منشي قدرت الله بهوپالي ځوی و چې د هندوستان د جیدو عالمانو څخه و هغه په توکیو کې د اردو ژبې پروفیسور او په هند کې د بریتانیا د سرسختو مبارزو مخالفانو له جملي څخه و، چې په ۱۹۱۴م کال کې یې د بریتانې د سفارت په اشاره په جاپان کې له کار څخه ګوښه کړ، چې بیا له دغه ځای څخه سانفرانسیسکو ته ولاړ، او د هند د ازادۍ غوښتونکو په ټولنه ( غدر) کې شامل شو، هغه د جهاد دیني او تبلیغي دقیقي مقالې په فارسي ژبه د کابل سراج الاخبار ته د جاپان څخه رالېږلې، [57] او په کابل کې د هند د ازادۍ غوښتني د یوه تکړه او ملي عنصر په توګه پېژندل شوی و، نو په همدې اساس د الماني پلاوی سره کابل ته راواستول شو، او په دې ځای کې د راجه مهندرپرتاپ او ، مولانا عبدالله سندهي سره یو ځای یې د انګلیس ضد ولولې راګرمې کړې، او په جنودربانید ( د هند دخلاصون سرتېري) کې یې د جنرال د مرستیال رتبه درلوده، او د ازاد هند په موقتي حکومت کې چې په کابل کې جوړ شو صدر اعظم و، ( ۱۹۱۶م کال د جنوری ۲۴) د دې لپاره چې د ۱۹۱۷م کال په پای کې د شوروي ترکمنستان بهرنۍ کمیسایت امیر حبیب الله خان ته د دوستانه اړیکو د ټینګولو پیغام ورکړ، برکت الله د کاظم بې سره یو ځای چې پخوا یې یادونه وشوه د شوروي ترکمنستان جمهوریت ته د خبرو اترو لپاره واستول شو.
په ۱۹۱۹م کال کې د افغانستان د ازادۍ د اعلان څخه را وروسته هغه وخت چې ګرځنده او د امان الله خان ځانګړی سفیر محمد ولي خان د همدې کال د اپریل په ۷ نېټه د تاشکند له لیارې مسکو او

---

[57] وګورئ د سراج الاخبار ۴ مخ ۲ ګڼه ۳ کال د ذلقعدې لومړی نېټه، ۱۳۳۱ق کال یا د ۱۹۱۱م کال د اکتوبر ۱۲



نورو اروپایي هېوادو ته واستول شوپه دې سیاسي پلاوی کې برکت الله او کاظم بې دواړو ګډون درلوده چې د ۱۹۱۹م کال د اکتوبر په ۱۰ په مسکو کې ورته د درناوی ډک او تود هر کلی ووېل شو.
برکت الله د مسکو څخه د منځني اسیا شوروي برخې ته بېرته راوګرځېد او د بریتاني پرضد لمسونوته یې دوام ورکړ، او دیلشویزم او اسلام په موضوع یې یوه رساله ولیکله، او په هغې کې مارکسسي سوسیلیزم یې په اسلام کې د بیت المال د تصور یو ډول بېرته راګرځېدنه وبلله، چې یو ډول داسې خزانه ده چې عمومي او په ټوله ټولنه پورې اړه لري.
د دې کرښو لیکوونکی د ۱۹۲۰م کال را وروسته د برکت الله د عواقبو څخه خبر نلرم، ولي باید ووایو: چې دغه پلټونکی، ویونکي او تکړه شخصیت خپل عمر د بریتانیا د استعمار او امپریالېزم سره په مبارزه کې تېر کړی و.

* * *

په هر صورت د ۱۹۱۵ م کال د اکتوبر په نیمایي کې دغه ګډ پلاوي دېغمان په تپه کې امیر خپل حضور ته ومانه او خبري اتري پیل شوي. پلاوي هڅه کوله چې امیر د انګلیسانو پر خلاف د جهاد اعلان او د المان د متحدینو طرفداری ته وهڅوی او هغه لیک چې انور پاشا راوړی و لاندیني څلور موخي په کې وې:
اول : د دې لپاره چې عثماني سلطان جهاد اعلان کړی باید امیر هم همداسې وکړي.

دوهم : ایا امیر د افغانستان د خاورې له لارې " عثماني ترکي عسکروته سند ته د تېرېدلو اجازه ورکوي؟
دریم: باید افغانستان د انګلیس سره خپلې اړیکې وشلوي.
څلورم : امیر باید ټولي متنفذ او بارسوخه ملایان د جهاد اعلان ته راوګماري.
لاکن امیر د دې مسئلو په ځواب کې نوموړی پلاوی ته وویل : د افغانستان خلک د راسخې عقېدې مسلمانان دي لاکن د جګړې وسایل نه لري، نو په دې اساس همیشه یوازې د خپل هېواد څخه د دفاع لپاره چمتو دي.
پلاوی امیر ته د هر ډول نظامي مرستې او وسلو او دولس سوه زره پونده تقاوي وعده ورکړه، لاکن امیر قطعي ځواب ورنکړ او مسئله یې خپل د مشوري مجلس ته واچوله.
په دې وخت کې د امیر درباریان دوه ډلې و:
یوه ډله یې د جګړې طرفداره وه چې په هغې کې د امیر ورور سردار نصرالله او د امیر دوه زامن عنایت الله او امان الله شامل و، چې د محمود طرزي ( د شهزاده ګانو خسر او د روڼ اندو مشر او مهم غړی ) دیني کړیو د ترک د طرفدارانو او د زیاتره افغاني قبایلو له خوا یې ملاتړ کېده، دوهمه ډله یې د انګلیس طرفداران و چې د عبدالقدوس خان اعتماد الدوله په شاوخوا راغونډ شوي وو. چې په هغې کې د بې بې حلیمې ساتونکي ( د امیر میره مور چې د خپل ځوي عمر خان د امارت خوب یې لېده) د هندوستان سره د معامله لرونکو سوداګرو ډلې ځینې نظامي کسان او بروکراتان په کې شامل وو، لاکن امیر غوښتل چې د دې ډلې سره سیاسي لوبه په ډېر احتیاط سره تر سره کړي، او د انګلیس طرفداران وساتي، په داسې





حال کې چې عمومي انتظار داسې و چې امیر دی د دغه بهرنی پلاوی سره جوړ راشي او جهاد دی اعلان کړي.
په دې وخت کې د برتانوی هند د دولت سیاسي نماینده حافظ سیف الله خان ته د خلکو له خوا پټ اخطارونه ورکول کېدل چې د هغه د نمایندګۍ ځای د خلکو د تاخت و تاز لاندې راځي، تر څو د برتاني سره جنګي عملیات ترسره شي، ( د نوموړی حافظ لیک د ۱۹۱۶م کال د جون میاشت ) . پته دی پاتې نه وي چې د ۱۹۱۵م کال د سپتمبر څخه دمخه هغه وخت چې دغه الماني پلاوی د هزاره جاتو په لاره د هرات او کابل تر منځ و د هند وایسر او برتاني د امپراطور په لاسلیک یو لیک د امیر حبیب الله خان په نامه راولېږه، او هغه یې د برتاني اطاعت او د بې طرفۍ ساتلو ته وهڅاوه، او د هغې میاشتې تقاوي یې د یونیم لک څخه دوه لکو ته د پټې خولې نېولو په خاطر زیاته کړه.
امیر د دربار د بېلا بېلو ډلو د جهاد د عمومي تمایل او د الماني پلاوی د هیلو تر منځ د یوه ماهر لوبغاړی په شان رول لوباوه، د یو پلوه یې الماني، ترکي او هندي میلمانه په مستقیمو او غیر مستقیمو خبرو اترو مصروف ساتل، او په دې ترتیب د افغانستان، المان او د هغه د انډیوالانو تر منځ یولس ماده ایز تړون ۵۸

---

[58] لکه څنګه چې د ساتلي مخفف لیکن Seiler په روزنامچه کې په انډیا افس ( لزن) کې راغلی دی د تړون دی مسودې لس مادي درلودي، چې د هغې په سریزه کې د افغانستان او المان او د داوړو خواو حکم لرونکو او د المان د نورو متحدینو تر منځ د دوستۍ ټینګښت، او د افغانستان د ازادۍ په رسمیت پېژندلی و، او د افغانستان لوري باید عسکري قواو په مجهزولو او د هغې په اساس تنظیم لاس پورې کړي، او د فارس، هند او د روسي ترکستان د خلکو سره سیاسي اړیکي ټینګې کړي، او المان سل زره عصري توپکونه، درې سوه پوپونه

برابرولو ته ورنږدې کېدل؛ لاکن د بل پلوه په همدغه ورځ چې په سبا ته یې باید تړون لاسلیک شي د ۱۹۱۶م کال د جنوری په ۲۵ د برتانیا نماینده حافظ سیف الله یې راوغوښت او په یوه ځانګړې مرکه کې یې هغه ته د بیطرفۍ د سیاست د ادامې ډاډ ورکړ او ویې ویل : چې سربیره پر دې، په عمومې دربار کې د دې سیاست د دوام اعلان هم وکړي، لاکن د هغه خبرې به د عوامو خلکو د ولولو د تسکین لپاره وې او د برتاني دولت باید د ده د خبرو څخه په ویره او تشویش کې نشو، او دغه وعده شوې دربار څلور ورځې وروسته د جنوری په ۲۹ نېټه جوړ شو، کله چې امیر د بي طرفۍ دوام اعلان کړ، د قبایلو او کابل خلک چې د جهاد اعلان ته سترګې په لار وو تول خفه شول، او د المان، ترک او هند ګډ پلاوي ناکام شو، او په دې اساس د پلاوي اروپايي غړو د ۱۹۱۶م کال د می په میاشت کې تصمیم ونېوه چې د کابل څخه ولاړ شي.

او نور عسکري تجهیزات د لس ملیونه سترلنګ پونډو سره افغانستان ته ورکړي، دغه راز المان به خپله لاره د پارس د هېواد لپاره خلاصوي، تر څو د دې لارې څخه افغانستان ته مرسته ورسېږي.
د دوارو لورو تر منځ سیاسي اړیکي ټینګي او هنتنګ د المان د استازی په توګه په کابل کې پېژندل کېږي، د افغان استازي یا نماینده پارس ته استول کېږي تر څو هلته د المان د متحدو دولتونو ( مرکزي قواوې ) د سیاسي نماینده ګانو سره خبرې وکړي، په کابل کې د الماني د سفارت او قونسلګری د پرانستلو په برخه کې به په نږدې وخت کې لازمه مفاهمه وشي. ( ادامیک: افغانستان ۹۴).



د هغو اسنادو له مخې چې په ملي ارشیف کې شته : سردارنصر الله هڅه کوله چې هغوی ولاړ نشي او وعده یې ورکوله چې د امیر د خوښۍ بر خلاف به سرحدې قبایلو د بریتانیا سره د جګړې لپاره چمتو کړي، لاکن د پلاوی غړو دغې وعدې ته اعتبار ونه کړ او نیدرمایر د روسي منځني اسیا د لارې ځان تهران او کرمانشاهان ته ورساوه، او په دې لاره کې د یوې فرقې په اندازه مرسته ولېدله، لاکن هنتنګ د چین او امریکا له لارې جرمني ته ورستون شو، په داسې حال کې چې د پلاوی نور غړي په هرات کې تر هغه وخته پاتې شول، تر څو چې د ۱۹۱۷م کال د اکتوبر شوروي پاڅون د برتانیا د مخالفو کارکونکو لپاره لاره هواره کړه [59]
امیر په دغسې سیاسي ماهرانو عملیاتو سره ځان د المان او ترک د ګډو هیلو او خواهشاتو څخه خلاص کړ، او د ۱۹۱۶م کال د سپتمبر په ۱۶ نېټه کې د بریتانیا نماینده سیف الله خان یې بیا دستي راوغوښت او د هغې سره یوازې کښیناست او د پلاوی موضي او اهداف یې غوره او په زړه پورې ونه بلل، او ویې ویل چې هغوی په ناهیلي سره له کابل څخه وتلي، او زموږ د هېواد له سرحد څخه به تېر شوی وي، او یوازې درې تنه یې کاظم بې، برکت الله او مهندره پرتاپ په کابل کې پاتې دي چې د هغه د اندیښنې وړ دي. د دې لپاره چې هغوی میلمانه دي، دانه پوهېږې چې څه ډول خپل ځان له دوی څخه خلاص کړي؟ لاکن په خپله دوی هم تصمیم لري چې په نږدې وخت کې له دې ځای څخه ولاړ شي.
امیر ډاډ ورکړ چې په بې طرفۍ، او د بریتانیا سره د تړلتیا او د دوستۍ په وعده ټینګ ولاړ دی، او د خیرالدین او احمد په نومونو

[59] ادمیک: افغانستان ۲۲۵.

Library

دوه تنه چې د تیراه قبایل د انګلیس په مقابل کې راپاڅوي، د ترکي نماینده ګان ندي، لومړنی کس د کابل په حربي ښوونځي کې ښوونکی و د دې لپاره چې شاګردان یې سیاست ته را بلل، برطرف شو او دوهم کس شاهي پخلنځي اشپز و، چې د نااهلي په اساس ووژل شو، دغه دواړه د امیر د اجازي او خبرتیا پرته تیراته تښتېدلي دي او د هېڅ کومي خوا نماینده ګي او واک نه لري، او باید دي چې د بریتانیا نماینده خپل دولت ته له دې خوا څخه پوره ډاډ ورکړي [٦٠]

دریم : په کابل کې د یوه ازاد موقتي حکومت جوړول :

لکه څنګه چې وویل شو، راجه مهندره پرتاپ او مولوي عبیدالله سندهي مخکې د افغاني شخصیتونو سره د خبرو اترو مقدمات د حاجي عبدالرزاق پواسطه برابر کړی وو او سردار نصرالله نایب اسلطنه یې راضي کړی و چې د هند یو موقتي حکومت په کابل کې اعلان کړی. کله چې برکت الله د الماني پلاوی سره کابل ته راغی لکه څنګه چې د هندي مهاجرو طالبانو څخه یوه تن د مولوي غلام جیلاني ځوی عبدالباري کله چې په ایران کې ونېول شو د هند پولیسو ته یې د یوه سلطاني شاهد په توګه داسې بیان ورکړ، د هندي ډلې مشران او کاظم بی د نایب اسلطنه په اجازه د حاجي عبدالرزاق په کور کې راغونډ شول تر څو د ازاد هند د حکومت د جوړولو لپاره لارې چارې برابرې کړي، په لومړي سرکې په نظر کې و چې دا حکومت دی د شاهي کورنۍ د شهزاده ګانو څخه د یوه تن په صدارت په کابل کې جوړ شي لاکن وروسته په دې خبره سره یوه خوله شول چې د حکومت صدر دی مهندره پرتاپ، صدراعظم دی مولوي برکت الله او د کورنیو چارو وزیر دی مولوي عبیدالله

[60] تحریک ۱۱۸



سندهي وي [٦١] او دغه ازاد حکومت د ازادۍ غوښتونکو د مقر څخه ( د کابل بابر باغ ) څخه اعلان شو د ( ۱۹۱۶م کال سپتمبر) هغه اطلاع چې په دې برخه کې د هند د وایسراد بهرنیو چارو د دفتر له خوا د ۱۹۱۶م کال د سپتمبر په ۱۶ نېټه ثبت شویده او د سیاست

[61] لکه څنګه چې وویل شول هغه د شیخ الهند د ملګرو څخه و، چې په کوچنیوالی کې یې په بوتاسنګه مشهور و کله چې مسلمان شو، عبیدالله ونومول شول، او په دیوبند کې یې اسلامي علوم ولوستل او د ۱۹۱۵م کال په اکتوبر کې کابل ته راورسېد ، چې د ملي مبارزینو د مشرانو څخه شمېرل کېده، دغه فعال او سر سخته انقلابي شخصیت د شاه ولي الله د هلوي د فلسفي د شرحه کوونکو څخه و نوموړی د اسلامي علومو تکړه عالم، پلټونکی، کوښښ فکرمند او ازاد مشربي شخص و سرېېره پردې چې د ازادۍ غوښتني خوې، سیاسي کارنامې او د هند په موقتي حکومت کې غړیتوب او د جماعت خدام خلق ( جنودالله ) جوړول یې تر سره کړل، په اردو او عربي ژبو یې ډېر لوړ اشار ژباړلی دی چې د هغې جملې څخه کتاب التمهید په عربي او تحریک سیاسي شاه ولي الله په اردو او اوه کاله په کابل کې په اردو ژبه لیکل شویدې هغه د اماني دورې تر اولو وختو پورې یعني اوه کاله په کابل کې پاتې شو، او د شاه څخه یې د هندي درس خانې اجازه واخیستله، چې د بریتانیا دسفارت د مداخلې په اساس ونه پرانیستله شوه، او په ۱۹۲۳م کال د تاشکند د لېارې مسکو او استانبول ته ولاړ او د شوروي د انقلابیونو اولنیم سره یې لېدنې وکړې، او انقلابي تجربې یې تر لاسه کړی او په ترکیه کې یې مصطفی کمال ولېده او له دغه ځای څخه یې په مکه معظمه کې استوګنده غوره کړه او د خپلو دیني او انقلابي افکارو په لیکنه او تالیف بوخت شو،

کله چې هند ازاد شو او په ۱۹۴۹م کال کې د ده د بیرته راستنېدو لاره هواره شوه، هندته بېرته راغی او د " هندستاګر اکادمی " په نامه یې علمي موسسه جوړه کړه، او د عمر وروستی وختونه یې د شاه ولي الله د فلسفي په تغیر، تبلیغ او خپرېدو کې تېر کړل، او د مولانا تاج محمود سندهي قبر ته نزدې د سند د سکارپور د امروت په کلی کې اوسېده ترڅو چې همدلته مړ او ښخ کړای شو.

په نړۍ کې د (دوريښمينو ليکونو قضيه) په نامه ياديږي داسي دي: چې عبيداله تندهي به په وريښمينو دستمالونو ليکونه ليکل چې په ښکاره به نه ليدل کيدل، لاکن دليک اخستونکي کولای شول چې ديوه کمياوي عمل تر سره کېدو وروسته هغه ولولي، دغه ليکونه د عبدالحق پواسطه چې د ملتان د خان بهادر رب نواز خان گمارل شوي جاسوس و د نوموړي خان دوه زامن اله نواز او شاه نواز د هندي مهاجرو طالبانو په ډله کې په کابل کې و ددغه جاسوس پواسطه چې پورته يې نوم ياد شو لاهور ته دغه ليکونه راوړل شول او د نوموړي خان بهادرخان پواسطه د هند دحکومت پلاس کې ولويدل او مسله رسوا شوه.

پدي وريښمينو ليکونو کې چې مولوي عبيداله سندهي د کابل څخه ليکل ويل کېږي چې الماني پلاوي په کابل کې په درناوی سره ومنل شو، لاکن په خبرواترو کې کوم ځای ته ونه رسيده، ځکه افغانستان وغوښتل چې ترکي سر تيري دي د افسرانو، وسيلواو نقدي مرستي سره د افغانستان مرستي ته راشي،او دهغه د جگړې متحدين دي ددې هېواد د سلامتيا اوساتني ژمنه وکړي . نو هغه وخت به افغانستان کې د انګليس پر ضد په جهاد کې پاڅون وکړي، لاکن ددې لپاره چې عثماني دولت دغه شر طونه ونه منل، نو پدې اساس الماني پلاوي ناکام پاتي شو.

د هند ازاد موقتي دولت چې د هغه غړي د کابل په باغ بابر کې ناست و په لاندي کړنو لاس پوري کړ:



لومړي: تزاري روسي ته دسفارت ديوه پلاوي استول او دهغه ځاي څخه کابل ته د سفير دراليږلو هيله. [۶۲]

دوهم : هندوستان ته دسفارت استول (چې بريالي ندي) .

دريم : د پارس د لياري استا نبول او برلين ته د استول. [۶۳]

څلورم: چين او جاپان ته دسفيرانو استول. [۶۴]

---

[62] د ۱۹۱۴ م کال دسپتبر ده انيتهي دهند د بهرنيو چارو ددفتر د اطلاعي په اخير کې وايې چې: ډاکتر مهتر اداس دشميرسنگه په نامه او هم خوش محمد او عبدالقادر چې طالبان و ددې هيت غړي هم و، چې د ۱۹۱۶ م کال د مارچ په مياشت کې تاشکند ته ولاړ او دهمدي کال د مى په مياشت کې بيرته کابل ته راغلل،(تحريک۱۱۷ ) .

[63] ددې هدف لپاره د لاهور دوه تنه مهاجر طالبان عبدالباري د غلام جيلاني ځوي او شجاع اله د لاهورى حبيب الله ځوي د مولانا عبيداله سندهي له خوا له کابل څخه واستول تر څو د ايران دلياري ترکي ته ولاړ شي. لاکن د ۱۹۱۴ م کال د اگست په مياشت کې د ايران په محمود اباد کې د ايران د سر تيرو پلاس ونيول شول او روسي گارد ته تسلم کړي شول تر څو چې دواړه په ترتيب جام کې انگليسي مامورينو ته وسپارل شول، او له هغه ځاي هغوي هندته واستول، تر څو چې دسلطاني شاهد په توګه يې د ازاد هند د حکومت د فعاليتونو ټول معلومات انگليسي حکومت ته وسپارل، چې د هغي تفصيل د تحريک شيخ الهذ په کتاب کې راغلي دي.

[64] دې پلاوي چې متهر اسنگه او شيخ عبدالقادر په کې شامل و د مهندره پر تاپ او برکت الله دليکونو سره چې د چين د سون يات سسن او د جاپان د شهنشاه ميکادو په نومونو ليکل شوي و د ۱۹۱۴ م کال د جولاى په مياشت کې دروسي ترکستان له لاري سفر وکړ، لاکن په هغه ځاي کې د تزاري حکامو پلاس ونيول شول او په مشهد کې د برتانيا جنرال قونسل ته وسپارل شول اوله هغه ځايه لاهور ته راوړل شول چې متهر اسنگه په يوه ځانګړي عکسرى محکمه کې تورن او د ۱۹۱۷ م کال د مارچ په ۲۱ اعدام شو(تحريک ۳۴۲ ) .

پنځم : هند او برلین ته په تکرار سره د سفارت یو بل پلاوي استول کېږي[65]

شپږم: د هند موقتي حکومت د جنودربانیر په نوم ( دمسلم د خلاصون لښکر، سالوشین ارمی) یو تشکل په مدینه، استا نبول ، تهران او کابل کې د کاغذ په مخ جوړ کړ چې ټول عالم اسلام د هند څخه تر مصر او استانبول پورې په کې شامل و: چې د هغې ښوونکي د مسلمانانو خلیفه د ایران احمدشاه قاجار او امیر حبیب الله خان و. چې د کار خلک اوسالاران یې د اسلام په ټولو خلکو چې د افغاني قبایلو د مبارزو خلکو په ګډون په کې شامل شوي وو. چې ددې غیر عملي پیښې ټول تفصیل د مولوي عبیداله سندهي په وریښمینو لیکونو کې ( چې د انګلیس دجاسوسانو په لاس کې ولوید) لیکل شوي دي.[66] لاکن دا ټول ترتیبات کاغذ پر مخ پاتې شول اوعملي

---

[65] تحریک ۱۱۴.

[66] ددې وریښمینو لیکونو اردو ژباړه د تحریک په کتاب کې د انډیا افیس د اسنادو له مخې چاپ شوي دي. ددې لیکونو راوړونکي عبدالحق چې اصلا جیون داس دلورندارام ځوي د پنجاپ د شاهپور خلصي د جنجیال اوسیدونکي و چې په ۱۹۱۲ م کال کې مسلمان شو چې یو څه وخت دملتان خان بهادر رب نواز خان په کورکې دده ددوه زامنو هر یو الله نواز او شاه نواز په ملګر تیا کابل ته ولاړ او د ۱۹۱۴ م کال په جولای کې یې د عبیداله سندهي څخه دشیخ عبدالرحیم سندهي په نامه وریښمین لیکونه واخستل، چې هغه په عربستان کې مولانا محمود الحسن ته ورسوي، لاکن عبدالحق هغه په لاهور کې خان بهادر ته ورکړ تر څو چې د هند حکومت ته ورسیده،

یعني دا چې دغه شخص او د خان بهادر ځامنو د همدې کار لپاره کابل ته هجرت ! کړي و او عبدالحق د همدغه خدمت په بدل کې د پنجاب د اوسپني د لارې په پولیسو کې ، تاکل شو، (تحریک ۳۰۲ ).



اړخ یې نه درلوده، نو په همدې اساس په هند کې انګلیسي اشخاصو هغه له یوې توکې پرته بل څه نه بلل. لاکن د ختیځ له لورې:

هغه بل سیاسي جریان چې د پښتنو خلکو افکارو ته یې تکان ورکاوه او سیاسي ویښتوب یې مخ ته راوړه، او د افغانستان پر خلکو یې هم اغیزه کوله، همدغه د هند د ازادي غوښتونکو حرکتونه او ددغه ځای سیاسي ګډوډونه و چې د شلمي پیړۍ په لومړیو وختو کې په ټول هندکې په خوشحال سره په هغې لاس پورې کړې و او تل یې غوښتل چې د هند د شمال لویدیځ سرحد او دنیمه ازادو قبایلو د خلکوله قوي څخه هم کار واخلي، او لکه څنګه چې وویل شو، ددې خاوري ازادي غوښونکي خلک دشلمي پیړۍ داوایلو څخه د هند دسیاسي اودیني ګوندونو سره اشنا شول، د حیرانتیا ځای دی. چې د برتیانوي عصر په اواخرو کې هغه وخت چې د برتانوي دولت استونکي پلاوي د هند دسیاسي حالاتو د مطالعي او سروې لپاره راتلل وي موندله چې په شمال لویدیځه صوبه کې سیاسي ویښتیا او د ازادي غوښتني منظم فعالیتونه د هند د نورو ټولو ولایاتو څخه ،( حتي په بمبي کې هم) ډیر زیات دي. ( د ۱۹۴۵ م او ۱۹۴۶ م کلونو د کرپس راپورته دې مراجعه وشي).

حزب الله :

دا د برتیانیا په محکومه خاوره کې د پښتنو خلکو دسیاسي ویښتیا په لړ کې لومړني سیاسي او اصلاحي حرکت وې، چې د ترنګزو په حاجی صاحب مشهور د فضل واحد او دده د ملګرې مولوي عبدالعزیز اتمانزي( چې په ۱۹۳۴ م کال وړ) مولوي فضل الربي ( په ۱۳۳۵ ش کال په کابل لوګر کې و مړ) او فضل محمود

مخفی ( په ۱۹۴۷ م کال و مړ) د پښتو مشهور شاعر ددې ګوند لـه مخکښانو څخه و.

حزب الله ددې مهم مرامه درلودل:

اول ـ یو ټولنیز اصلاحي او د مغرو رسومو او عاداتو سره مبارزه.

دوهم ـ د ازادي د حاصلولولپاره کوښښ او دانګلیس د استعمار په ضد د جهاد اعلانول ، چې په هغه وخت کې د چارسدي د اتمانزو ځوان خانزاده محترم خان عبدالغفار خان د بهرام خان ځوی هم پدغه لاره کې کوښښ کاوه، ددې لپاره چې دلومړي نړیوالي جګړې په پیل کې ( ۱۹۱۴ م ) د ترنګزو د حاجی صاحب دنیولو امر ورکړشو هغه د خپل ګوند مرکز د ازاد سرحد دباجوړ سورکمر ته رانقل کړ اودغازی اباد دکلی بنسټ یې کیښود چې د حاجی ارامګاه هم په همدغه ځای کې ده.

لکه څنګه چې موورېل حاجي په خپل دغه ګوند سره د انګلیس په ضد په صوبه سر حد کې د ډیرو اوږدو مبارزو مصدرو او خون ګرمه مبارز ملګري یې درلودل.

چې ددغې جملې څخه میرسیدجان چې د بابړی په ملا مشهور و چې د پیښور په شمال په شبقدر کې په ۱۹۱۱ م کال کې د انګلیس دسرتیرو سره په جګړه اخته و

( ۱۳۴۲ ق کال په چامنګ کې و مړ) او ملااحمدجان چې په سنډر کې په ملاصاحب مشهور و په چکدره او ملکنډ کې یې د انګلیسانو سره جهاد وکړ( ۱۹۱۴ م) اویو کال وروسته په ۱۹۱۵ م کال کې دوزیرستان قبایل هم د استعماری قواو په ضد په جهاد لاس پوري کړ او مومندو قبایلو د تر نګزو د حاجی په مشري په شبقدر کې د انګلیسي عسکرو پر ځایونو شبخونو نه وکړل او د



قبایلو دغو هلوځلو په ۱۹۱۸ او ۱۹۱۹ م کلونو کې هم دوام درلوده لکه د مغول کوټ، تانک رپوزي،توچي، کسي غر، کاور،مانجی ګري، ژژی، درابن، ترکي او قلصه دوه او داسي نورې جګړې، چې دغو ټولو انقلابی حرکتونو زمونږ د هېواد په ختیځ کې خلک راوپښول، او په عوامو کې یې د ازادي روحیې ته قوت ورکاوه، پداسي حال کې چې د افغانستان د ازادی جګړه هم په بریالیتوب سره تیره شوی وه او دافغانسان خلک یې راوپښ کړي او دوهم مشروطیت ثمرته رسیدلي و.

دهېواد دشمال او لویدیځ حالات:

لومړني نړیواله جګړه چې د ۱۹۱۴ م کال په اګسټ کې پیل شوي وه د ۱۹۱۸ م کال د نوامبر تر ۱۱ یې څلور کاله دوام وکړ او دځینو هېوادونو سیاسي او ټولنیزو حالاتو ته یې بدلون ورکړ، پداسي حال کې چې د هېواد په ختیځ کې د هند دازادي غوښتونکو او سرحدي قبایلو خلکو یو ملی پاڅون لکه څنګه چې مخ کې ورته اشاره وشوه ټینګ و.

په شمال کې هم د تزاري روسي په پراخه هېواد کې، روسي کارګرانو ډیر لوي پاڅون وکړ او دلومړي ځل لپاره یې دسوشلزم ایدیا لوژي د عمل مرحلی ته ورسوله او کمونست ګوند( بلشو یک) د اکتوبر په سر انقلاب سره تزاری استبدادی دولت رانسکور کړ، او دشوروي روسي دنوی دولت واګی په خپل لاس کې ونیولي ( ۱۹۱۷ م کال دنوامبر۷ ) د شوروي ترکستان د بهرنیو چارو کمېسار په ۱۹۱۸ م کال کې امیر حبیب الله خان ته یو پیغام ور واستوه تر څو دواړه یو دبل سره دوستانه اړیکي ټینګي کړي:

پته دې پاتې نه وي چې د تزاري روسي ددولت او برتانيا تر منځ په ۱۹۰۷ م کال کې یو تړون لاسلیک شوی و، چې دهغه په لمړي ماده کې افغانستان دروسي د نفوذ څخه بهر سیمه ګڼل شوي وه او په څلورمه ماده کې په افغانستان کې دروسي او برتیاني د سوداګري په اړیکو کې د مساوات اصل منل شوي و. نوپد ي اساس د شلمي پیړي په لومړي او دوهمو لسیزو کې افغانستان او مخصوصا هرات، کندهار او کابل د هندوستان سره د روس او ایران دسوداګري تیریدونکي لاره وه. او دسوداګری د مالونو راکړه ورکړه او دخلکو تګ راتګ بخارا، تاشکند، مشهد پیښور، کراچی او بمبی ته زیات و. پداسي حال کې چې په قاجاري ایران کې دمشروطیت غورځنګ خپلو جګو پوړوته رسیدلي اوداسي فرمان دصادریدو سبب شو چې په ۱۹۰۷ م کال مظفر الدین شاه قاجار داساسي قانون اوملی شورا د جرګي د پرانستلو سبب شو.

دغه ټول حالات په افغانستان کې د مشروطه غوښتني د کمبود نه مړ کېد د محرکه عواملو څخه وو او ددې خاوري په روڼ اندو کې سیاسي درک او سنجش او عین پوهي نشوونما کوله.

اګرچې د ۱۳۲۷ ق کال په صفره کې په ډیر بد او خراب شکل سره د لومړي مشروطیت غورځنګ په کابل کې وځپل شو لاکن بیاهم سیاسي حالات او ملی ویښتیا د افغانستان په دریو برخو کې، او هم د افغاني ټولني د کورنی محرکه عواملو باز تاب دي ته نه پریښودله چې دغه لمبه په بشپړه توګه مړه شي، نو پدي اساس ګورو چې د مشروطیت غوښتني دوهم غورځنګ د افغانستان د روڼ اندو ځوانانو په منځ کې په یوی پرمختیائي انقلابي روحیې سره نشوونما



وکړه او دافغانستان د ټولنیزو حالاتو د بدلون او داستقلال او ازادي د بیرته تر لاسه کولو سبب شو.

۳

# محمود طرزي او سراج الاخبار

د ۱۳۲۷ ق کال د صفری دمیاشتي د وژني او تاراج څخه راوروسته چې امیر او د هغه درباریانو د مشروطه غوښتونکو لپاره روا بللی په ظاهري توګه دظالمو حاکمانو او دکورنیو او انګلیسی جاسوسی د سرچینو له ویری دا غږ غلي شو لاکن:

این قصه هفت ګنبد افلاک پر صداست
کوته نظر نګر، که سخن مختصر ګرفت

مظلومي او استبداد ځیلي ټولني دروانو اوبو خصلت لري که چیري مخي ته ئي خنډ ورپیدا شي په موقتي توګه بي حرکته پاتي کیږي او یو په بل باندي متراکمي کیږي او پـه ډیر زیات فشار او قوت سره دخپلي مخي څخه خنډونه لري کوي.

په ۱۳۲۳ ق کال کې دلومړي سراج لاخبار مرۍ دښکیلاک منګولو ونیوله او پرته له یوي ګڼي نور هیڅ خپره نه شوه. لاکن شپږ کاله وروسته امیر دوخت غوښتني او دچاپریال جبر ته سر ټیټ کړ او په ۱۳۲۹ ق کال کې بیا دهم هغه جریدي د خپریدني اجازه محمود طرزي ته ورکړه چې د سیاسي ویښتیا او دمشروطه غوښتني د تخم د پالني بلکه د ازادي غوښتني زمینه او سرچینه شوه. دغه نیکمرغه حرکت چې په ۱۳۲۷ ق کال کې داختناق سره مخامخ شوي وو، دوه کاله وروسته د سراج الاخبار پـه بیا خپریدو او دیوه مخلص افغان پوهه او تکړه لیکوال محمود طرزي پـه مسیحیایي نفس سره بیا ژوندي شو، دغه پوهه او مدبر شخص د هیاهوي لـه پیدا کیدو او



Library

ددربار دویرولو پرته په حقه سره د مولوي محمد سرور واصف علیه الرحمه په ځاي کیناست او دمشروطه غوښتني نیالیګي ئې ثمر ته ورسوه.

## محمود طرزي څوک وو؟

دنولسمي پیړي په لومړي لسیزه کې د ابدالي احمد شاه امپراطوري چې دپاتي کسانو تر منځ ئې شدید اختلاف پیدا شوي و. ټوټي ټوټي شوه او بارکزائي سردارانو(د سردار پاینده محمد خان محمد زائي خامن) د ۱۲۴۲ ق کال د ربع الثاني یا ۱۸۲۶ م کال د عهد نامي لـه مخي چې د هغي اصل د کابل پـه ملي ارشیف کې موجود دي، ددراني امپراطوري پاتي مځکي او برخي لکه د خپل میراثي او شخصي مال پشان ترکه او وویشلي، چې پراخه کندهار د شاه جوي څخه تر فراه او شکارپوره پوري په هغو پنځو ورونو پوري تعلق پیدا کړ کوم چې (دغلجي ایدو خپل هوتک له موره څخه و). یعني: پردل خان چې په مشرقي متخلص و.

رحمدل خان چې په ۱۲۷۵ ق کال کې په ایران کې مړ شو او پـه نجف اشرف کې خاورو تـه وسپارل شو دغلام محمد پـه نامـه یو ځوي درلوده چې په هندی سبک کې ددیوان درلودونکي شاعر او هنرمند لیکونکي چې طرزي ئي تخلص کاوه(پـه ۱۲۴۵ ق کال کې پـه کندهار کې وزیږید او پـه ۱۳۱۸ ق کال دشعبان پـه ۱۵ دجمعي پـه ورځ په دمشق کې مړ شو) دا دښه ذوق درلودونکي، صوفي مشر بـه او هنر دوسته کندهاري سردار په هغه سیالي کې چې د افغانستان د امارت په سر ددوو ترونو دزامنو یعني دمیوند د فاتح سردار محمد ایوب خان او د(انګلیس دنماینده) دلیپل ګریفن غوښتل شوي او ګمارل شوي سردار عبدالرحمن خان تر منځ پیدا شوي وه، نوموړي د

Library

سردار ایوب خان (دانگلیس دښکیلاک مخالف عنصر) خواته میلان درلوده کله چې سردار عبدالرحمن خان امارت ته راغي(۱۸۸۰ م کال جنوري) د امیر جاسوسانو خبر ورکړ د سردار غلام محمد خان طرزي سره یو تن هراتي په یوه محفل کې ناست و او داسي ویل:

سردار محمد ایوب خان چې د کندهار دپیر پایمال دجګړي او دانګریز دلښکرو په مقابل کې دماتي څخه وروسته ایران ته تللي و بریالي بیرته راګرځي.

دافغانستان دژورنالیزم پلار علامه محمود طرزي وایي چې: امیر ددي خبرد تر لاسه کولو څخه وروسته دطرزي د مالونو دمصادره کولو او هند ته دده د تبعید امر ورکړ او هغه بل هراتي ئې زنځیر او زولانه یوړ او دهرات د غوریانو په سرحداتو کې دناجویه یوه ډېره جګه ونه کې یوه ډېره کلکه پنجره ورته جوړه کړه او دغه مظلوم ئې پکې واچوه، تر څو چې په همهغه کې هډوکي وراسته شول او دامیر په قول(تر څو وګوري چې دسردار ایوب خان موکب څنګه له ایران څخه راګرځي) [67]

وایي چې سردار طرزي ئې په ډېر بد حال دخپل کورنۍ ۳۶ تنو غړو سره کوټي او کراچي ته فراري کړ، (۱۸۸۱ م کال جنوري یا ۱۲۹۹ ق کال ). دهېواد څخه ددغه اجباری فراریانو په کاروان کې دسردار غلام محمد خا د ن ۱۶ کلن ځوي محمود نامی هم و ، چې د ۱۲۸۲ ق کال د ربیع الثاني په لومړي نیټه یا د ۱۲۴۴ ش کال د سنبلي په لومړي نیټه او یا د ۱۸۶۵ م کال د اګست په ۲۳ نیټه په غزني کې د سلطان محمود د قبر تر څنګه پیدا شوي و ، چې په همدی مناسبت ئې هغه ته "محمود" نوم کیښود.

[67] مهدی فرخ: تاریخ سیاسی ۱۳۵۱.



محمود ۱۷ کلن ځوان با سواده د ادبي ذوق درلودونکي دخپل پلار او کورنۍ سره د ۱۸۸۲ م کال څخه تر ۱۸۸۵ م کال پوري او دخپل عمر تر ۲۰ کلني پوري په کراچې کې ژوند وکړ او اردو ژبه ئې زده کړه. لاکن پلار ئې سره لدي چې بریتانوي هند معاش ورکاوه نه ئې غوښتل چې په دار حرب کې ژوند وکړي نو په همدي اساس د همدغه کال په دوبي کې دبحري کشتي پواسطه د خپل ځوی او کورني سره بغداد ته ولاړ اوبه دې ځاي کې ځوان محمود ترکي ژبه هم زده کړه او کله چې په ۱۳۰۴ ق کال یا ۱۸۸۶ م کال دمشق ته ولاړ، نو په هغه ځاي کې ئې عربي ژبه هم په بشپړه توګه زده کړه ، او تر ۱۹۰۰ م کال یا ۱۳۱۸ ق کال پوري چې عمر ئې ۳۵ کلو ته رسیده او لږ څه فرانسوي ئې هم زده کړي وه.

حقوقو ، ادبیاتو، سیاست او اجتماعیاتو او دطبیعي علومو د مبادیو په برخه کې خپلو پراخو مطالعاتو ته دوام ورکړ او لیکوال ، ژباړونکي، تکړه سیاستوال او دهېواد غوښتني شاعر تري جوړ شو او ډېر کتابونه ئې په دري ژبه تالیف او ترجمه کړل. او دعربي او عثماني پراخه هېواد ښارونو ته ئې سفرونه وکړل او دعربو او ترکي باسقافته رجالو سره اشنا شو.

سردار غلام محمد خان طرزي د ۱۹۰۰ م کال ددسمبر په ۷ یا په ۱۳۱۸ ق کال د شام په دمشق کې د هېواد په غربېۍ کې ددي نړي څخه سترګي پټي کړي او هم هلته خاورو ته وسپارل شو ۳۵ کلن محمود طرزي د همدغه وخت څخه هېواد ته دراتللو په فکر کې شو او د ۱۹۰۲ م کال د فبروري په میاشت یا په ۱۲۸۰ ش کال کې پداسي کال کې چې امیر عبدالرحمن خان دنړي څخه سترګي پټي کړي وي کابل ته راغي او نهه میاشتي ئې دلته تیري کړي چې په

Library

(بیگ صاحب) ئې شهرت درلوده. څرنګه چې امیر حبیب الله خان هغه بیرته خپل هېواد راتللو ته راوباله ، دمشق ته ولاړ، لـه ۲۳ کالـه تبعد څخه وروسته په ۱۹۰۵ م کال کې دټولي پلرنۍ کورنۍ سره یو ځـای کابـل تـه راغـي او پـه ده افغانـانو کـې (اوسـني ښـاروالي تـه مخامخ) د ملا عموي توخي په کور کې ئې استوګنه غوره کړه. او همدغه وخت دی چې پوهه، پرکاره او مدبر ځوان دهیواد خدمت یا چوپړ ته ملا وتړله د سراج الاخبار افغانیه د اته کالو خپرولو سربیره ۳۱ کتابونه او رسالي په نثر او نظم په دري ژبه تالیف او ترجمه کړي چې یوازي د روس او جاپان دجګړي تاریخ ئې په څلورو ټوکو کې ۱۲۷۰ مخونو حجم لري.(د۱۹۱۶-۱۷ م کال د کابل چاپ). د محمود ژوند په عین چوپتیا او خونسردي کې دهلو ځلو ، شور او تدبیر څخه ډک و، هغه کار کاوه پوښتونکي او لټونکي و، او دافغاني غرور او لوړتیا په بشپړه عقیده او کامل ایمان سره ئې د خپل هېواد لپاره مهم او دقدر وړ خدمتونه سر ته رسولي دي.لکه:

۱_ په افغانستان کې دنوي فکر او ژورنالیزم دبنسټ اینښودونکي، چې هغه د افغانستان د (صحافت او تجدد) پلار ګڼو او دا کار د ۱۳۲۹ ق کال د شوال په ۱۵ (د ۱۲۹۰ ش کال د میزان ۱۶ یا ۱۹۱۱ م کال ) چې د سراج الاخبار افغانیه لومړي ګڼه خپره شوه ، شروع شو. او داتم کال تر شپږمي ګڼي د ۱۳۳۷ ق کال د ربیع تر ۱۵ یا د ۱۲۹۷ ش کال د لبندي یا دقوس تر ۲۷ یا د ۱۹۱۸ م کال ددسمبر تر ۱۹ پوري دوام وکړ.

د( سراج الاخبار افغانیه ) لومړي ګڼه چې په ۱۲۹۰ هـ ش کال کې دعلامه محمود طرزي په مدیریت خپره شویده



۲_ ددري د نثر لیکلو د سبک ټنګښت او دتالیف او ترجمي رواجول، او دنوي عصر (۱۳۲۹_۱۳۳۷ ق) د اوصولو سره سم د مطبعي ترتیبول.

۳_ ددوهم مشروطه غوښتونکو ځوانانو اغیزمنه لارښوونه د ازادي او تجدد غوښتني د فکر پراخول، یعني دلومړي مشروطیت دټکول شوي غورځنګ بیا ژوندي کول او لکه د امان الله خان ، عبدالرحمن لودین او عبدالهادي او داسي نورو پشان د سربښندونکو ځوانانو روزل.

۴_ دافغانستان د ۱۹۱۹ م کال داستقلال د اعلان څخه راوروسته د امان الله خان په کابینه کې دلومړنۍ بهرنیو چارو د وزیر په توګه دده انتصاب، دکابل د ستوري په ماڼي کې دبهرنیو چارو د وزارت تشکیل، د،ستقلال د لاس ته راوړلو دمذاکراتو ریاست (په ۱۹۲۰ م کال په اپریل کې دهند د میسوري په غره او په ۱۹۲۱ م کال په کابل کې ) لدي وروسته په لندن، پاریس او دنړي په نورو مرکزونو کې د افغانستان د سفارتونو جوړول او خپلو جانشینانو او شاګردانو ته د بهرنیو چارو په وزارت کې دبهرنۍ سیاست لارښوونه.

۵_ دمیرمنو غورځنګ ته دهغه پاملرنه دهغي د لورملکي ثریا پواسطه دښځو د ښوونځیو پرانستل دستر رفع کول یعني دچادري لري کول، په (۱۳۰۰ ش کال دحمل په لومړي نیټه) دده دمیرمن اسما او دده د وریري روح افزا پواسطه د کابل دارشاد نسوان د جریدي خپرول، ددغو ټولو با ارزښته کارنامو سره محمود په ۱۹۲۲ م کال کې په پاریس کې د افغانستان مختار وزیر او په ۱۹۲۴ م کال کې ددوهم ځل لپاره د بهرنیو چارو وزیر وو، په

Library

۱۹۲۷ م کال کې په اروپا کې د مزاج د علالت تداوي وکړه په ۱۹۲۸ م کال بیرته کابل ته راغي ددي لپاره چې داماني حکومت د عمالو سره ئې په ځینو برخو کې اختلاف درلوده او عمر ئې هم (۶۰) ته رسیدلي وو، رسمي کارو څخه ئې ځان گوښه کړ.

محمود طرزي داماني دوري تر پاي پوري ، محترم پاک لمن او لاربښونکي شخصیت پاتي شو او ددي لپاره چې ملکه ثریا د امان الله خان میرمن ئې لور وه او اماني دربار په انگلیس ضد محور څرخیده او برتانوي پروپاگندي یا تبلیغاتي سر چینو دشاه، ملکي او ددربار په ضد په زهر جنو تبلیغاتو لاس پوري کړي وو چې دهغي اصلي علت دامان الله خان ضد انگلیس سیاست او مسکو ته دهغه تگ و. نو پدي اساس د ۱۳۰۷ ش کال په مني او یا په ۱۹۲۸ م کال کې اړو دوړ یعني اغتشاش ئې رامنځ ته کړ چې شورشیانو په خپل اوه فقره ایزو وړاندیز کې دمحمود طرزي د کورنۍ داخراج غوښتنه هم کړي وه.ددي لپاره چې امان الله خان هم کابل د اړو دوړ کوونکو مشر کله کاني حبیب الله (په بچه سقاو مشهور) ته پریښود او د۱۳۰۷ ش کال په جدي کې کندهار ته ولاړ، محمود طرزي هم په الوتکه کې دکندهار څخه هیرات ته او دهیرات څخه ایران ته ولاړ. چې اته میاشتي په ایران کې و. او له هغه ځایه څخه په ۱۹۲۹ م کال د اکتوبر په ۲۶ دشوروي دباطوم له لیاري بیا د ترکي په هیواد کې پناه هنده شو او په استانبول کې ژوند پیل کړ، تر څو چې په ۱۹۲۳ م کال د نوامبر په ۲۲ نیټه د ۶۸ کالو په عمر د ځیگر دسرطان د ناروغي له امله لدي نړي څخه سترگي پټي کړي، او دابو ایوب انصاري مزار ته نزدي خاورو ته وسپارل شو.(رحمه الله علیه)



واني چې هغه په خپل ژوند کې هغه ملهم و، چې دهغه مړینه دخپل گران هېواد څخه په لري والي کې واقع کیږي او ویلي ئې وو:

در غربت اگر مرگ بیگرد بدن من
ایا کی کند قبر کی دوزد کفن من؟
تابوت مرا بر سرکوهی بگذارید!
تا باد وزد بر سر ان از وطن من

لري نده چې هېواد ته دهغه د قدر وړ خدمتونو څخه ددرناوي لپاره د افغان نوي نسل د هغه پاتي شوي هډوکي د هغه د استاد سید جمال الدین افغاني پشان بیا هیواد ته راوړي، او هغه د کابل پوهنتون په زړه کې، دنوموړي سید تر څنگ د تل لپاره خاورو ته وسپاري:

(تا باد وزد بر سر او از وطن او)

د هغه افغاني پیلوټ چې محمود ئې د هېواد څخه د وروستي ځل د وتلو لپاره هیرات ته وړه ، داسي روایت دي چې محمود پدغه الوتنه کې ډېر ناراحته وو او اوښکي ئې تویولي او له ځانه سره ئې دا پښتو بیت زمزمه کاوه :

دا ستا په مینه په شپو شپو زه کریدلي یم
اوس دي پریږدمه چې انگریز درته غندلي یم

هغه ویل چې په دویمه مصرع کې اصلاً (چې رویبار درته غندلي یم) وو او دغه بیت د محمود وفاداره استاد ملامحمد اکرم هوتک چې د خپلي کورنۍ سره په دمشق کې فراري و دهیواد نه دوتلو په وخت کې ویلي وو.

l Library

## د محمود طرزي فکري جوړښت

ددي لپاره چې دمحمود طرزي فکر او اندیشي ددویم مشروطیت پر ټولو افغاني ځوانانو ډېره ژوره اغیزه درلودله او دټولو لاربښونکي او مخکښ و نو بې ځایه به نه وي که پدي ځای کې د هغه فکري بنسټونه لږ څه توضیح کړو:

۱_ د هغه د کورنۍ د انګلیس پرضدوالی:

د محمود پلار سردار غلام محمدخان طرزی د کندهار د بارکزایي ( محمدزی) حکمرانانو څخه د یوه تن سردار محمدي خان ځوی و چې په ایران کې مړ شو ځوی یې د کورنۍ د ځینو غړو او د ترونو لکه د سردار مهردل خان مشرقي ځوی سردار شیرعلي خان د هېلو بر خلاف د انګلیس د نفوذ د سلطې څخه بې زاره او متنفر و او په همدې اساس د ۱۲۹۷ق کال یا ۱۸۷۹م کال په جګړه کې د میوند دفاتح د سردارمحمدایوب خان طرفدار و او په همدې سبب امیر عبدالرحمن خان هغه د کندهار څخه کراچی ته تبعید کړ.

طرزي په کراچی کې د انګلیس د بېرغ لاندې ژوند ونشو کولای او لکه څنګه چې وویل شول، بغداد او دمشق کې یې عثماني اسلامي دولت ته پناه یوړه او د عمر تر پای هلته پاتې شو.

محمود چې د کوچنیتوب څخه په دې روحیه روزل شوی و، د عمر تر پای په دې مفکوره ټینګ پاتې شو او په هر ځای کې چې کردار وینا او فکر کار کاوه د برتانوی ښکیلاک د نفوذ پرضد یې مقاومت او مبارزه وکړه.

پلار یې طرزی هغه وخت چې د امیر شیر علي خان په عصر کې په کندهار کې د استوګنې په وخت د شعر، ادب، پوهې او فرهنګ په



طرفدار شهرت موندلی او د خپل وخت د عالمانو سره ملګری وه په ملي ارشیف کې په ډېره روانه عربي یو لیک د نسخ په ډېر ښکلي خط په دوو مخونو کې د قاضي طلامحمد پېښوری په خط موجود دې چې د مولوي عبدالرحیم بن مولوي حبیب الله د کندهار د خېړونکي په نامه لیکلې دې چې د هغې لیکونکی طلامحمد د پېښور د قاضي خیل د کورنۍ یو غړی او تألیف کوونکی عالم، شاعر او هنرمند دی، چې په هغې کې هم سردار طرزی ته سلام او احترام ډالۍ شویدي او معلومه ده چې طرزی ته یې ارادت او علمي او ادبي اړیکې درلودلې، لاکن هغه وخت چې سردار د انګلیس سره د مخالفت په جرم د هېواد څخه تبعید شو او په هند کې یې پیدا کړه چې نوموړی قاضي د ده د کاکا د ځوی قاضي قادرو په شان ( د امیرشیر علي خان د دربار جاسوس) د ښکیلاک د دستګاه د کارکونکو څخه دې. هغه یې وغنده، چې دغه غندنه د طرزی په چاپ شوې دیوان کې شته دی ( ۱۸۹۲م کراچی چاپ).

سره له دې چې سردار طرزی زاهد، خدای پالونکی او بې غرضه زوړ سړی و لاکن د انګلیس د سفارت د مامورینو د هلو ځلو په اثر په شام کې د عثماني دولت د ګمارل شوو کسانو نظر د پلار او د هغه د ځوی په نسبت بدلون موندلی و. او د محمود د ژوند په چارو کې یې ستونزې پېداکولې: لاکن پلار او ځوی دواړه د انګلیس پرضد عقیده باندې په دې خاطر ټینګ پاتې شول چې د اسلامي هېوادو سره د بریتانیانو امپراطوری رویه او د ښکیلاک سیاست او په ځانګړې توګه د افغانستان سره په دوو جګړو کې د نفرت او دښمنی وړ وباله.

Library

د افغانستان د صحافت په تاریخ کې د اوریدو ښینه ده چې درې کرښو لیکونکی هغه په خپله لېدلی او لوستلی ده او په ۱۳۰۱ش کال پورې اړه لري، چې په دغه وخت کې د ۱۹۲۲م کال د سپتمبر په ۱۵ د بلوچستان ګزټې جریدې د افغان د وښتیا په اړه یوه د پېغوره ډکه مقاله ولیکله چې ګنې د افغانستان استقلال د هغه تړون پایله ده کومه چې د ۱۲۹۸ش کال د اسد یا زمری په ۲۸ د برتانوی هند د حکومت سره لاسلیک شوه او د همدغه دولت سره رابطه وه چې لومړی توب خوښونکی ( قدامت پسنده) افغانستان یې اصلاحاتو او نوی مدنیت ته تمایل کړ.

د کندهار د طلوع افغانې جریدې د دې مقالې ځواب د ۱۳۰۱ش کال د قوس په ۱۰ یا د ۱۹۲۲م کال د دسمبر په لومړی نېټه یعنې د دې جرېدې په دویم کال د ۱۴ ګڼې څخه تر ۱۷ ګڼې پورې په څلورو برخو کې یو اوږد مطلب ولیکه. او په ډېره تنده او بده لهجه یې د بلوچستان ګزټې ته ځواب ورکړ د مثال په ډول :

" د افغانستان استقلال د انګلستان یو اعطا کړی شي نه دې ... کنه نو، که چېرې د استقلال پیداکېدل د برطانې د سیاستوالو پر وعدو او د کاغذې تړونونو په لاسلیک کولو پورې اړه درلودلی، نو ایرلیند سل کاله او هندوستان یونیم کاله مخکې باید د استقلال درلودونکې وای مګر:

ازاده ګی به شمشیر بسته اند
مردان همیشه تکیه خودرا بر اوکند....

هو، غواړم چې په پاکو او واضحه الفاظو سره ووایم، چې موږ د انګلیس سیاستوالو د افکارو څخه په بشپړه توګه خبر یو، چې په منځنۍ ختیځ کې د خپل نفوذ او د برطانې د حکومت د اقتدار د



ټینګښت لپاره، د کابل تسخیر د هغوی د خیال وروستۍ او مهمه نقطه ده. لاکن د برطاني سیاستوال باید پوهه شي چې هغه پیاله ماته شوه او هغه ساقي پاتې نشو... د انګلیس سیاستوالو او پروپاګند کوونکو لپاره د عمل غوره لاره یوازې همداده. چې نور د وړاندې تګ د پالیسی ( فارورډپالیسی) خیالات له منځه یوسې او د شاتګ په قهقراي پالیسی عمل وکړي.

فکر کوم چې انګلیس پروپاګند کونکی د عامو خلکو دغولولو لپاره د وړاندې تګ د پالیسی په ترڅ کې به د دغه راز لغویاتو د رواجولو لپاره نور اقدام وکړي، د رښتیني د زغلولو او د بهرني دسیسو څخه دی لاس واخلې او د خپلو کورنیو اغتشاشونو په له منځه وړلو کې دی کوښښ وکړي.

بد ریادر، منافع بیشمار است
اګر خواهی سلامت برکنار است

د طلوع افغان په جوابیه اوږده مقاله کې په اسلامې او ختیځو هېوادونو کې د انګلیس د سیاستوالو دسیسو او خراب او بد نیت ته ډېرې زړه بګنونکی اشارې شوې وې چې لهجه یې هم تنده او قهر امیزه وه.

لکه څنګه چې د محمود سره د بهرنیو چارو په وزارت کې یو مامور حبیب الله طرزی لیکې چې : څرنګه چې د هغې دندې ایجابوله یو لیک یې کندهار ته ولیکه چې د داسې مقالو لیکلې په سیاسي اړیکو کې جنجالونه رامنځته کوي. د دې جریدې مدیر ( خدای بخښلی عبدالعزیز خان چې بیا وروسته په باباجان مشهور شو) د دې لیک په ځواب کې یو ډېر شدید مکتوب د بهرنیو چارو وزارت ته را واستوه، او ښاغلی طرزی هم د هغې په ځواب کې یو شدید

Library

سره لیک تسوید کړ او ویې غوښتل چې د بهرنیو چارو د وزیر (محمود طرزی) لاسلیک پر هغه واخلي.

حبیب الله طرزی لیکي چې: کله چې وزیر دغه لیک تر پایه ولوست ماته یې وکتل او ویې ویل: غواړې چې دغه لیک زه لاسلیک کړم؟ هو! ځکه چې د بهرنیو چارو په وزارت یې سخته بلوسه کړېده! وزیر وویل:

" ماته دغه څوکۍ او مقام ارزښت نه لري او ځما د مسلک په مقابل کې چې ژو ـنالیزم دی په دوه توته هم نه ارزي، زه هم د هغه په شان یو جریده لیکونکی یم او هیڅکله ځان ته اجازه نه ورکوم چې د خپل "کولیګ" په مقابل کې داسې یو شی ولیکم." [68]

د حبیب الله طرزی دغه لیکنه ټیک ده او د دې کرښو لیکونکی چې یو څه وخت د طلوع افغان مدیر وم، په هغه ادراه کې مې داسې لیک لېدلی و چې محمود طرزی په خپل قلم لیکلی او لاسلیک کړی او د طلوع افغان د مدیر څخه یې د ځوان د ختیځ د ازادۍ غوښتونکو د مشر سره یو ځای څو میاشتې په استانبول کې بلد شو، او د هغه د قدر وړ انسان له برکته د هغه شور او ویښتوب نور هم زیات شو، هغه لیکي چې:

علامه سیدجمال الدین د پوهې یو کان و، دغه ځما او د ده اوه میاشتې مکرتوب د اویا کالو شباحت (سیلګری) په اندازه و ... هغه علمي، فلسفي، سیاسي، ټولنېز او نور هغه بحثونه چې هره

[68] محمد کاظم او هنګ تیر ژورنالیزم در افغانستان ۷۹ د کابل چاپ ۱۳۴۹ش



ورځ به د نړۍ د دغه علامه په مخکې روان و. د هغې د هرې جملې او عبارت د لیکلو لپاره کتابونه او رسالې په کار وې .. " [69]

د افغان سیدجمال الدین مبارزه چې په نړیواله سطحه پیل شوې وه او د هغه فکري پیروانو په ترکیه، مصر، ایران، هند او د اروپا په ځینو سیمو کې هغه تعقیبوله په دوو مهمو اصلونو یې بنسټ ایښودل شوی وه:

لومړی: په اسلامي هېوادونو کې د شاهانو او حکمرانانو د کورنۍ استبداد سره مبارزه.

دوهم: د امپریالیسم سره سرسخته مبارزه، په ځانګړې توګه د انګلیس د شاهنشاهي د کړو وړو او په ختیځو هېوادونو کې د هغوی د زورزیاتی سره محمود چې د کوچنیتوب څخه د انګیس سره شدید نفرت په میراث اخیستی و. د سیدجمال الدین افغاني سره په خپلو اوه میاشتینو بحثونو کې پدې نفرت او بد ویلو او غندلو کې نور هم ټینګ شو او په دې ترڅ کې دی ته هم پاملرنه وکړه چې د ختیځ د دغو حکمرانانو او شاهانو خودسرې او کورنۍ استبداد هم د دغه بهرنۍ زور زیاتی څخه کم نه دی، هغه ولېدل چې احرار او ترکي ځوانان د ابو الاحرار مدحت پاشا او انور یې په مشرۍ د قهار او جاسوسۍ مشربه خلیفه سلطان عبدالحمید د بې امانه استبداد په مقابل کې په سربښندنه او سر تېرېنه ولاړ دی او عثماني پاځون چې جرمني زیدان د هغې صحنې تصویر کړی دی په بریالیتوب سره مخ په وړاندې ځي. او مشروطیت د خلافت په سیمه او هم د ایران او مصر او نورو هېوادونو کې ځیلۍ ځغلولۍ، د ویښتوب دغه ټولو منظرو د سیدجمال الدین د سحرامیزه تلقیناتو

[69] محمود طرزی مقالات ۴۴۳ د کابل چاپ ۱۳۵۵ ش.

سره یو ځای د محمود طرزي په مفکوره کې ننبې پرېښودې او د
دغه انقلابي افکارو سره یو ځای یې د هېواد، امیر عبدالرحمن خان
او د هغه د ځوی حبیب الله خان د ظلم او استبداد په هکله فکر
کاوه، چې موږ له دې وورسته د ده ډېره پوهه او د تدبیر ډکه چو په
لاکن د زوره ډکه کار نامه او مبارزه په راتلونکې کې روښانه کوو.

دریم: د نفس په بشپړیدو کې د ده شخصي هلې ځلې:

محمود د ځوانۍ پر وخت کې په پښتو، دري، اردو، عربي، ترکي او لږ په فرانسوي ژبه پوهېده، او له هغو پراخو روغني ادبیاتو څخه چې په دې ژبو کې موجود و ګټه اخیستله، هغه د ملا محمداکرم هوتک یا له هغه استاده څخه چې د کندهار څخه د طرزي د کورنۍ سره یو ځای و، دیني او عربي درسونه ولوستل، او د خپل پلار څخه یې د دري ژبې ادبیات د شاعرۍ او لیکوالۍ تر حده پورې په دې ژبه کې زده کړې وه، او کله چې اردو، عربي او ترکي ژبه یې هم زده کړه، د ترکي او عربي ژبو د نوو علومو د اثارو او علمي ژبارو ادبي پرمختګ، په مصر او شام کې د عربي ژبې صحافت او د عربو او ترکو د فکري غورځنګونو سره اشنا شو. او په خپله یې د ادبیاتو او علومو په نوو مطالعو لاس پورې کړ، او د نفس د بشپړتیا لپاره یې کوښښ وکړ.

د دغه ځانګړې علاقې او هلو ځلو پر هغه څه ورزیاتې شوې کوم چې د پلار او استاد څخه یې زده کړې وې. د دې لپاره چې همیشه هېواد ته بیرته ورتګ په لټه کې و. کوښښ یې کاوه چې له هغه ځایه څخه خپل هېواد او خلکو ته ښه زیرې راوړي، چې د هغوی په درد ولګېږي، او داسې شیان ورته برابر کړي چې له هغه مخکې چا راوړي نه وي،



د هېواد په مینه کې هغه مسنوی چې په ۱۳۲۵ق کال یا ۱۹۰۷م کال کې ویلی ده داسې وایي:

پس عشق تو چستان ز سر زمین من به درشود؟
"با شیر اندرون شد وبا جان بدر شود"
شدت لهاکه داغ جدای و فرقست
میسوخت همچو شمع، دل و جان عاشقت
شبها به یاد وصل تو بیخواب مانده ام
در روزها به فکر تو در تاب مانده ام
هر علم وفن که خوانده و تحصیل کرده ام
نیست برای خدمت و نفع تو بوده ام
ای خاک پاک و ای وطن خوش زمین من!
معشوق من، حبیب من و دلنشین من!
مسعود باش و شاد بزی، تار بد بمان!
در حفظ و در ترقی و معموری و امان
اشک او برد تمدن نشان شوی!
در شرق همچو شمس درخشان عیان شوی!

( د کابل په دار السلطنه کې ۱۳۲۵ق کال، سراج الاخبار دوهم کال اومه ګڼه ۱۳ مخ) په واقیعت کې د هېواد مینه او د هغې متمدن کول د محمود د اساسي افکارو څخه و چې د همدغه نیکې موخې لپاره یې شخصاً په خپله هلې ځلې وکړې او تر ټولو لومړی یې د خپلو معلوماتو او مطالعاتو د بشپړولو لپاره کوښښ وکړ او د نوو او تازه راټولونو سره یې ځان سمبال او چمتو کړ، کله چې هېواد ته راستون شو، د ټولو د خیر غوښتنې، اصلاح غوښتنې او هېواد



Library

Library

دوستی د تلقینولو لومړنی منادي شو یعنې لومړنی غږ کوونکی شو.

د دې کرښو لیکونکی اعتراف کوم چې د ۱۳۰۰ش کال څخه را وروسته کله چې پوهنې پراختیا وموندله او په کندهار کې اولنی لومړنی ښوونځی جوړ شو، او د سواد، لیکلو او ویلو خاوند شوم د لومړي ځل لپاره مې " د هېواد دیني" مفهوم د محمد طرزي په اشعارو کې پیدا کړ او دغه شریف احساس مې تر اوسه چې ۷۵ کلن یم د همغه وخت څخه مې په یاد کې پاتې دی چې محمود ویلي و " شبها باد وصل تو بیخواب مانده" او داسې نور چې په زرګونو افغان ځوانان یې د هېواد د ابادولو په مفکوره روزلي و.

ما په خپل عمر محمود طرزي یو ځل لیدلی دی او هغه هم په هغه وخت کې و چې د کابل د خالي کېدو څخه وروسته یې د ۱۳۰۷ کال په ژمي کې په کندهار کې د شکست حال کې توقف درلوده، چې له څو ورځو وروسته یې هېواد د تل لپاره پرېښوده، په هغه وخت کې زه ځوان او د طلوع افغان د جریدې مرستیال وم.

هغه د خپل هېواد د راتلونکي څخه ډېر په تشویش او غمګین و او وویل یې:

زه اوس د ناچارۍ قسم او بیا د هېواد په په بېلتون اخته کېږم، لاکن د خدای څخه غواړم چې دا زما د هېواد اخیرنی لیدنه نه وي او بېرته راشم پداسې حال کې چې د هېواد ازادي په خپل ځای پاتې وي او د امنیت د نعمت څخه برخمن وي.

"ای د هېواد ځوانانو! ویښ اوسئ چې د هېواد ازادي له لاسه ورنکړئ! ځکه چې هغه د ډېرو کانونو او مالونو په ځربانۍ کولو او د پرله پسې او ډېرو کوښښونو په کولو سره لاس ته راغلې ده." د خبرو



په پای کې په پښتو ژبه وویل " ما له خپل کندهاري استاد ملا محمد اکرم څخه دغه زده کړې وه، چې وطن مه هېروه!"

## د سراج الاخبار فکری اغیز

سراج الاخبار یوازې دهېواد په دننه کې مشروطه غوښتونکو او ځوانانو ته دنوی فکر ورکولو دغورځنګ یوازنی سر چینه نه وه، بلکه دمنځنی اسیا دځوانانو، دایران د مشروطه غوښتونکو او دهند د ازادي غوښتونکو په محافلو کې چې د ښکیلاک د اور په لمبو او دخود خواه او په خپل سر شاهانو په استبداد کې سوځول د پاره هم غورځنګ راوړنکي او روح ورکونکي وو.

به چشم کم منگر عاشقان صادق را
که این شکسته بهایان متاع قافله اند

هو! دختیحو هېوادو چور شوي کاروان له حرکته څخه پاتي شوې وو، مرګونی سکون (دریدنې) د خلکو ژوند تهدیداوه، دانګلیس استعمار د هند دنیمي وچي مری ټینګوله. چې له هغه ځایه خوش اوازه نغمه ویونکو د ملی ویښتیا لپاره د زمزمه په کولو پیل وکړ، ځینو جریدو لکه الهلال د (ابوالکلام ازاد) له خوا، حبل المتین په کلکته کې د (سید جلال الدین) له خوا او زمیندار د(مولانا ظفر علي خان) له خوا په لاهور کې په خپرونو او تبلیغ پیل کړي وو، کاوه، اقدام، صور اسرافیل او داسي نور د ویښو او حق غوښتونکو ایرانیانو له خوا خپرونی کولي، د افغان سید جمال الدین پیروانو په ترکي او عربي هېوادونو کې نور ، مترقي صحافت ملي ویښتیا ته

Library

وقف کړي وو، پدغه انقلابي هنګامه کې د افغانانو هېواد هم له غورځنګ او هلو ځلو څخه خالي نه وو، محمود طرزي زموږ دملي کاروان نغمه ویونکي و، چې د خلکو په راویښولو کې ئې د اخلاصه ډکي هلي ځلي کولي او دنوي فکر حرکت ئې منځ ته راوړي و.

بلکه چې لیکل ئي:

حي علي الفلاح

نوا را تلخ تر میزن، چون ذوق نغمه کم یابي!

حدی را تیز تر میکن، چو محمل را گران بیني!

هو! هو! هر څومره چې کولي شي شپیلي (نوا) په ترخه لهجه ووهه! څومره چې ـ ی په حنجره کې ځائیږي هومره نغمه تیزه کړه.

ځکه چې مزل ډیر اوږد دی او بار پدي اندازه درندیږي، چې د نغمي اوازونه ددرو د اوازونو سره برابر راغلي، ختیځ او لویدیځ ئې په یوه اوریدونکي اهتزاز کې سره راټول کړل، لاکن زر ځله افسوس! چې د درانده بار وړونکي اوښان، غمګساره اندیوال له سترتیا او تنبلۍ څخه نه خلاصوي او پل له پل څخه نه پورته کوي...

صبح شد برخیز! ستاز راستی استا نواز!

شام جریان در عقب باشد چو وقت از د ست شد...

علی الفلاح! ای د افغان نجیب ملته! خپل ملتي شرافت او قومي لوړتیا وساتئ! د خپل استقلال او دولتي حاکمیت څخه ساتنه وکړئ! هغه افغان چې په دیانت او دینداری، په زړه ورتوب او بهادرۍ، په غیرت او ناموس دارۍ په ټوله نړۍ کې مشهور شوی دی، آیا دا څه ډول پر خپل وجدان، ایمان او شرف او ناموس باندې ټنیک ګڼلی شي، چې د پردي دولت، بې دینه او د بل ملت د حمایت او تابیعت نوم دې پر دې پروت وي؟... د حمایت او تابیعت پاکه او



مریمه معنی دا ده چې یو دولت بل دولت ته ووایي چې له ما څخه پرته بل څوک مه پېژنه! له ما پرته بل دولت ته سفیر مه استوه او نه د چا سفیر قبولوه، د بشپړي ازادۍ او عام و تام استقلال پاکه او مریمه معنی هم دا ده چې هر دولت په ټولو برخو کې چې پورته یې یادونه وشوه، مستقل او ازاد وي... تر اوسه چې هر څه وه وه، هر څه چې وشول وشول، ولې لدې وروسته افغانان نوره هغه افغانان ندی چې له خپلو حقوقو څخه سترګې پټې کړي..."

(د سراج الاخبار د پنځم کال د لسمې ګڼې د خپرې شوې سرمقالې لنډیز، د ۱۳۳۴ق کال، ربیع الاول یا د ۱۹۱۶م کال د جنوري ۱۷)

پر دغه تبنمیني خپرونو او د لهجې مراحت د سراج الاخبار اغېز د هېواد په دننه کې د دوهم مشروطیت د غورځنګ او د ازادۍ د نهضت د بیا ژوندي کولو او د افغان دولت د نوي بنسټ د اېښودلو سبب شو، ولې د هېواد څخه په بهر کې هم د محمود طرزي لوړې لیکنې د خلکو په غوږونو کې اورېدنکي وي او په خوب ویده سترګې یې خلاصوي.

د بېلګې په توګه: د ۱۹۱۷م کال په فبرورۍ کې په ترکستان کې د تزاري روسي حمکران جنرال کوراپاتکین په هند کې د روسي نماینده تومیسکي ته تلګرام واستاوه چې: د سراج الاخبار جریدې ګڼې په بخارا او د ترکستان په نورو ښارونو کې خپرېږي او د هغې د مقالو څخه په خلکو کې بریتانوي او روسي ضد وبولي راپارېدلي دي، نو پدې خاطر باید د برتانوي هند دولت د افغانستان په امیر زور واچوي چې د دغې جریدې تبلیغاتي تګلاره بدله کړي.[۷۰]

---

۷۰ دغه تلګرام د ابي کتاب په (۱۱۵مخ) کې خپور شوی (د افغانستان تاریخ، دوهم ټوک، ۳۵۱ مخ، د مسکو چاپ ۱۹۶۵، تالیف ماسون ورومادین.

د دې خبرې تصدیق د دې کرښو لیکونکی د ماورالنهر په خلکو کې د نوي فکري غورځنګ مخکښ او د تاجکستان د علومو د اکاډمۍ د لومړني رئیس خدای بخښلي صدرالدین عیني څخه په ۱۳۲۵ش کال د زاړه سمرقند په ښار کې واورېد چې په تاشکند کې مې د هغه ځای د پوهنتون د ۲۵ کلنۍ د نمانځنې په مراسمو کې ګډون کړی و.

خدای بخښلی عیني چې محترم سړی و او په خوږه تاجیکي لهجه یې خبرې کولې ویل یې " د بخارا د وروستي حکمران په وخت کې تاجیک ځوانان راویښ شول او هغه یې نوو اصلاحاتو د ښوونځیو جوړولو او د مطبوعاتو ازادۍ ته هڅولي وو. د دې لپاره چې د کابل سراج الاخبار او د محمود طرزي لیکنې هم موږ ته رارسېدلې او هغه مو په پټه لوستلې، د بخارا د امیر ګمار شوو کسانو نه پرېښودلو او د سراج الاخبار لوستونکي به یې تعقیبول او ځورول.

ښه مې په یاد دي چې یوه ورځ فطرت بخارایي د سراج الاخبار یوه ګڼه د بخارا د مدرسې په حجره کې ماته راورسوله، او په همدغه وخت کې د بخارا د امیر جاسوس یې ورپسې په تعقیب راغی لاکن ما دغه ګڼه په برستنه کې ویېچله او د نظر څخه مې پټه کړې وه، زیاتره تاجیکي ځوانو شاعرانو د سراج الاخبار د تنبه کوونکو شعرونو په پیروي شعرونه ویل او ځوانو تاجکانو به هغه یادول، د سراج الاخبار پیام د ماروالنهر په ځوانانو ډېرې ښې او نېکې اغېزې کړې وې."



Library

ولې په هندوستان کې

لکه څنګه چې د هند په ملي ارشیف کې (د کورنۍ سیاسي څانګې) ساتل شوې د ۱۹۱۶م کال د جولای د ۲۱ نېټې پټو اسنادو څخه معلومېږي چې: د سراج الاخبار ګڼې سربېره پر دې چې د افغانستان او د سرحدي پښتو ژبو قبایلو د ښارونو په بازارونو کې لاس پلاس کېدلې، د هند او پارس او عثماني هېواد په جریدو کې هم د هغې مطالب اقتباس کېدل، نو پدې اساس د ۱۹۱۴م کال په سپټمبر کې W.M Haily د ډهلي چیف کمیشنر د جنایي اطلاعاتو سرمامور Sir Charles Clive Land ته ولیکل: د دې لپاره چې د سراج الاخبار لهجه په بشپړه توګه زموږ د ګټو سره په ځریت کې ده، نو هند ته د هغې راوړل او وېشل باید منع شي نو له همدې کبله و چې د هند نایب السلطنه د ۱۹۱۴م کال د سمبر په میاشت کې د دغه ډول مقالو نه خپرول د افغانستان د امیر څخه وغوښتل او امیر هم وعده ورکړې وه چې همداسې به وکړي، لاکن د جریدې پاتې اسلامي لهجې تغیر ونکړ او د ۱۹۱۶م کال د اپرېل په ۱۶ ګڼه کې د مولوي صالح محمد کندهاري پښتو شعر خپور کړ، چې ټول د اسلام د اتحاد په پیغام بنا و او ویې ویل: چې کفار به یو د بل سره په جګړو کې ټول پو پناه شي.

اګر چې د هند حکومت پدې خبره کې څو ځلې امیر ته باخبري ورکړې وه، لاکن سراج الاخبار لدې کار څخه راونه ګرځېده، نو پدې اساس مستر، A.H Grant نایب السلطنه د بهرنیو او سیاسي چاروکتونکي یادونه وکړه:" موږ باید انتظار ونلرو چې دا جریده دې دستی د انګلیس طرفداره شي، ولې ددې خبرداریو په تکرارولو سره به امیر د خپل رعیت سره لاس په ګریوان کړو، یوه جریده چې په

کابل کې خپرېږي د اسلامي يو والي او د بهرنيو سره د مخالفت تمايلات بايدولري که چيري د هغي نوري ګټې هم د غسي تندي وي موږ بايد امر په همدغه دوستانه وضع کې چې په خپله يې پدي برخه کې غوره کړيده پريږدو..." دا يادداشت د ۱۹۱۰ م کال د جولای په ۲۱ نيټه ګرانټ ليکلي چې د هند په ملي ارشيف کې خوندي دي. لاکن ددې لپاره چې سراج الاخبار په وروستيو ګڼو خپلي دغي تګلاري ته ادامه ورکړه، نوپدي خاطر ګرانټ د هغي په مقابل کې د نرمښت سياست غوره کړ او وي ليکل:

" که چېري موږ دسراج الاخبار په مقابل کې تند سياست غوره کړو دا به په کابل کې د جګړی د پلويانو د ډلي دعمل د تيزوالي سبب شي. نولدې کبله که چېري امير خپل د بيطرفي په سياست کې مستقيم وي. نو پدي ډول مسايلو کې بايدلدي زيات نور څه کوښښ ونه شي.

نو په پای کې د برتانوی هند سياست دا غوښتنه وکړه، چې په هند کې دې د سراج الاخبار د ټولو ګڼو د وسيلو خنډ کېږي نه، تر هغه وخته چې په خپله امير او يا د افغانستان چارواکي پدي برخه کې څه ونه وايي، د هند حکومت هم پټه خوله پاتي شو او دا پاليسي د ۱۹۱۴ م کال د اکتوبر د ۳۱ نيټي په ليکنو کې ثبت شوي ده.(د هند ملي ارشيف،دهلي)



(۴)

## ددوهم مشروطيت د کوښښ پايلی

دوهم مشروطيت د کمي اوتشکيلاتي پلوه، يو متشکل ګوند چې د هېواد زياتره خلک په کې شامل وي نه و، لاکن د پايلی، اغيزښيندني او د اداری په طرز اوسياست د خيري په بدلون کې د ډير ارزښت درلودونکي و، ځکه ددې مسلی پر بنسټ :" دوه سوه جګړه ايز سرې د سلو زرو تنو څخه بهتردي" ددې ملي غورځنګ مبارزو ځوانانو د هېواد د چارو سرچينه پاکه کړه، او د امير حبيب الله د وژولو وروسته يې د اداري واکي د شهزاده امان الله خان د امارت او د افغانستان د ازادي په اعلانولو سره تر لاسه کړي.

دا داراي او دسياسي واک دا پړدونه ديوی ډلي ناپوهه، زړوپالو، مرتجع او فرسوده مغزو سردارانو له لاسه ځوانانو دهغي مجلي څخه پوهه، بينا روجو يا کسانو ته يونيک، ګټور او ښه کارو چې داماني دوري لومړي دري څلور کلونه دهېواد د خلکو په ګټه روان وو. لاکن دغه کوچني مخلصه ډله د مغرضو او فرصت طلبو عناصرو څخه خالي پاتي نشوه، او دخرابکارانو لاسونو په هغي کې فعاليت کاوه، دکورنی پالني، د مالونو د راټولولو، اوحتی د فحشا او منکر ډګر ګرم شو، د پادشاه نيکو مرامونو او د چارو د اصلاح پلويانو او نوي حرکت ته يې مکروهه او ناوړه خيره ورکړه، چې په پای کې د ۱۳۰۷ ش کال په ژمي کې د ارتجاعی اړو دوړ او دغه رژيم دله منځه تللو سبب شو، چې دا هېواد د ځوانانو لپاره د عبرت يو ځاي وي، چې هميشه بايد په خلاصو سترګو، تفکر او احتياط سره قدم واخلي. او غرض لرونکو او ورانکارو خلکو ته په خپل منځ کې ځاي ورنکړي او پدي بايد پوهه شي چې د هېواد د پرمختګ او د نيکو او خير

غوښتونکې موخو د تطبيق لپاره يوازي ولولي، اخلاص او نيک سپت کافي ندي، بلکه ټولنه پژندنه، تدبير، سياست مداري، دعقلي او ټولنيزو موازينو سره سمه کړنه او چلند ته هم ډيره اړتيا ده.

په هر صورت موږ نشو کولاي د هغو ښو او نيکو کارونو څخه چې ددغي مخلصي ا و خير غوښتونکي ډلي پواسطه تر سره شوي دي د راتلونکي بد اعتبار او د هغي نه د وروسته رژيم د ناکامي په خاطر سترګي پټي کړو. ځکه دا د افغانستان د ټولينز تاريخ مهم فصل دي چې د ازاد افغانستان په مدني تشکيلاتو کې يې دارنګه ونډه واخستله:

لومړي: د افغانستان د استقلال په بيرته لاس ته راوړلو کې مخ کې او د ازادي په جګړه کې لاربښوونه او د استعمار په ضد دريدل،

دوهم: د استقلال د تر لاسه کولو څخه وروسته، افغانستان نړي ته د يوه ازاد او مستقل هيواد په توګه ور پژندل، او د نړي د نورو هيوادونو سره د هغي د سياسي اړيکو ټينګول.

دريم: په هيواد کې د اسارت درواج له منځه وړل او د هغي د پاتي شونو بخي پو پنا کول.

څلورم: په ټول افغانستان کې د خلکو د اولادونو د عامي روزني لپاره د پوهني رواجول د ښوونځيو او مدرسو جوړول او د جريدو خپرول او د ژبي د پالني پيل کول.

پنځم: په دولتي دوايرو او د فترونو کې ددندو د ويش، د ماليي غوښتني د سيتم د بدلون په بنسټ د نوو تشکيلاتو رامنځته کول، دګمرکونو جوړول، او دنوو محاسباتو په بنسټ د نورو مالي او حسابي څانګو جوړول او د هيواد د بودجې برابرول.



Library

شپږم: د ملي او دوديزو لويو جرګو منځ ته راوړل او د ملي او دولتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د قوانينو خپرول.

اووم: د شتوولي کابيني جوړول او د دری ګونو قواو مقننه، قضائيه او اجرائي جلا والي او د چارو د کنترول او څارني د مرکزونو ټاکل (وزارتونه).

اتم: د نوي مدنيت د اړتيا وړ د ځينو بنسټونو لکه پست، تلګراف، تلفون، موټر، الوتکي، د موټرو لياري، ښار جوړوني او د هيوادني مصنوعاتو رواجول.

نهم: د لوړو زده کړو لپاره د هيواد څخه بهرته د زده کوونکو استول،

لسم: د خلکو او دولت د حقوقو پر بنسټ د اساسي قانون او نورو قوانينو جوړول او خپرول د هيواد د قضائي او اداري چارو د اجرا لپاره، او په هيواد کې د قانونيت د روحي منځ ته راوړل.

تلک عشره کامله، دغه نيک کارونه د اماني دوري د نيک مرغه حرکت پيل و چې تاريخ او انساني بيطرفانه قضاوت هغه هيرولي نشي،لاکن د هغي د افسوسه ډکه پای بايد دراتلونکو د عبرت لپاره هم په پام ونيسو چې د مولانا بلخي په وينا:

هر هلاک امت پيشين که بود
زانکه بر جندل ګمان بردند عود

که څه هم ددغه غورځنګ پای د ١٣٠٧ ش کال دوير ډک اړو دوړ په پيدا کيدو سره نيک مرغه نشو، لاکن د ليدونکي وجدان غږ کوي چې:

گرنبودی کوشش احمد توهم
می پرستیدی چو اجدادت صنم
(مولانا بلخی)

ددوهم مشروطیت موخي ( مرامونه):

په دوهم مشروطیت کې هم افغاني روڼ اندو کټ مټ هماغه د لومړي مشروطیت لس موخي چې مخ کې تري یادونه وشوه تعقیبولې، یوازي تاکتیک ته یو څه پراخوالي ورکړ شو، چې په ځینو رادیکالو او تندروو کړیو کې د ترور اقدام او دګرمي وسلې څخه کار اخستل هم جایز وبلل شول. لکه څنګه چې ددغي ډلې د ګرم سرو ځوانانو څخه یوه تن د ( ۱۲۹۷ ش کال د سرطان په ۱۲ شپه) د امیر حبیب الله خان پر موکب د تفنګچې ډزي وکړي.

د همدي عصر د ادبیاتو څخه چې د هغه وخت د روڼ اندو د انقلابي روحي اوتندروي نماینده ګي کوي د هغه وخت دیوه ځوان شاعر ( جلوه) د یوه غزل دا بیتونه دي چې وايي:

تاکی از جو روستم فریا کنید
سعی برهم زدن منشا بیداد کنید!
ننگ دار بشریت ز چنین رژیم
طرح ویرانی این بنگه بیداد کنید!
ایشان همه مرغان زستم اتش زد
قصد اتش زدن خانه صیاد کنید!
غازه سازید زخون شاهد ازادی را
تاز خود روح شهیدان وطن شاد کنید!



خانمان کرد تبه، تا شود اباد خودش
خانه ظلم وستم یکسره برباد کنید!

بل ځوان تندرو شاعر کریت امیر ته په خطاب کې داسې وويل:

ای غافل از زمانه و ساغل به لهو ګلف
با دشمن خبیث کسی کرده است حلف
خود فکر کنی عدو نه کند چون زعهد خلف
باید ګریست بر سر این احمقی و جلف
تا چند بهر دیدن حق کور و کر شوید!

همدې راز اغېزمنو افکارو او تبلیغاتو پایله وه چې بالاخره د همدغه کال په ژمي کې نوموړی امیر د دغې ډلې ځوانانو څخه د یوه تن پلاس ووژل شو، په داسې حال کې چې د لومړی مشروطیت په مرام کې وېره اچول د وسلې او زور استعمال نه و.

د دې ډلې د ډله اېزې تګ لارې د ځانګړتیاو څخه یو هم د پښتو ژبې لیکلو او لوستلو ته پاملرنه کول دې. چې خپلې ځانګړې لیکونه یې هم په دغه ژبه لیکلي، چې د دې کرښو لیکونکی پښتو ځانګړې لیکونه د محمدابراهیم خان چنداولي په قلم هم لېدلی دی. چې د کوم ژبې او مذهبي توپېر بېرته یې خپلو پښتو ژبو ملګرو لکه مولوي غلام محی الدین او عبدالهادي داوی او داسې نورو ته لیکلي و ( علیرالر محمد) .

دریمه نقطه چې د افغان ځوانانو په انقلابي تګ لارې کې لېدل کېږې هغه دا ده چې د لومړی مشروطیت د مرام په دوهمه عماده کې ملي حاکمیت او د قانون حکم مطرح و، د دې لپاره چې دی کار ازاد

وټاکنو او د قوانینو په ترتیبولو پورې اړه درلوده او وخت او زماني د دې غوښتنه کوله، نو په دې خاطر ټولنې اجازه ورکوله، چې یو انقلابي پادشاه چې د امیر حبیب الله خان څخه وروسته دی د چارو واګې په لاس کې واخلي کولی شي چې د یوه څه وخت لپاره د هېواد د ګټو سره سم کار په مخ بوزي. تر څو چې د ملي حاکمیت او قانون د حکم لپاره لاره هواره شي او د همدې کبله و چې امان الله خان غازي د خپلې پاچاهی په لومړنیو کلونو کې په ډېر جدیت او اخلاص سره کار وکړ، تر څو چې ډېر ضروري قوانین یې په څو کالو کې ترتیب او د هغې د نافذیدو حکم یې ورکړ، او د دې کار لپاره د بدري بیګ او مولوي عبدالواسع کندهاري تر نظر لاندې د دولت په شورا کې د قوانینو د ترتیبولو یو مرکز جوړ کړی و.

د دې ډلې انقلابي حرکات او د نظر پر اخوالی چې په خپله امان الله خان د دغه کار عامل او لوړو پوړوته رسونکی و په دې درجه کې د نړۍ پاملرنه ځانته راړولې وه، چې لنین چې د سوسیاستي حکومت لومړنی منځ ته راوړونکی او جوړونکی و د هغې په برخه کې داسې ویلي و: د ختیځې سیمې یو مطلق زمامدار شهزاده نن د انګلستان د کارګرد د کابینې په نسبت ډېر مترقي دی.

د دوهم مشروطیت روڼ اندو ځوانانو په خپله تګ لاره کې یو ډول پراخوالی، راښکون او هلو ځلو ته ځای ورکړی و. چې د عصر د غوښتونو سره برابر و. او خپل ځان یې د پخوانی مشروطیت د ملګرو د مرامونو په محدود قالب کې نه محدود اوه.

اګر چې دغه د نظر پراخوالي او د محافظه کاری نشتوالی له یو پلوه د چارو د پرمختګ لپاره ګټور و لاکن د غبار په وینا:



l Library

" د هېواد پالونکو روڼ اندو په منځ کې یوه ډله مرموزو عناصرو د " ضرب نقابدار" په شکل او مصنوعی شوری پیداکړ. دی نقاب لرونکو شارلتانو د هېواد په مرکز او ختیځ کې، د خلکو د غولولو لپاره د درغو " انقلابي" شعارونه ورکول او په ظاهره یې د جمهوریت څخه خبرې کولې، مګر د دوي په اصلي معنی کې د دیموکراسی، جمهوریت او لوړتیا جدي دښمنان و دوي د نورو دپاره خدمت کاوه ... او د جمهوریت غوښتنې تر عنوان لاندې یې د اماني رژیم د راپرزولو لپاره کوښښ کاوه.

( افغانستان در مسیر تاریخ ۸۱۴).

په هر شکل په لومړی مرام کې بشپړ ټاکلی بدلون رانغی، او هر هغه څه چې د اماني دورې په لومړیو کلونو کې په هېواد غوښتنې او اخلاص سره تر سره شول، د هېواد او د هغې د نوی غورځنګ لپاره ګټور و.

لاکن د محمودطرزی، عبدالرحمن لودین، میرقاسم خان او داسې نورو بافکره ټولنه پېژندونکو او هېواد غوښتونکو عناصرو او شخصیتونو سیاسي انزوا یا جلاتوب، او د مشکوکو، مغرضو او پیښنه د ویشو لاسونو لپاره د عمل د مېدان خالي کول د اماني رژیم بنسټ ته سخت ټکان ورکړی و. ځکه د چارو واګې د ناپوهه او ګټه خوښونکو په لاس چې د کورنی پالني او شخصي مینې په بنسټ منځ ته راغلی و لویدلی وی، او همدغه کسان د اماني رژیم د سقوط او د له منځه وړلو مسوول دي. چې فساد، بدې اخستل، د پیسو راټولول او د خلکو ځورول یې رواج کړی و.

د دربار پټ ( ستری) ګوند:

د دې کرښو لیکونکی د دې مطلب په برخه کې د هغو اشخاصو څخه چې په هغه وخت کې ځوان او د روڼ اندو په کړیو کې شامل و په دې تفصیل څه شي اوریدلی نه دي، لاکن غبار د مسیر تاریخ ( ۷۲۵ مخ) داسې شرحه لیکلې چې په دې ځای ( العهده علی الراوی) د هغه وینا اقتباس کوم.

د دې لپاره چې د انګلیس اطلاع رسولو د سرچینو د اطلاعاتو سره سم چې د تحریک شیخ الهند په کتاب کې ژباړه او چاپ شویدي نایب اسلطنت سردار نصرالله خان او د ده سره کارکونکی مولوي عبدالرزاق اندړ ( په ظاهري توګه ) د انګلیس ضد ډېرو حرکاتو مبدا شمېرل کېدله، که چېرې دغه داستان واقعې وبولو او یقین پرې وکړو نو لېري نه ده، غبار لیکی:

" پردی پټ او ښکاره فکرې غورځنګونو سر ببره، د بدلون هستې ( زړه) د دربار په منځ کې نشوونما کوله، د دربار چپ اوه اصلاح غوښتونکي د امیر حبیب الله د رویې څخه بېزاره و، د دې لپاره چې په خپله یې د حرکت قدرت نه درلوده، باید چې د شاهې کورنۍ د غړو څخه د یوه تن پر شاوخوا راټول شي، دا سړی سردارنصرالله د شاه د کورنۍ لوی شخص نه و، ځکه هغه سره د دې چې د استعمار په هند او د هېواد ازادۍ غوښتونکی سړی و ( ؟) د دولت په اداره کې د منځنیو پېړیو او مطلق العنان د نظام خوښونکی سړی و... نو یوازنی سړی چې په دغه کورنۍ کې د دربار د چپ اوو د پاملرنې وړوګرځېد. هغه عین الدوله امان الله خان و چې ځوان د نظر خاوند، ترقۍ غوښتونکی، زیار ایستونکی او متواضع سړی و. چې ډېر ژر یې د دربار د متجددي یوې کړی په سترګو کې یې ځای ونیوه. او



هغه وکړای شول چې نایب السلطنه کېښنوې. وایې چې د دې عمل د اجرا لپاره د دغې پټې ټولنې لس دولس تنو غړو په قران شریف کې لیکنه او لاسلیک وکړ او سردار ته یې وسپاره ( ؟) لاکن په ټاکلې ورځ سردار د کوره او نوت او د ورور د وژنې سره یې مخالفت وکړ او د قران شریف هغه نسخه د هغه سره پاتې شوه، لاکن تړون کوونکو خپل ځانونه هلاکت خولې ته ور نه کړل... ترڅو چې امان الله خان د تخت د کېښناستلو او د خپل تره د بندي کولو څخه وروسته شجاع الدوله د همغه عهدنامې لپاره هغه ته د ارګ محبس ته وروااستاوه، لاکن سردار ځواب ورکړ: نه پوهېږم چې هغه قران شریف چېرې دی؟... دغه قران شریف د هغه ټولو تالاشیو سره چې په کابل او جلال اباد کې د امیر په کورونو کې و، پېدانشو." ۷۱

دا داستان خدای بخښلی غبار په ۱۹۲۱م یا ۱۳۰۰ش کال کې په هرات کې د شجاع الدوله څخه اورېدلی و، او د دربار دغه پټ ګوند په پوره ګمان چې د دربار اشخاص او د شهزاده امان الله خان اړونده غلام بچه ګان په دې ډله کې شامل و لا غېر، چې په دې کتاب کې مو څو ځلې د هغې یادونه کړیده.

[71] غبار ! مسیر ۷۴۶

Library

## (پنځم)

# د دوهم مشروطیت په غورځنګ کې مهم اشخاص

١ـ عبدالهادي داوی "پریشان" :

د عبدلاحد اخندزاده ځوی چې د کندهار د داوی قوم طبیب و دا د ١٣١٣ق کال د جمادی الاول په ١۴ یا په ١٢٧۴ش کال کې د کابل په باغ علیمردان کې زېږېدلی دی چې د ١٢٢٩ ځخه تر ١٢٩٠ش کال پورې د حبیبې په مدرسه کې د رشدیې تر درجې پورې زده کړه وکړې او د پښتو او دري دواړو ژبو شاعر او لیکوال شو، ترکي او اردو ژبې هم زده کړې. په عربي او انګیسي ژبو تر دې حده چې ژباړې یې پرې کولی شوی پوهېده، په ١٢٩٠ش کال د عبدالرحمن لودین په مګرتوب د سراج الاخبار په اداره کې د محمودطرزی تر لاس لاندې د شاګردی ویاړ تر لاسه کړ تر هغو پورې چې د هېواد هغه نومیالۍ شخصیت، دغو دواړو نوی پوهه ځوانانوته خپل "دوه شهباله" ویل، او هغه به کله په خپل واضح لاسلیک او کله هم د پریشان په تخلص انتباهي او سیاسي مضامین په سراج الاخبار کې خپرول. او د دوهم مشروطیت د ټولنې تکړه او با فکره غړی او د هېواد دستو نوو ځوانانو مشر و. او د افغان ځوانانو د فکرې روزنې دوه مرکزونو ته یې تګ او راتګ درلوده چې یو یې د شوربازار د پېښوریانو په سرای کې د مولوي غلام محی الدین افغان کوټه او بله هم په شاهي مدرسه کې د مولوي عبدالرب حجره وه، او دغه دواړه دلومړی مشروطیت زندان لېدونکي لارښوونکي و،

پریشان هغه ځوک دی چې په نوی ادبي او فکري غورځنګ کې په خپله له محمود طرزی ځخه را وروسته په لومړی قطار کې راځي، او



د هند د مسلمان شاعر او فیلسوف علامه اقبال د اثارو او اشعارو سره یې مینه درلوده. او په لومړی نړیواله جګړه کې هغه وخت چې افغان ځوانانو، چې د مشروطه غوښتني د مرام سره په یوه وخت د ښه فرصت ځخه د ګټې اخستلو لپاره د افغانستان د ازادی غوښتني غبږ هم پورته کړ، او الماني او ترکي پلاوي کابل ته را ورسید. محمود طرزی د چې علی الفلاح سیاسي مقاله د ١٣٣۴ ق کال د ربیع الاول ٠ میاشتې په فوق العاده ګڼه یا د ١٢٩۴ ش کال د جدي یا مرغومی په ١۶ نیټه ولیکله (چې سانسور شوه). عبدالهادی د پریشان په لاسلیک د"بلبل ګرفتار" په نامه یوه را پارونکي مسدس منظومه د سراج الاخبار دشپږم. کال په ١٢ ګڼه کې د ١٢٩٠ ش کال ددلوی په ۵ یا د ١٩١٧ م کال د جنوری په ٢۵ خپره کړه. کله چې د هغې پښتو ژباړه د مولوي صالح محمد کندهاری له خوا د ۶ کال په ٢٠ ګڼه کې د ١٢٩۶ ش کال د جوزا په ٢ یا د ١٩١٧ م کال د مي ٢٣ هم خپره شوه،

دا کار په کابل کې د برتاني د سیاسي نماینده د تشویش او نا ارامي سبب شو، او په خپله د پریشان او صالح محمد د لېدلو لپاره شاهي مدرسي او ددې ځوانانو د ټولېدو ځای ته سر و ښکاره کړ، چې ددې قضیې سرګذشت ددهلي په ملي ارشیف کې موجود دي.

ددې کرښو لیکونکي ښه په یاد لرم، هغه وخت چې د سراج الاخبار دغه ګڼه کندهار ته را ورسیده، هغه یې د ځوانانو او زړو په مخصلونواو حتي د ښځو په غونډه کې په ډېر شوق او علاقمندی سره لوستله، او کله کله به یې د هغې د لوستلو سره او ښکې هم تویولی.

l Library

پریشان سره لدي چې منور، شاعر او مشروطه غوښتونکي ځوان و په خبرو او وینا کې لکه محمود طرزی ورو، سنجیده او ولاړ سړی و، په شور او روږ او ګرمی سره یې خبری نه کولي، لاکن کولي یې شول چې په سړه سینه او تحمل سره اوریدونکي د ژوری اغیزي لاندې راولي، او د همدي کبله یې د هغه وخت په ځوان نسل کې پوخ او استادانه نفوذ درلوده، کله چې د ډیرو کلونو لپاره د محمد هاشم خان د کابیني په حکمراني کې په زندان کې وساتل شو، او څه وخت چې د صدارت مشاور سیداحمد خان کندهاری محمد هاشم خان ته یاداوری وکړه:

که چیري یوه منظمه فرقه د توپ او توپکو سره ددغه بي ازاده سړی (مطلب یې همدغه داوی دي) پلاس ورکړي هغه ددې قوي د استعمال څخه عاجز دي، نو بیا ولي دا په زندان کې ساتلي دي؟ محمد هاشم خان ورته په ځواب کې ویلي و: "تاسو هغه نه پیژنئ، پدغي ارامی او صالحه قیافي سره د هغه یوه خبره د توپ دیوی ګولی څخه ډیره اغیزمنه ده!"[٧٢]

پریشان د ښو خویونو د لارښوونو او لاری تلني سره یو ځای د سراج الاخبار په اداره کې د محمودطرزی سره پاتي شو، او دمشروطه غوښتني د ټولو ځوانانو او په خپله د امان الله خان سره اشنا او بلدو. کله چې د ١٢٩٧ ش کال د سرطان په ١٢ شپه د امیر د زیږېد په جشن کې څه وخت چې د امیر موکب د موتر په سپرلي د کابل شوربازار ته را ورسیده د داوی د دوستانو او سرګرمو ځوانانو څخه یوه تن، عبدالرحمن لودین په امیر د تفنګچی په ډزو سره حمله وکړه، چې ګولي په هدف ونه لګیده، او په خپله لودین په ارګ کې

[72] ددې کرښو دلیکونکي اوریدني په خپله د نوموړی مشاور څخه.



ډیر سخت زنځیر او زولانه شو، په سبا ته یې پریشان هم د هغه سره په زندان کې واچوه چې د بند دغه ډیره د کړاو څخه ډکه اوه میاشتي دوره یې په زنځیر او زولانو کې تیره کړه، او دهغه د بندي انډیوالانو څخه یوه تن میریار بیګ خان بدخشي په هغه ځای کې داسي ویل:

بنـدی را لـبس بـود زولانـه یـی
این همه زنجیر در زنجیر چیست؟

پر یشان ویل چې د زندان څخه بیرون دده د ملګرو څخه یوه تن داسي لیکلي و:

بـه شـب نشـینی زنـدانیان بـرم حسـرت!
که نقل مجلس شان دانه های زنجیر است.

د امیر درباریانو دغه دواړه ځوانان په اعدام محکوم ګڼل، لاکن امیر په خپله د وژلو حکم ورنکړ، او کله چې د١٢٩٧ ش کال د منی په پای کې جلال اباد ته ولاړ. دا کار یې خپل بیرته راستنېدو ته راتلونکي پسرلي ته و ځنډاوه او په خپله د ١٢٩٧ ش کال د لوی په ١٩ شپه یاد ١٩١٩ م کال د د فبروری په ٢٠ د لغمان په کله ګوش کې و وژل شو او د اجل ښکار شو ټول ځوان بندیان د امان الله خان دتخت کښیناستني څخه وروسته د ١٢٩٧ ش کال د حوت په ٩ خوشي شول، ددې لپاره چې د مشروطیت په غورځنګ کې په خپله د نوی پادشاه سره اشنا او همکار و نو د نوی افغانستان په جوړولو او د ازادی په لاس ته راوړلو کې هم د هغه سره هم غږه اویو لاس شول. او عبدالهادی پریشان د نوی رامنځ ته شوي جریدي یعنې امان افغان د جریدي لومړني مدیر وټاکل شو، چې د هغي لومړني ګڼه د ١٢٩٨ ش کال د حمل په ٢٢ یا ١٩١٩ م د اپریل په میاشت

Library

کې چاپ او خپره شوه او د یوه څه وخت لپاره په همدغه دنده پاتې شو او له هغې وروسته یې دغه لاندې دندې سرته ورسولې:

اعلحضرت شاه امان الله (۱۲۹۷ _۱۳۰۷ ش) د افغان ګران پادشاه د سربازی د لباس او د پوښ نه پرته توری سره یو ځای د انګلیس د ښکیلاک پرضد د جهاد د اعلان او د افغانستان د بشپړ استقلال د اعلام په ورځ.

۱ _ د ۱۲۹۹ ش کال یا د ۱۹۲۰ م کال د اپریل د ۱۶ څخه د جولای تر ۱۸ پورې د محمود طرزی تر ریاست لاندې د هند د مسوری په غره کې د افغانستان دسیاسي پلاوي غړی،

۲ _ د ۱۲۹۹ ش کال د دلوی په ۲۱ یا ۱۹۲۰ م کال په بخارا کې د افغانستان سفیر.

۳ _ د برتانوي هند نماینده د البس سره په کابل کې د افغاني مذاکراتو د پلاوي غړي، د ۱۹۲۱ م کال د جنوری د ۵ څخه د نومبر ۲۲ پورې یا د ۱۲۹۹ ش کال د جدی د ۱۵ څخه د ۱۳۰۰ ش کال تر عقرب پورې.

۴ _ د بهرنیو چارو وزارت کې د هند او اروپا د څانګې مدیر ۱۳۰۰ ش یا ۱۹۲۱ م کال.

۵ _ د بهرنیو چارو وزارت مستفار ۱۳۰۱ ش یا ۱۹۲۲ م کال.

۶ _ په بخارا کې د ځانګړې سفارت د هیئت رئیس ۱۳۰۲ ش یا ۱۹۲۳ م کال.

۷ _ په لندن کې د افغانستان لومړني مختار وزیر او په هغه ځای کې د افغاني سفارت پرانستل ۱۳۰۲ ش یا ۱۹۲۳ م کال.



۸ _ د لندن د سفارت څخه استعفا او په کابل کې د سودګری وزیر د ۱۳۰۵ ش کال څخه د ۱۳۰۷ ش کال تر ژمي پورې (۱۹۲۶ _ ۱۹۲۸ م).

۹ _ په برلین کې د افغانستان مختار وزیر د ۱۳۰۸ څخه تر ۱۳۱۱ ش کال پورې یا د (۱۹۲۹ _ ۱۹۲۳ م کال پورې).

۱۰ _ د برلین د سفارت څخه استعفا او هېواد ته راستنیدل ۱۳۱۱ ش کال یا ۱۹۲۳ م کال.

۱۱ _ د کابل د ادبي ټولني افتخاري غړی ۱۳۱۱ ش یا ۱۹۲۳ م کال.

۱۲ _ د کابل په ارګ کې د زندان ۱۳ کلنه دوره ۱۳۱۲ ش څخه د ۱۳۲۵ ش کال د قوس تر ۲۵ پورې یا ۱۹۳۳ _ ۱۹۴۶ م کال پورې.

۱۳ _ د شاهي دربار سر منشي ۱۳۲۷ ش یا ۱۹۴۸ م کال.

۱۴ _ د شورا په اومه دوره کې د کابل دده سبز وکیل اوګمارل شوی رئیس د ۱۳۲۸ ش کال څخه ۱۳۳۲ ش کال پورې یا (۱۹۴۹ _ ۱۹۵۳ م).

۱۵ _ په مصر کې د افغانستان سفیر ۱۳۳۲ ش کال یا ۱۹۵۳ م کال.

۱۶ _ په اندونیزیا کې د افغانستان سفیر ۱۳۳۴ _ ۱۳۳۸ ش کال پورې یا ۱۹۵۵ _ ۱۹۰۹ م کال پورې.

۱۷ _ د ۱۳۳۸ ش کال څخه را وروسته د مشرانو جرګې (مجلس اعیان) ګمارل شوی رئیس د مړني نیته په کابل کې د ۱۳۶۱ ش کال د اسد په ۲۷ یا ۱۹۸۲ م کال د ۸۸ کلني په عمر.

Library

تالیفات یې:

۱ ـ ز ا رسول پاک: د اسلام پیغمبر دا دو کتاب پښتو ژباړه د عبدالمجید قریشي تالیف د لاهور چاپ ۱۳۳۸ ق د افغانستان جریدي له لوري.

۲ ـ د س ، س،ر. سره زموږ سوداګری: په دری ژبه رساله د دواړو هېوادو دسوداګر په برخه کې چې دده د سوداګری وزارت په دوره کې لیکل شوي او په ۱۹۳۷ م کال د انیس په مطبعه کې چاپ شوه.

۳ ـ غیاصه، پښتو نظم په ۱۳۶۵ ق کال کې.

۴ ـ لالی ریخته: په دری ژبه دډاکتر اقبال د اردو اشعارو منظومه ژباړه چې د هغې لومړي او دوهم ټوک په کابل کې په ۱۳۵۵ ش کال چاپ شویدي.

۵ ـ نغمات: د هغه د خپلو شعرونو ټولګه.

۶ ـ ګلخانه: د نورو شاعرانو د غوره اشعارو سره یو ځای د پریشان د اشعارو ټولګه.

۷ ـ د هېواد رجال: د افغانستان د ځینو نومیالیو د احوالو او اثارو شرحه.

۸ ـ زینت نامه: دده خپل ژوند د شرحی حال لیکنه.

۲ ـ عبدالرحمن لودین په (کبریټ) متخلص:

دسیداحمد لودین کندهاری د کاکا ځوی د لومړی مشروطیت د رجالو او بندیانو په (۷) نمره کې یادونه تیره شوه، کبریټ د ۱۲۷۲ ش کال په شاوخوا کې د کابل په ښار کې نړی ته راغي، په کوچنیوالی کې یې د سواد زده کړه د خپل پلار څخه د هغه د برابر



شوی اصولو سره سم "طرز کاکا" زده کړه، او په حبیبه مدرسه کې یې د مخې لوړي درجې (اثریه) پوري درس ولوست. پداسې حال کې چې برسیره په پښتو او دری ترکي او اردو او لږ څه عربي او انګریزي ژبې هم زده کړی وي او لدغو ژبو څخه یې د هېواد په دواړو ژبو ژباړی کولي شوي او د پښتو او دری ژبو تکړه لیکوال و د افغاني تند لاری ځوانانو د مخکښانو څخه و.

کبریټ د حبیبي په ښوونځي کې د رشدي تر درجې پوري د خپلو زده کړو تر بشپړیدو وروسته په ۱۲۹۰ ش کال د سراج الاخبار په اداره کې د لیکونکي په توګه ومنل شو، او څوکاله یې د محمود طرزی د فکري او ادبي روزني لاندي کار وکړ، او په همدې وخت کې و چې څو ژبې یې زده کړی او په حقوقو، ټولنیزو او ادبیاتو کې یې مطالعه وکړه اوله هغه استاد څخه یې ډیر څه زده کړل او لیکنې یې په سراج الاخبار کې خپریدلي.

کبریټ ازاد، نازک خیال، تندرو، زیارکښ او زیاټ زړه ور او د واضح او روښانه لهجي درلودونکي ځوان په توګه میدان ته راووت او همیشه یې کینې لاس تمایلات درلوده، او په دوهم مشروطیت کې یې کینې لاسي د تندروه ډله رهنمایي کوله، اولکه څنګه چې موووېل د ۱۲۹۷ ش کال د سرطان په ۱۲ شپه د امیر حبیب الله خان پرموکب یې د تفنګچی ډزی وکړي څه وخت چې ګولي یې په هدف ټیک ونه لګیده هغه یې ونیوه او زنځیر او زولانه یې کړه لاکن ددې زندان اته میاشتي د هغه محکومیت او اعدام ته نژدي وي، ځکه چې لږ وخت وروسته په خپله امیر د کله ګوش په ښکاره ځاي کې و وژل شو.

Library

د غبار په وینا عبدالرحمن، قوی، تورو سترګو، ګنځی ګنځی ویښتانو، او یو څه اندازه چاغ ځوان او په دری ژبه کې لیکوال مستقل او نوښتګر شاعرو، د اماني دوري دپیل سره سم دشمسی د ۱۲۹۷ ش کال د حوت په اواخرو کې زندان څخه را ووت او په همغه جدی او زړ وره روحیه د نوو او پرمختیا غوښتونکو ځوانانو په سرکې و درید یو څه وخت یې د امان افغان په نوی جریده کې کار کاوه اوله هغي وروسته یې لاندیني رسمي دندي سرته ورسولي:

۱ _ په ۱۳۰۰ ش کال کې د قانون جوړولو د مرکز غړیتوب .

۲ _ په ۱۳۰۲ ش کال کې په بخارا کې د افغانستان د فوق العاده سیاسي پلاوي غړیتوب.

۳ _ په ۱۳۰۲ ش کال کې د پښتو مرکی دوهم رئیس.

۴ _ په ۱۳۰۲ ش کال کې د پښتو مرکی لومړي رئیس.

۵ _ په ۱۳۰۳ ش کال کې دشاه د سرمنشي کفیل او بیا له هغي څخه استعغا او په کندهار کې ګوښه والي ۱۳۰۴ ش .

۶ _ په ۱۳۰۵ ش کال د کندهار د بلدیې رئیس.

۷ _ د ۱۳۰۶ ش څخه تر ۱۳۰۷ ش کال پوري د کابل د ګمرکونو رئیس.

( په سقوی دوره کې د هغي بندیتوب).

۸ _ په ۱۳۰۸ ش کال کې د کابل د بلدیې رئیس، نادر شاه سره د هغه بد کېدل او د پادشاه په حکم د ۳۷ کالو په عمر د دلکشاد ماڼي څخه د باندې د هغه وژل. ۱۳۰۹ ش یا ۱۹۳۰ م کال.

کبریت چې ګوت نیونکي او د لهجي د صراحت درلودونکي سړی و،همیشه د اماني دولت د ګمارلوکسانو د ناپاکو اعمالو په کینڅ اړخ کې و دریده؛ او ان تر دي پوري چې د شاه د سر منشی ګری



څخه دده استعفا په ۱۳۰۴ ش کال دده دهمدغي.لهجي په سبب وه، هغه په خپله په همدغه کال کې ددې کرښولیکونکي ته وویل: ددولت سازمان دهغه چتېل ډنډ پشان وو،چې هر څوک به په کې داخلیده کالي به یې چتېل کیدل ، نو پدې اساس خان د " فتاد ددغه ډګر" څخه څنډی ته کړ.

د بیکاری په وخت چې کبریت د بردراني په بازار او دلودینانو په کوڅه کې په خپل پلرني کور کې په ګوښی توګه اوسیده، ددې کرښو لیکونکي ىې کله کله خدمت ته ورتللم، او هغه به په مقاله لیکلو او ادبي مطالعاتو کې ما ته لارښووني کولي، دغه ځما د ځوانی وخت و چې د هغه سره د خبرو اترو څخه مي ګټه تر لاسه کوله او خوندی تري اخیسته.

کله چې شاه امان الله خان په ۱۳۰۵ ش کال کې کندهار ته د حالت د لېدلو لپاره راغی د هغه د څو څو واری غوښتني له مخي یې د کندهار دبلدیې ( ښاروالی) ریاست جوړ کړ، لاکن یو کال وروسته په کابل کې د ګمرګ په ریاست وټاکل شو، چې په پاک لمنۍ او اداری تقوا سره یې هغه دنده تر سره کړه، کله چې د کندهاز څخه یې د کابل په لوری حرکت کاوه، خپلو انډیوالانو ته یې ویل: دولتي مرکزونه یا اداری ( خاصتا ګمرکونه) د فساد او د بدو غوښتلو مرکزونه دي، خدای دي راسره مرسته وکړي، چې د کابل ګمرک ددغه راز ناپاکیو څخه پاک کړم.

کبریت دپغمان د ۱۹۲۴ م او ۱۹۲۸ م کلونو په لویو جرګو کې د خلکو دځینو غوښتنو نماینده ګي وکړه، او د ۱۳۰۷ ش کال یا ۱۹۲۸ م کال د میزان په ۱۵ هغه وخت چې شاه امان الله خان خپل ځیني افراطي ریفورمونه یا اطلاحات اعلان کړل. او ځان یې یو

Library

انقلابي پادشاه وباله. کبریت وویل: اعلحضرت ځان انقلابي پادشاه معرفي کړ، نو هیله کېږي چې ددولت په دستګاه کې به انقلاب ومني.لسر کاله کېږي چې اعلحضرت د عظمی صدرات دنده په خپله غاړه اخستي ده، پداسي حال کې چې انقلاب ددې کار غوښتونکي دې چې یوبل مسوول شخص باید د صدراعظم په توګه وټاکل شي.تر څو خلک هغه د خپلو کړو وړو په سبب مسوول وپژني.[73] په همدي غونډه کې کله چې شاه د ښځو د نقاب له منځه وړل اعلان کړل او ملکي ثریا په خلاص مخ پدغه غونډه کې ګډون وکړ اوددې غورځنګ یا حرکت په هکله راي وغوښتل شوه، پرته له دوو تنو نورو ټولو تائید کړه، هغه دوه تنه یو د ګمرک کابل رئیس عبدالرحمن و او بل دسوداګرۍ وزیر عبدالهادي و، دغو دوو تنو ویل چې موږ د هغه لومړنیو کسانو څخه یو چې د ښځو د نقاب د لرې کولو طرفداریو، لاکن پدې وخت کې نه چې د انګلیس ددسیسو لاسونه په افغانستان کې را اوږده شوي دي. او لدي مصلحانه حرکت څخه هم یوه فتنه جوړ وي، ( او همداسي هم وشول همدا خبره وه چې په سبا ته یې میر قاسم خان د شاه سرمنشی وګمارل شو تر څو د دواړو څخه استعفا واخلي، نوموړي میر هم ددواړو استغفا لیکونو سره خپله استعفا هم یو ځای کړه او د شاه حضور ته یې وړاندي کړه، او د ۱۳۰۷ ش کال د ژمی پیل و چې په دي ناسنجول شوي حرکت سره ارتجاعی او بدمرغه اړو دوړ هم پیل شوي وو....

عبدالرحمن د ځوانی له وخته په سیاست کې انګلیس ضد چال چلند درلوده او همیشه یې پدي لاره کې قدم او چت کړي دي او د وژنی

[73] غبار:مسـ. ۸۱۳ .



حکم یې هم په زیاتره ګمان چې دهمدی کبله ورکول شو. د نادرشاهي په لومړیو وختونو کې چې هغه د کابل د بلدیې په ریاست ګمارل شوی وو، یوه ورځ یې په شاهي د سترخوان ډوډی وخوړه، او شاه د هغه سره په نرمی سره خبری کولي کله چې د ډوډی خوړلو څخه خلاص شول، شاه خپلو حاضر باشانو سپاهیانو ته پرته له مقدمی امر وکړ، چې هغه واخلي او د دلکشاد ماڼي د باندې دي و وژني. دغه امر په څو شیبو کې ددلکشا دیوال په بیخ کې عملي شو، او هغه ځوان چې د لوړو خویونو، زړه ورتوب او څه اندازه پوهي، لېدي، د طبعي ادراک او ربښني هېواد غوښتني څښتن وو دسم او جفا کاری په ګولي وویشت او ویې واژه، او دویاره ډک ژوند طوماریې ورته را ټول کړ،

د عبدالرحمن څخه ځیني سیاسي او ټولنیزي تندی او زړه وهونکي منظومی دغوره افغاني اشخاصو د بیوګرافی یوه رساله او په پښتو او دری ژبو د لغاتو لوی قاموس پاتي شوي وو چې په خواشني سره دهغي نسخه د هغه د وژلو سره له منځه ولاړه.

دهغه دیوه انتقادي مخس څخه دهغه د خبر لوڅخه قوه او دلهجي صراحت پوره ښکاره دي. چې دخپل وخت د قدرت خاوندانو او مغرورو کسانو ته یې داسې ویل:

هر یک نشسته است بزین انچنان تلک
کس نیست غم زملت وپرورش ازملک
با صد غرورو کبر همی تازد اسپ دک
کس نیست تا به سینه ایشان کند شک
خوب ای خران چرید که تا چا غترشوید!

Library

کبریټ لودین په هغه فکری نوی حرکت کې چې د لومړی نړیوالي
جګړې او د ازادۍ د غورځنګ څخه وروسته په افغانستان کې منځ
ته راغلي و مخ کې او ګوت نیونکي او ظریف شخصیت درلوده، او
د خپل وخت په ځوانانو کې ګران او کله هم مخ کې وو. چې زړو پالو
او محافظ کارو هغه نه خوښاوه.

۳ _ میر غلام محمد غبار:

میرغلام محمد غبار د میر محبوب خان کابلی (چې اصلا فرملي
وو) ځوی و چې په ۱۲۷۶ ش کال د کابل په لاهوری دروازه کې دنیا
ته سترګې وغړولې، او لمړني درسونه یې په خپله کورنۍ کې چې د
سواد او پوهې ښتان وو او په حکومتي دفترونو کې کارکوونکي
وو زده کړل، او د امیر حبیب الله خان د پاچاهۍ په اخیرو وختونو
کې ددوهم مشروطیت د افغان ځوانانو سره بلد او یو ځای شو. او
خپلو مطالعاتو ته یې په تاریخ او ټولنېزو علومو کې دوام ورکړ تر
څو چې د دري ژبې د ښه ذوق او تکړه لیکوال تری رامنځ ته شو او د
سیاسي او ادبي لیکنو په لیکلو کې پیل وکړ.

هغه د ۱۲۹۶ش کال په شاوخوا کې په خان اباد کې د ګمرګ
مأموریت درلوده او په ۱۲۹۸ش کال کې د کابل د کوتوالی کارمند
و. د هغي وروسته یې په ۱۲۹۹ش کال کې د جبل السراج څخه د
ستاره افغان جریده خپره کړه، په ۱۳۰۰ش کال د شجاع الدوله د
تنظیمه ریاست د غړی په توګه هرات ته ولاړله له هغي وروسته په
۱۳۰۳ش کال کې په مسکو کې د سوداګری نماینده و، کله چې په
۱۳۰۳ش کال د سرطان په ۱۹ محمدنادرخان په پاریس کې د افغاني
سفیر په توګه وټاکل شو، غبار د هغه سره د سفارت سکرتر و او د



هغي وروسته کابل ته راغی او د یغمان د ۱۳۰۳ او ۱۳۰۷ش کلنو
په لویو جرګو کې د کابل د خلکو استازی و او د یوګینې ارخې غړی
په توګه یې د افغان د ځوانانو د افکارو نماینده ګې کوله او د
دیموکراسی او قانوني حکومت منبع و. ترڅو چې په ۱۳۰۹ش کال
کې په برلین کې د افغاني سفارت سرلیکونکی وټاکل شو، بیا کله
چې په کابل کې په ۱۳۱۰ش کال کې ادبي ټولنه جوړه شوه، غبار د
دغي ټولنې یو تکړه غړی و او د "افغانستان و نګاهی به تاریخ" د
مقالو سلسله یې لیکله، ترڅو چې په ۱۳۱۱ش کال کې د کابل د
سرای موتي په زندان کې سیاسي بندي شو او د دغه درودونکی بند
موده تر ۱۳،۵ش کال پورې اوږده شوه او د دغه ځای څخه د فراه
ولایت یوه لېري کلي ته تبعید شو، او تر ۱۳۱۷ش کال پورې هلته
پاتې شو او په ۱۳۱۸ش کال کې کندهار ته راوستل شو او په هغه
ځای کې د احمدشاه بابا کتاب ولیکه او د ۱۳۲۲ش کال څخه
راوروسته یې بېرته د کابل د اوسېدنې اجازه تر لاسه کړه، او په دې
ځای کې د تاریخ د ټولنې غړی و او د یو څه وخت لپاره یې د انیس
جریده خپروله، په ۱۳۲۸ش کال د شورا د اوومې دورې په
انتخاباتو کې د کابل د ښار د خلکو د اتسازی په توګه وټاکل شو او
د مبارزو او روڼ اندو وکیلانو د قانوني مبارزو په کوچني ډله کې
ګډون درلوده، او د وطن د ګوند په جوړولو او د وطن د اوو نیزې
جریدې په خپرولو یې لاس پورې کړ، او د حق غوښتنې،
دیموکراسی، قانونیت او د مشروطه حکومت ولوله او هنګامه یې
راګرمه کړه، او د ۱۳۳۱ش کال د شورا دایمې دورې په انتخاباتو
کې بیا د کابل د خلکو د وکالت داوطلب شو، لاکن د کابل د خلکو
د هغه مظاهرې په ترخ کې چې د ده په طرفداری یې کوله ونېول شو

Library

او زندان ته واچول شو چې د ده د بندي توب دی دورې په ولایت کابل کې اته کاله دوام وکړ، کله چې د ولایت کابل له دې بند څخه په ۱۳۳۹ش کال کې ازاد شو د مطبوعاتو په ریاست کې مشاور و او د "افغانستان در مسیر تاریخ" کتاب یې لیکه.

غبار د عمر په پای کې د معدې په ناروغۍ اخته او په ۱۳۵۶ش کال د برلین په یوه روغتون کې بستر و ترڅو چې د بطني عملیاتو څخه وروسته د همدغه کال د دلوی په ۱۶ د دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د دلوی په ۲۲ ورځ د ده د کورنۍ په هډېره کې په شهدای صالحینو کې خاورو ته وسپارل شو هغه نیمه پېړۍ د هېواد په سیاسي، ټولنېزو او ادبي حرکتونو او غورځنګونو کې برخه اخیستې وه.

غبار چې د زوړوالی په وخت د اتیا کالو څخه زیات عمر په درلودلو شره مړ شو، هغه د ښې قیافې، جګې ونې او د نرمو خبرو کولو او پلټونکی سړی و. چې د خبرو په نفوذ او د قومي استدلال په درلودلو سره یې کولای شول چې ځوانان په خپل شاوخوا راټول کړي، کله چې د روان او تکړه قلم څښتن و کولی یې شول چې په سیاست، تاریخ، ادبیاتو او ټولنېزو برخو کې دلچسپه بحثونه ولیکي، چې د هغې جملې څخه ده د کار، افکارو او د پېښو څېړنه او نظر اچونې ښېلګه د مسیر تاریخ د کتاب څخه ښه روښانه ده. چې نوموړی دغه کتاب سره له دې چې ځینې تاریخي او عددي تېروتنې او حتی ځینې یې ارادي هم دی د بیان په قوت او ادبي ظرفیت سره یې دلچسپه او دمطالعې وړګرځولی دی.

هغه په تاریخ لیکنه کې خاص تګ یا لاره درلوده چې تاریخي پېښې یې د ټل لپاره د عندی خاص تصور او خپل فکري قالب په ګټه



استعمالولی، نو په دې اساس په خپله تاریخ لیکنه کې بیطرفه لېدونکی یا ناظر نه شمېرل کېږي حتی تردی چې د افغانستان د خلکو د بېلا بېلو استعدادونو چې د تاریخ په اوږدو کې یې ښودلی دی هم پوره ایمان درلوده، او دی ملت ته یې د قدر په سترګه کتل، او همیشه یې غوښتل چې د دغه هدف د تر سره کولو په لاره کې ګام اوچت کړی، او تردی چې ځینې وخت تظاهر هم وکړی.

د دې ټولو سره، سره غبار د معاصری دوری په سیاسي او ادبي رجالو کې ګوت نېونکی څېره، رادیکال شخصیت او پوهه دیموکراسی غوښتونکی سړی و. چې د پرمختیا غوښتنې او تجدد په مرحلو، او ادبي او سیاسي حرکتونو کې پوره ونډه درلوده، او په دې لاره کې یې د یوه مخکښ او ترقی غوښتونکی غړی په توګه یې ډېر کړاوونه او ربړونه لېدلی او ګاللی دی. او دوه ځلې د ۱۴ کالو څخه زیات د کړاوه ډک زندانونه زغملی دی هغه به کله دغه بیت زمزمه کاوه:

شما برده ام از صدق به خاک شهدا
تا دل و دیده خونبا به فشانم دادند

( روح دی خوښ وې)

د غبار اثار:

۱_ افغانستان و نگاهی به تاریخ ان، د ادبي ټولنې د کابل مجلې په لومړۍ او دوهم ټوک کې پرله پسې مقالې، ۱۱_ ۱۳۱۰ش کلونه.

۲_ احمدشاه بابا افغان د کابل چاپ ۱۳۲۲ش کال.

۳ـ افغانستان در مسیر تاریخ چې د تېرې شوي دورې څخه تر ۱۳۰۷ش کال پورې د افغانستان د تاریخ او سیاسي پېښو درلودونکی دی د کابل چاپ ۱۳۴۶ش کال یا ۱۹۶۷م کال.

۴ـ خراسان (رساله) د کابل چاپ ۱۳۲۶ش کال.

۵ـ افغانستان بیگ نظر د کابل چاپ ۱۳۲۶ش کال.

۶ـ د افغانستان د تاریخ دریم ټوک د اسلام د پېدایښت څخه د طاهریانو تر له منځه تللو پورې د کابل چاپ ۱۳۲۶ش کال.

۷ـ تاریخ ادبیات دری افغانستان در قرون اخیر (د پوهنې د وزارت درسي کتاب) د کابل چاپ ۱۳۳۱ش کال.

۴ـ محمد ولي خان دروازی:

د بدخشان د اشرف زاده ګانو او د خاصو غلام بچه ګانو د ډلې مشر، دراک او په کار پوهه او هوښیار ځوان و. چې د امیر حبیب الله خان د دربار سره یې ځانګړې نژدیوالی درلوده، او د هغه ډلګۍ سره یې اړیکې درلودل کوم چې شهزاده عین الدوله او د بارکزایي شاغاسي[74] کورنۍ او د هغې مور علیا خوتې سرور سلطان سراج الخوانین هم په هغې پورې اړه درلوده، او د تپه سالار غلام حیدرخان چرخي د کورنۍ غړو لکه: غلام نبي خان، غلام جیلاني خان او غلام صدیق خان د څرخي زامنو او ځینو نورو د دې ډلې سره اړیکې درلودلې.

[74] شاغاسي د ترکي ایشیک اقاس کلمې مفغن شکل دی چې د دربار د وزیر سره برابره دولتي رتبه وه، چې شاه غاسي شیردل خان په لوي ناب ملقب د امیر شیرعلي خان په وخت کې دا مقام درلوده، چې د افغاني ترکستان نایب الحکومه هم و او ځوی یې خوشدل خان لوی ناب د سراج الخوانین دوهم پلند پلار چې یو څه وخت د کندهار د نایب الحکومه هم و چې د علي احمدخان والي پلار اوسي.



څرنګه چې د سراج الخوانین تروزی د فقیر محمدخان شاغاسي لور د محمد ولي خان میرمن وه[75] نو د اماني جلوس په پېښو کې د یادوني وړ فعالیت ترسره کړی و چې د ۱۲۹۸ش کال د حوت په ۱۰ د جنرالی رتبه او د ښه خدمت نشان ورته ووهل شو او هغه وروسته د افغانستان د ګرځنده سفیر په توګه د یوه پلاوی په سر کې د تاشکند او مسکو له لپاره شوروي دولت او نورو اروپایي هېوادونو ته واستول شو، چې د شوروي د دولت د بنسټ اېښودونکی لنین او د ۱۹۱۷م کال د اکتوبر د انقلاب د نورو مشرانو سره یې لیدني کتنې وکړې، او د ازاد افغانستان سیاسي اړیکې یې د دغه دولت سره ټینګې کړې، او د دولړو دولتونو لومړنۍ تړون یې د چیچرین او قره خان سره په ۱۲ مادو کې د ۱۹۲۱م کال د فبروری په ۲۸ او د ۱۲۹۹ش کال د حوت په ۱۰ لاسلیک کړ.

د دغه ګرځنده سفارت پلاوی د محمدولي خان په مشری د اروپا او امریکا د سفر وروسته چې ازاد افغانستان یې نړۍ ته ورپېژانده او د اروپا د هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو سره د سیاسي خبرو اترو څخه وروسته د ۱۳۰۱ش کال د جوزا په ۱۱ یا د ۱۹۲۲م کال د مې په ۱۲ کابل ته راستون شو.

په داسې حال کې چې په خپله امان الله خان د محمدولي خان د خدمتونو څخه مننه او قدرداني وکړه، او هغه یې د محمود طرزی په ځای د بهرنیو چارو د وزیر په توګه وټاکه، (د ۱۳۰۱ش کال د جوزا ۲۵ نېټه پنجشنبه) یوه میاشت وروسته یې د ۱۳۰۱ش کال د اسد د ۷ نېټې، یکشنبې د ورځې د فرمان له مخې د هېواد لومړی نښان (اعلي لمر) د کرنې او ښوالی ځمکې او د مرادکلا ودانۍ هغه ته

[75] مهدي فرخ: تاریخ سیاسی افغانستان ۳۶۰.

وبخښل شوی. او له دې وروسته يې په ۱۳۰۲ش کال د پکتيا د شورش او د قومونو د بغاوت يعنې سر کې په غلې کولو کې د هغه محاذ قوماندان و، او کله چې په ۱۳۰۶ش کال د افغانستان شاه د اروپا د سفر نيت وکړ، هغه د بهرنيو چارو د وزارت کفيل او د سلطنت د مقام وکيل پاتې شو، چې د رژيم سره په مخالفت او د يوه جمهوريت د مقدماتو د برابرولو په کار تورن و (!)

محمدولي خان د ځوانۍ د وخت څخه د کابل د انګيس ضد کړيو سره بلد او اشنا و او د عمر تر پايه څه د اروپا او امريکا په سفر په ۱۹۲۱م کال کې او څه د بهرنيو چارو وزارت او بادشاهي مقام په کفالت کې په همدې صفتونو ټينګ پاتې شو، او کله چې په ۱۳۰۸ش کال د ميزان په مياشت کې کابل فتح شو هغه د اماني عصر د کابل د قواو د قوماندان محمود شامي سره يو ځای چې دواړه د اماني دربار نږدي خلک و محاکمه او د ۱۳۰۸ په پای کې په کابل کې اعدام شول.

**۵_ شجاع الدوله:**

اصلا د غوربند د خانزاده ګانو او د دربار د غلام بچه ګانو د جملې څخه و، چې د فراشباشي په عنوان، د شاهي ارګ د فرشونو متعدي او په سفر کې د سلطاني موکب د خيمو متنظيم شمېرل کېده، او د لومړی مشروطيت د رجالو سره يې هم اړيکې درلوده او په دوهم حرکت کې د هغه ځوانانو په کړۍ پوري تړلي و چې شهزاده امان الله د هغي سر پرستي کوله.

لکه څنګه چې مخ کې د جوهر شاه غوربندي د ژوند په شرحه کولو کې (د لومړی مشروطيت دشهيدانو څخه يو تن) وليکل، وايې چې د امير حبيب الله خان قاتل د امان الله خان د ډلي څخه همدغه



مشروطيت غوښتونکي ځوان و. چې د همدغی ډلي په اشاره به يې امير وژلي وي، يعنې د وژني پېښې، سياسي علت او ګوندي او ډله ايز عولمل درلوده.

مګر ځينې دا وژنه د شخصي غچ اخستني پربنسټ ګڼي (او د امان الله خان د مورسراج الخواتين) يعنې ملکي سرور سلطان لا س په هغي کې ويني. د بيلګي په توګه امير يوه شپه د چهلستون په ماڼې کې د عيش او نوش محفل برابر کړي و او دخپلي خور اخت السراج پواسطه يې ډيری ښکلي نجلۍ پدغه محفل کې سره راټولي کړي وي چې نا څاپه سراج الخواتين پدغه محفل د عياش کې را د ننه شوه، امير او دغه ټولي ښکلي نڅاکوونکي يې په بدويلو او د ضرب وشتم لاندې ونيولي، څرنګه چې امير ددې حرکت څخه ډير په قهر شوی وو، لکی ته يې طلاق ورکړل، هغه او د هغي ځوی عين الدوله د لوی ناپ (بارکزی) د کورنۍ دغلام حيدر خان چرخی د کورنۍ، او د دربار د چپی ډلي (خاص غلام بچه ګان) او د نورو روڼ اندو سره يې په لاس يو کولو سره يوه کميټه جوړه کړه تر څو امير ووژني چې پدې ډله کې فراشباشي شجاع الدوله هم ګډون درلوده، څه وخت چې امير د ۱۳۳۷ ق کال په صفره کې د هرکال د عادت سره سم د هوسيو ښکار ځای د لغمان کله ګوش ته ولاړ، فراشباشي شجاع الدوله يې د شاهي خيمی د کږی تړلو په سبب ډير زيات وواهه، او غابنونه يې مات شول، او دا عمل ددې سبب شو چې شجاع الدوله هغه د غچ اخستني لپاره ووژني[76]. ايراني ليکوال مهدي فرخ چې د افغانستان ټول تاريخ يې سرسری ليکلی دي، او اراده يې درلوده چې هر مهم شي کوچني او بې ارزښته او پرته له

[76] مهدی فرخ: تاريخ سياسي ۳۶۰.

تاريخي ژورتيا د قبيلوي او كورنيو سياليو پر بنسټ وښي،او په خپله تاريخ ليكنه كې يې هيڅ ډول زماني روحي او ټولينزو اغيزو او عواملو او د طبقاتي تنګ لورى پرله پسې، مرحلوته قايل او ليدونكي ندي.لكه څرنګه چې پورته اقتباس وشو، د امير وژنه يې هم ديوه سړي يا لوى ښځي غچ اخيسته ګڼلي او ډيره لويه اشتباه او خطايې كړيده.

كه چيري د ډېر ديوه ملت فكرى او ټولينز تاريخ پداسي لنډه ليدنه او سرسرى ښوونو سره قبول كړو، نو بياپوښتنه بايد وكړو چې، ايا هغه دلومړى مشروطيت حركت او د افغان ځوانانو په وينو ليست پيټ كيدل چې لس كاله مخ كې واقع شوي هم دغى شخصى او سرسري علت درلوده؟ ايا د افغان او انګليس په لومړي او دوهمه جګړه كې د افغان ملت په عمومي قيامونو كې او د انګريزى چپاول ګرو په وژلو او ويستلو كې هم يوازي د كومى ملكى او يا د دربار د كوم فراشباشي د غچ اخستني لاس كاركاوه؟ ايا ددې پېښي څخه څو مياشتي مخ كې د عبدالرحمن لودين قاتلانه حمله هم د كوم نارينه اويا ښځينه شخصي غچ اخستني عمل وو؟ تر هغه ځاى چې ددې كرښو ليكونكي د رښتيا ويونكو او ددې پېښي ليدونكو اويا شاملو كسانو څخه مى اوريدلي دي د وژني ترتيبات مخ كې ددوهم مشروطيت په پټ مركز كې نيول شوي وو حتي ترديږ چې د امير ورور نايب السلطنه :ي هم د ځان سره ملګرى او هم قسمي كړى و چې دصيحفو په منځ كې يې لاسليك كړي و چې د هغې شرحه خداى بخښلي غبار د شجاع الدوله له قوله وركړى ده[77]

77 وګوري: افغانستان درمسير تاريخ ۷۴۷.



Library

خداى بخښلي ميرقاسم خان چې په دوهم مشروطيت كې هم ونډه درلوده او هم د پېښو ليدونكي حاضر وو ويل: د امير د عياشي او سياسي تنګ لوري څخه د كركي موجبه عوامل پخوا چمتو كړي شوي وو، چې د علياحضرتي بدكيدل. د امير سره يا د خميى د ديرک كړيدل او د شجاع الدوله وهل او ټكول هغه جزيات وو چې وروسته يې هغه عوامل تيز او چټک كړل، او شجاع الدوله ( د پخواني طرحه شوي پلان سره سم) د امير خيمى ته ورننوت او هغه يې د تفنګچى په ګولي سره د حساب ځاى ته واستاوه.

څرنګه چې شجاع الدوله دشهزاده امان الله خان د ډلي تكړه غړي وو، د امير د وژلو وروسته يې په فعاليت پيل وكړ، او په ظاهري توګه يې د نورالله خان د امارت دتبليغ لپاره چې په جلال اباد كې د خلكو څخه بيعت واخيست او په پټه توګه د خپل كار د نقشي د اجرا كولو لپار، كابل ته راغى او د امان الله خان دتخت كښيناستني په پېښو او د هغه د مخالفينو په له منځه وړلو او نورو چارو كې يې لاس درلوده. څه وخت چې د ۱۹۱۹ م كال د مى په مياشت كې اماني لومړنى كابينه جوړه شوه همدغه شجاع الدوله امنيه وزير و.

ددې وروسته هغه د د هرات دتنظيميه پلاوي په سر كې وټاكل شو،(د ۱۳۰۰ ش كال د جدى ۲۰ ) او د ۱۳۰۳ ش كال دحوت څخه د ۱۳۰۷ ش كال كې له هغه ځايه لري او په برلين كې يې اوسيدنه غوره كړه او په همدغه ځاى كې په ۱۳۲۴ ش كال كې مړ شو ( د لومړى مشروطيت په كسانو كې د جوهر شاه د احوالو شرحى ته مراجعه وكړى.)

د امريكا چاپ دافغانستان درجالو د پيژندني په كتاب كې ئې د هغه زيږيدنه په ۱۸۹۶ م كال په غوربند كې او غلام بچه ګانو په ډله

Library

کې دده شمولیت ئې په ۱۹۱۶ م کال ښودلي دي او هغه ئې د
الماني پلاوي میلمه پال هم لیکلي دي.

په ۱۹۲۹ کال داماني دولت د سقوط په وخت کې د هرات تنظیمه
رئیس وټاکل شو چې د نایب سالار عبدالرحیم کوهستاني د حملې
څخه مشهد او بیا تاشکند ته وتښتید او په برلین کې ئې هستوګنه
غوره کړه.

۶ـ محمد ابراهیم خان جمشیدي:

د هرات د جمشیدي او لیماق د خانزاده ګانو ددربار غلام بچه او
صالح مردم داره شخص و چې په دوهم مشروطیت کې ئې په دوهمه
لیکه کې ځاي درلوده ، او د اماني تخت کښیناستني څخه وروسته د
کندهار د ګمرک مدیر شو ،(د۱۳۰۴ ش کال په شاوخوا کې ).

۷ـ ادم خان :

هغه د لوګر د پښتو ژبو او دیوي مقتدري کورنۍ سره اړیکي لري او
ددربار غلام بچه و چې ددوهم مشروطیت په دوهمه لیکه کې ولاړ و
، د هغي وروسته په اماني عصر کې نزدي په ۱۳۰۳ ش کال کې
دګرشک او پشت رود دحکمران په توګه وټاکل شو او په نادري دوره
کې د ۱۳۰۹ ش کال راوروسته د وزارت دربار غړي او محاصب و.

۸ـ میر یار بیګ خان دروازي:

دکابل او هرات د والي مهتر میرزمان الدین ورور او دمحمد ولي
خان د خور زامنو څخه وو، ادیب او روڼ شاعر شخص و، چې ددوهم
مشروطیت په ټولنه کې شامل او دعبدالرحمن لودین او عبدالهادي
داوي سره یو ځاي بندي شو او داماني دوري د پیل سره ازاد شو او د
ګرځنده فوق العاده سفارت په پلاوي کې چې د محمد ولي خان په
مشري و ، غړیتوب درلوده، لاکن په هم هغه ورځ چې پلاوي د کابل



څخه حرکت کاوه د زړه د دریدني له امله له اسپه راولوید او له دې
نړۍ ئې سترګي پټي کړي.

هغه په خپله هم شعر وایه او هم شاعر پیژندونکي وو ، او د "اتش
فشان" په نامه ئې یوه تذکره لیکلي وه چې په خواشیني سره دده د
مړیني وروسته له منځه ولاړه او بیا تر لاسه نشوه.

عبدالهادي داوي چې دده سره د یوه زندان انډیوال و، دده د مړیني
وروسته دده د سیرت او صورت په هکله په امان افغان کې یوه مقاله
ولیکله او دهغه ادبي ذوق ئې وستایه، دزندان په وخت کې ئې د
زندان دنه زغملو وړ تکلیفونه ئې په ډیره نرمه لهجه او شاعرانه
مزاج سره یادول او ویل ئې:

ما تنګ ظرفان حریف اینقدر سخن نه ایم
دانه اشکیم ومارا ګردش چشم اسیاست.

(وګوري: ددوهم مشروطیت رجال پنځم فصل، دداوي شرح حال
لمړي عدد).

۹ـ میر زمان الدین خان دروازي:

دبدخشان ددرواز دمیرازده ګانو څخه دي هغه پوهه کارګر اوددربار
دغلام بچه ګانو دنفوذ څښتن او دشهزاده امان الله سره یې فکري او
سیاسي تړاو درلوده، له همدي کبله د اماني دوري په پیل کې په
۱۳۰۰ ش کال د کابل والی شو او په ۱۳۰۲ ش کال د هرات نایب
الحکومه وټاکل شو تر څو چې د ۱۳۰۳ ش کال د قوس په ۱۹ د
سکټي په ناروغۍ هلته مړشو.

وایې چې هغه خیلق شخصیت او په خلکو مهربان او تکړه کارپوه و.
او دحکمراني په وخت یې هیڅوک ازاد کړي ندي.

Library

۱۰ _ غلام احمد اعتمادی:

دا د عبدالقدوس خان اعتماد الدوله د زامنو څخه دي چې د حبیبي په مدرسه کې یې د رشیدي تر درجي پوري زده کړي کړي او روڼ اندی پوهه ځوان وو چې د یو څه وخت لپاره د بهرنیو چارو په وزارت کې په انقره کې د افغانستان سفارت د منشي په توګه کار کاوه، نزدي په ۱۲۰۶ ش کال کې په بمبی کې افغاني جنرال قونسل وو او دري، پښتو، اردو او لږ څه په انګلیسي ژبه هم پوهیده او لیکل یې پري کول، او ددغو ژبو د ادبیاتو سره یې بلدتیا درلوده، هغه د پیښور مرد'ن د پښتو ژبي شاعر فضل احمد غر ټولنیز او تنبیهی اشعارو ټولګه د غره ګل په نامه په بمبی کې چاپ او په هغي باندي یې په دری ژبه د همدردی یوه سریزه ولیکله (۱۹۳۰ م) له خدای بخښلي د اوی څخه می واوریدل چې غلام احمد د بدیعنې ذوق څښتن و، او دری نشر یې په روانه لهجه لیکه او د دوهم مشروطیت په ټولنه کې د ارزښت وړ مقام درلوده.

۱۱ _ جمعه خان:

د سردار عبدالقدوس اعتماد الدوله ځوی د روڼ اندو ځوانانو سره ملګري او د اماني دوري د کارپوهه خلکو له ډلي څخه و چې د ۱۳۰۱ ش کال په پای کې په افغاني سفارت کې د بخارا دربار ته واستول شو او له هغي وروسته د میمني اعلی حاکم و چې د ۱۳۰۲ ش کال د ثور په ۱۰ وفات شو.

۱۲ _ سید غلام حیدر پاچا:

دا د محمد سرور ځوی په ۱۲۶۶ ش کال کې زېږلي د لغمان د چارباغ اوسیدونکي او د کنړ د ساداتو د مشهوری کورنۍ څخه و هغه روڼ اندی، پوهه او خوله ور ځوان و چې د دوهم مشروطیت د



ځوانانو په کړیو کې یې د میرقاسم خان او داوی سره همکاری او همفکری درلودله او په اماني دوره کې د ازادي غوښتونکو ځوانانو دډلي څخه شمیرل کیده. او په ۱۳۰۰ ش کال ترکې ته واستول شو او له هغي ؤروسته د کرني او کانونو په اداره کې مامور و تر څو چې په ۱۳۰۷ ش کال کې د بهرنیو چارو وزارت ته ولاړ.

هغه د ۱۳۰۸ ش کال په اړو دوړ کې د جلال اباد د بابر یو په کلا کې د خرخه مشرسید حسن خان شیون او محمد ګل خان مومند په ملګرتیا د جمهوریت په نامه ټولنه جوړه کړه،او د( کورغم) په نامه جریده یې خپره کړه، او د هندوستان په جرایدو کې یې لکه د لاهور د زمیندار او افغانستان په نامه جرایدو کې یې د حبیب الله د سقاو د ځوی د رژیم په ضد یې تبلغات کول، کله چې د ۱۳۰۸ ش کال په پای کې کابل ته بیرته راغي او دامان الله خان په طرفداری یې پیل وکړ نو د ۱۴ کلو لپاره د موتی په سرای کې بندی شو چې په همدغه زندان کې د۵۵ کالو په عمر وفات شو.( ۱۳۲۱ ش کال).

۱۳ _ غلام محی الدین ارتی:

دا د شیرارتي ځوی او د کابل د تندرو و ځوانانو څخه وو هغه خوله وراوګوت نیونکي سړي و او د افغاني ځوانانو سره ملګري و،چې د پغمان د ۱۹۲۸ م کال په لویه جرګه کې د کابل د خلکو ټاکل شوي استازي و،او شاه ته یې خطاب کولو په وخت کې فریاد وکړ او ویې ویل:

اعلیحضرتا! ترڅو پوري چې ستا دغه په فساد مشهور وزیران محاکمه او په دارونه ځړول شي په هېواد کې هیڅ ډول اصلاح ممکنه نده [78] دغه پوهه اوتکړه ځوان په ښکاره ددولت د فاسدو

[78] غبار: مسیر۸۱۳ .

Library

وزیرانو او کارمندانو سره شخړی کولي، او د بدي خوړونکو او انګلیس مشربانو مخالف عنصرو،
تر څو چې د اماني رژیم دسقوط وروسته نزدي په ۱۳۰۹ ش کال په پیښور کې د نامعلوم قاتل په ګولي ولګید او وفات شو.

۱۴ _ احمد رحماني:

د بهرنیو چارو وزارت د متشار عبدالرحمن ځوی و چې د هغې یادونه په لومړی مشروطیت کې وشوه، او د اماني عصر د تندر وه ځوانانو څخه و چې د زده کړو لپاره شوروی اتحاد ته واستول شو او هلته یې روسي ژبه زده کړه، او روسي میرمن یې درلوده،اوله همدی کبله یې هغه ته په کابل کې ( احمدروس) ویل،د هغه لور ماګه رحماني د نوو او لیکوالو ښځو د مخکښانو څخه وه، چې د ( پرده نینان سخنګوی) په نامه کتاب یې ولیکه د کابل چاپ ۱۳۳۱ ش کال احمد په ۱۳۰۸ ش کال کې د انګلیس دسیاست د مخالفت او د اماني تیری دوري دله مخته تللي رژیم سره د ډیر تمایل په تور د ډیر وخت لپاره د کابل په زندانونو کې پاتي شو اوکله چې په ۱۳۲۵ ش کال له زندان څخه را خلاص شو په کابل کې وفات شو .

۱۵ _ کریم نزیهي ( جلوه):

هغه د کابل د قاضي ملابابا مراد ځوی و چې د ازبک د بارسوخه خلکو څخه و او د میمني په اند خوی کې یې نوم او مقام درلوده. کریم نزیهي نزدي په ۱۲۸۵ ش کال په کابل کې پیدا شو او د حبیبي په مدرسه کې یې درسدی تر درجي پوري زده کړی وکړي او عربي علوم او ادب یې په خپله علمی کورنۍ کې زده کړل د عربي، دری، ترکي، او لږ لږ د انګلیسي ژبي سره اشناوو.



نزیهي د ځواني په دوران کې د میرقاسم خان، داوی او عبدالرحمن لودین پشان خلکو سره اشناي او ملګرتیا درلوده، او د تجدد، مشروطه غوښتني او لیکوالی په لاره کې قدم واهه، او په تاریخ، ټولنیزو علومو او د خراسان او اسلام د رجالو په پژندنه کې یې مطالعه درلوده،او دکابل د ادبي ټولني غړی وو،او دده اثارو څخه د هغو پرله پسي مقالو لړۍ ده کوم چې پدي برخه کې د ادبي ټولني د کابل په مجله کې خپریدلي، هغه په دری ژبه ښه شعرونه ویل، چې تخلص یې ( جلوه) دي،نزیهي په ۱۳۱۰ ش کال او اتمه دوره ۱۳۳۲ ش کال کې د اندخوی د خلکو وکیل وو چې د روڼ اندو ترقي خوښونکو په فرکسیون کې یې د کیڼ اړخو پلوی کوله، له هغي وروسته دیوه څه وخت لپاره د عظمي صدارت کارمند او په مشهد کې افغاني وکیل التجار وو، چې وروسته تقاعد شو او اوس د زوړوالي او اوکمزورتیا په حالت کې شپې او ورځې تیروي، موږ یې د افکارو او شعرونه هغه بلګي چې د ځواني په وخت کې یې ویلي د مشروطیت په مرامونو کې په تیرو پاڼو کې لیکلي دي.
نزیهي او ادبي فضلیتونو سره ښاغلي روڼ اندي شخصیت او ټولنه پژندونکي پخته کار پخواني سړی و.چې د خپلي ژوند وختونه کې په نیک نوم سره تیر کړي دي، چې د افغانستان په ترقي خوښونکي طبقه او ادبي حرکتونو کې یې نفوذ او ونډه درلوده، هغه د ۱۳۶۲ ش کال په ژمي کې په د هلی کې وفات شو.

۱۶ _ سید قاسم خان:

هغه د حبیبي د ښوونځي زده کونکي او دوهم مشروطیت د مهمو غړو څخه و، چې د ۱۲۹۸ ش کال راهسي یې د بهرنیو چارو په وزات کې د محمود طرزی د لاس لاندي کار کاوه ددې لپاره چې د

Library

محمود دطرزی زوم و، د اماني عصر دروڼ اندو او چارواکو په زیاترو غونډو کې ګډون درلوده زیات وخت په مسکو کې په افغاني سفارت کې مشاور او له هغې وروسته په بمبی کې د افغانستان جنرال قونسل او اروپا په سفر کې د شاه امان الله د ملګرو څخه و.

د ۱۳۰۸ ش کال داړو دوړ وروسته په اروپا کې پاتي شو، ددې لپاره چې د امیر حبیب الله خان په وژنه او د امان الله خان په تخت کښناستنه او د اماني عصر د لومړنیو کلونو په پیښنو کې ګډون درلوده پدغه باره کې یې کتاب لیکلي و چې دسیاسي پیښنو جزیات او د افغاني اشخاصو خبري اتري هم توضیح کړي وي، دا کتاب چاپ شوي ندي او په ډیرې خواشیني باید ووایو چې عامو خلکو ته ونه رسیده.

۱۷ ـ سید عبداله خان: دا د نوموړی سید قاسم ورور او د بهرنیو چارو په وزارت کې د محمود طرزی د لاس لاندي مامورینو څخه و چې په اماني عصر کې په مسکو کې د افغاني سفارت د سکرتر په توګه دنده درلوده، او د اماني دولت د سقوط څخه وروسته هغه د بهرنیو چارو په وزارت کې سیاسي لوی مدیر و تر څو چې د ۱۳۱۵ ش کال د قوس په ۱۹ د جمعې په ورځ یعني د ۱۹۳۶ م کال د دسمبر په ۱۵ ددندی د اجرا کولو په وخت کې د امو په سیند کې غرق شو.

۱۸ ـ بشیر احمد خان:

دا دابوی کورنۍ څخه د بهرنیو چارو په وزارت کې د محمود طرزی د همکارو شاګردانو څخه و چې په کراچی کې یې د افغاني قونسل په توګه دنده درلوده ۱۳۰۰ ش هغه ددوهم مشروطیت د تکړه او فعاله ځوانانو څخه و.



۱۹ ـ میر زا محمد مهدی چنداولي:

هغه د میرزاعلی جان ځوی او د روڼ اندو ځوانانو څخه و چې په دري او عربي ژبو سربیره ترکي ژبه یې هم زده کړی وه، او د امیر حبیب الله خان په عصر کې یې دسجنش په دفتر کې کار کاوه. له هغې وروسته د غنډ مشر په درجه، د حربي وزارت د لوازم مدیر او د اماني دوري ددربار وزارت غړی و. او د افغاني ټولنو سره یې اړیکي درلودي.

کله چې اماني حکومت سقوط وکړ، هغه د سقاو د ځوی او د نادرشاه دسلطې د مخالفینو په ډله کې ودریده، څه وخت چې محمد عظیم د برتانیا په سفارت کې په کابل کې د قتل مرتکب شو، هغه د څلورو نورو کسانو سره یو ځای د ۱۳۱۲ ش کال د سنبلې په ۲۲ په داروځړول شو.[79]

۲۰ ـ فرقه مشر سید حسن ( شیون):

هغه د حسین پاچا ځوي نزدي په ۱۲۷۵ ش کال د لغمان په چارباغ د کنړ د ساداتو په کورنۍ کې زیږیدلی دی. او دکابل د حربي په ښونځی کې یې زده کړې وکړې کله چې د هغه ځای څخه فارغ التحصیل شو د حضوری راګ د پروانی په قطعه کې و ټاکل شو او په عسکری رتبو کې د فرقه مشری( جنرالی) رتبه ورسیده، او د اماني دوری د نوم او نښان درلودنکو صاحب منصبانو څخه و چې د هیواد روڼ اندو ډلو سره ملګری او اشناو. او همیشه په سیاسي مبارزه کې مخکښ او د پښتو ژبي روڼ اندی شاعر ګڼل کیده، او د هیواد په سیاست کې ځانګړی عقیدې درلودي چې له هغې څخه د نظامی حاکمیت د طرفداری بوي راتله مثلا ځنیې وخت به یې ویل:

[79] غبار له وینا څخه یادداشت.

Library

"په افغانستان کې د مصطفی کمال د رژیم پشان یونظامي رژیم باید منځ ته راشي، تر څو خلک د قوی په استعمال سره د نوی مدنیت خوا ته رهنمای کړي لاکن دا دیکتاتوری باید د ځانګړو غرضونو او د کورنۍ او مادی ګټو لپاره نه وی او هم دي د روڼ اندی طبقی پر ضد ونه کارول شي. بلکې ددغي ډلي د کار او فعالیت لپاره دي مرستندوی وي. د افغانستان ټولو پخوانیو پاچا هانو د شخصي او خانداني موخو لپاره پر خلکو مطلق العنانه حکمراني کړي او دیکتاتورو. لاکن وي نکړای شول چې هېواد او خلکو ته خدمت وکړي، دیکتاتور که چېرې مخلصانه خدمت کوونکي وي او هر څه چې غواړی د خلکو لپاره یې غواړی پدي صورت کې کولي شي،

چې یوه وروسته پاتي ټولنه مخ په وړاندی بوزی، او په پایله کې یې خلک ددیموکراسي او په خپله اراده والي لوری ته رهنمای کړي.

او تاریکو ذهنونو ته روښنایي ور کړي، ولي دیوه بت د ماتولو په ځای بل بت د پرستش لپاره جوړ نکړی...."[80]

سید حسین د ۱۳۰۸ش کال د اړو دوړ په وخت کې په جلال اباد کې فعالیت درلوده او د کور غم د جریدي په خپرولو او ډېر ابتدایي جمهوریت په بنسټ اېښودلو کې یې د سید حیدر پاچا سره ونډه واخیسته او په ظاهر شاهي دوره کې د حربي وزارت د مرکز فرقه

---

80 ددي لپاره چې ما ددي کرښو لیکونکي د خدای بخښلي حسن سره اشنایي او خبری اتري درلودي څو ځلي مې دهغه سره پدي برخوکې خبری اتري کړي دي اومطلب مې دهغي وینا څخه چې دازاد افغانستان په جریده کې په ۱۳۳۳ ش کال د اسد په میاشت کې په پېښور کې چاپیده لیکلي دي (۶۷) ګڼه (۱۷) مخ.



مشر و لاکن په ۱۳۱۹ش کال کې د سیاسي مخالفو فعالیتونو په بهانه بندي شو او په زندان کې ووژل شو.

چې پلار یې ددربار د سپین ږیرو او د تهران په دربار کې د افغانستان لومړني سفیر وو، او دا په خپله د میرسید قاسم، داوي او دلومړي او دوهم مشروطیت دنورو غړو د ملګرو څخه شمیرل کیده، ددې لپاره چې پلار یې دسیاسي فراریانو د ډلې څخه وو، هغه د پلار په فراري حالت کې په ۱۲۶۶ ش کال په تهران کې نړۍ ته راغی او هلته یې زده کړې وکړې او یو باسواده او با فکره سړی تری جوړ شو کله چې هېواد ته راغی د مشروطیت غوښتونکو ځوانانو د ډلې مشر و.

په ۱۹۲۰ م کال کې د خپل پلارسره بیا تهران ته ولاړ او په ۱۹۲۴ م کال کې د بهرنیو چارو د وزارت د تړونونو او قونسلګر یو د ځانګي سرلیکونکي و. کله چې ددغه ځای څخه لری کړای شوپه ۱۹۲۶ م کال کې یې د کابل او پېښور ترمنځ د حمل ونقل د شرکت په جوړولو اخته شو اوپه ۱۹۲۷ م کال کې په دهلي کې افغاني جنرال قونسل اوله هغي وروسته په ۱۹۲۹ م کال کې په کراچی کې افغاني قونسل شو، چې د اماني دوري له پای ته رسیدو وروسته په ۱۹۳۰ م کال کې په روم کې افغاني سفیر وټاکل شو او په دا وروسته کلونو کې د سفارت او وزارت په لوړو رتبو کې پاتي شو، او دده دغه حالت هېواد غوښتونکي پرده باندې اشتباهي کړل او پرده یې بدنظر درلوده:

په ۱۹۳۳م کال کې د جینوا د خلع سلاح په کنفرانس کې افغاني استازي.

د ۱۹۳۳م کال څخه تر ۱۹۳۷م کال پورې په مسکو کې افغاني لوی سفیر.

Library

په ۱۹۳۸م کال کې د محمدهاشم خان په کابینه کې د فوایدعامې وزیر.
په ۱۹۴۳م کال کې د امریکا په واشنګټن کې افغاني لوی سفیر.
په ۱۹۴۶م کال کې په ملګرو ملتو کې د افغانستان استازي.
په ۱۹۵۰م کال کې د پوهنې وزیر.
په ۱۹۵۴م کال په دهلي کې افغاني لوی سفیر.
په ۱۹۶۰م کال کې د مزاج په عدالت اخته او په کابل کې وفات شو.

دوه ځانګړې ډلې

افغان ځوانان:

کله چې د هیواد روڼ اندو عیاش او مستبد امیر له منځ څخه یوړ او پر ځای یې ترقي غوښتونکی روڼ اندي ځوان لکه امان الله خان په شاهي تخت کښیناوه او په هیواد کې یې یوه ازاده سیاسي فضا رامنځ ته کړه او د مشروطه غوښتونکو روڼ اندو سیاسي ډلو چې پخوا یې پټ فعالیت کاوه په ښکاره ډول رامنځ ته شول او په ازاده توګه یې خپل سیاسي فعالیتونه پیل کړل او یو له دغو ډلو څخه ځانته " افغان ځوانان" ویل چې کین اړخوته ورته تندرو مرام یې درلوده چې د امیر حبیب الله په وروستیو کلونو کې د مشروطیت ځینو غړو هم په هغې کې ګډون درلوده، لکه عبدالرحمن لودین، تاج محمد بلوچ، محمدانور بسمل او باروت جوړونکی فیض محمد کابلي (چې په ۱۳۰۸ش کال کې اعدام شوی) غلام محي الدین ارتي (چې یادونه یې تېره شوه) میرزاعبدالرحمن، میرزا نورمحمدخان او په بمبي کې افغاني جنرال قونسل غلام جیلاني (د ۱۳۱۲ش کال د سنبلې په ۲۴ اعدام شوی) د حربي د ښوونځي لیکونکی میرزامحمداسماعیل، عبدالطیف خان او د تلګراف



متخصص محمد سعیدخان او فقیراحمدخان چې لومړی په مسکو کې په افغاني سفارت کې لومړی نایب او وروسته د ځنګلونو رئیس شو (د ۱۳۱۲ش کال د سنبلې په ۲۴ اعدام شو) او غلام رضاخان (۱۳ کلن سیاسي بندي) فیض محمدخان ناصري او عبدالحسین عزیز (چې بیا وروسته سفارت او وزارت ته ورسید) د دې لاندې کسانو نومونه په دې ډله کې یوازې خدای بخښلي غبار یاد کړیدي:

۱ـ د کابل ساعت جوړونکی عبدالمجید.
۲ـ محمدرسول اجیدن محمدزی (نظامي منعبدار).
۳ـ نظامي کمیدان عبدالحمید.
۴ـ محمداسحق قزلباش.
۵ـ د حربي د ښوونځي محصل شمس الدین.
۶ـ شیرمحمد افغان بیګ.

د غلام محي الدین افغان ډله:

دا ډله چې ځینو غړو او مخکښانو یې په لومړي مشروطیت کې هم لاس درلوده، بنسټ د افغان ځوانانو ډلې ته معتدل سره وه، چې همدغ ټول افغانان د لومړي مشروطیت په ۴ عدد کې راټولېدل او د هغوی فعال او تکړه غړی همغه میرقاسم خان و، چې د لومړي مشروطیت د رجالو په لومړي عدد کې یادونه تېره شوه.

د دې د قدر وړ ډلې عکسونه په لاس کې لرو چې د خدای بخښلي ماما محمدابراهیم خان (د دې ډلې یو تکړه غړی) له کورنۍ څخه تر لاسه شویدی او لکه څنګه چې وایې دا عکس مو په ۱۳۳۴ق کال کې هغه وخت واخیست چې د چلندر د مغاري د لېدلو لپاره تللو.

په دې عکس کې لاندې کسان لېدل کېږي:

له ښي لورې کېڼ لوري ته ناست کسان:

Library

١ ـ په ساعت ساز مشهور ماما محمدابراهیم خان د کابل د چنداولو اوسېدونکی چې د امیر حبیب الله د عصر په وروستیو او د اماني امارت په کلونو کې تر نادرې دورې پورې یې د خیریه ټولنو په تشکیل کې لکه د ملي مرستي مجلس، دارالایتام او دارالمساکین او په ملي کتابتون کې پوره لاس درلوده، او د ملي خبر یوازنی سړی او بې تعصبه افغان و، چې د خپلو هېوادوالو سره په هره ژبه، مذهب او مشرب ملګری و او د خلکو خدمت او جوړ ته یې ځان وقف کړی و.

له ښې لورې کین لورې ته:

١ ـ غلام جیلاني خان اعظمي چې یو وخت د کابل د ادبي ټولنې د ریاست مرستیال و.

٢ ـ په کبریت متخلص عبدالرحمن خان لودین.

٣ ـ په (لالا) مشهور محمد سعیدخان حبیبي چې په شوروي اتحاد کې د افغاني فارغ التحصیلانو متخصصنو د لومړي ګروپ څخه و.

هر څه چې یې درلودل هغه یې په فقیرو، خوارو او یتیمانو باندې وېشل.

د ځوان محمدابراهیم نیک او راښکونکي شخصیت د هېواد څخه د تېښتې په وخت کې د امیر شیرعلي خان د کابیني سپه سالار د حسین علي خان ټولی مشر (چې د ده ماما و) په خدمت کې په لاهور او راولپنډی کې د خپل ګران هېواد او هېوادوالو سره د مینې په لړلو روزل شوی و، څه وخت چې د امیر حبیب الله خان په اجازه په ١٩٠٧م کال کې بېرته کابل ته راستون شو، د مشروطه غوښتونکو سره ملګرې شو، د ارګ په بازار کې یې د ساعت جوړولو هټی د



وېښو ځوانانو د راټولېدو د یوه کلوپ په څیر وه. څه وخت چې اماني دورې د پیل سره د سیاسي زندان څخه راووت د مرستي او خیریه کارونو ته یې دوام ورکړ لکه:

په ١٣٠٣ش کال کې د کابل د بلدیې د لومړۍ ناحیې مامور.

په ١٣٠٦ش کال کې د کابل د ښار د جنوبي ناحیې مامور.

په ١٣٠٨ش کال کې د ملي امداد د خیریه ټولنې بنسټ اېښودونکی.

په ١٣٠٩ش کال کې د کابل په ښار کې د یتیم خانې جوړول.

په ١٣٢٠ش کال کې د دارالمساکینو او دارالایتام جوړول.

په ١٣٢٥ش کال کې د مرستون رئیس.

د ده مړینه په کابل کې د ١٣٣٢ش کال د قوس په لومړۍ نېټه د ٧٢ کالو په عمر وه د ده قبر د شیر دروازې د غره په لمنه کې دی او په هغې کې داسې لیکلي دي:

ګذشت ان حاجي پاکیزه طینت
که او بودی پدر هر بینوا را
دعای بینوایان بود رایم
نعیبش خبر کن پروردګارا
زشمس ګذشت بهر سال فوتش
(نعیبش خبر کن) تاریخ پیدا

چې د (نعیبش خبر کن) د کلماتو څخه د جمل په حساب د ده د مړینې نېټه ١٣٣٢ش کال راوزي. (علیه الرحمه).

٢ ـ د کابل د شاوخوا افغانانو څخه حاجي ګل احمدخان.

Library

۳_ فتح محمدخان جبارخیل چې په اماني دوره کې د حبیبي د ښوونځي مدیر او د امیر شیرعلي خان د کابیني د بهرنیو چارو د وزیر د ارسلاخان غلجي د مشهوري کورنۍ څخه و د ده پلار د امیر شیرعلي خان د امارت د سقوط څخه راوروسته هندته فرار شو، او زامنو یې هلته زده کړې وې او روڼ اندي افغانان ترې جوړشوي و. چې د امیر عبدالرحمن د مړینې وروسته هېواد ته راغلل، او د پوهنې په پراختیا، روڼ اندي او تجدد کې یې ونډه واخیسته، د هغه مهتر ورور امین الله جبارخیل په اماني دوره کې د عدلیې د وزارت معین و او دواړه ورونو د ۱۳۰۹ش کال وروسته مړه شویدي.

۴_ غلام محي الدین افغان جمریاني کندهاری چې یادونه یې د لومړي مشروطیت د رجالو په څلورمه ګڼه کې تېره شوه.

۵_ میر قاسم خان: چې یادونه یې د لومړۍ مشروطیت د رجالو په لومړۍ ګڼه کې تیره شوه.

ولاړ کسان د ښي لوري څخه کیڼ لوري ته:

۱_ میرهاشم خان:

هغه د میر قاسم خان ورور او د حبیبي د ښوونځي د اعداد له فارغانو څخه دی چې په پښتو، دري او انګریزی کې مطالعه او لیکنه درلوده او د دې ډلې ځوان غړی و چې د زده کړې د بشپړیدو وروسته یې په دارالتالیف کې کار کاوه، او د افغانستان د تاریخ خلاصه په یوه کوچنې ټوک کې د اسلام د پیل څخه د افغانانو او انګریزانو د دوهمې جګړې تر پای پورې د لومړنۍ دورې د پنځم ټولګي د تدریس لپاره د ده د تالیفاتو څخه دی ( د کابل چاپ ۱۳۰۰ش کال) هغه نزدی په ۱۳۰۲ش کال کې په پاریس کې د



افغاني محصلینو سر پرست وټاکل شو، او تر ۱۳۰۷ش کال پورې هلته و. د اړو دوړ په وخت د همدغه کال په ژمی کې کندهار ته راغلی او په ۱۳۰۸ش کال په تاشکند کې افغاني جنرال قونسل و. او د ۱۳۱۰ش کال د عقرب په ۲۴ د یکشنبې په ورځ د عشق اباد په شاوخوا کې د نامعلومه قاتل پواسطه ووژل شو.

۲_ حاجي شیر احمدخان د کابل د چاردهي له خلکو.

۳_ عبدالهادي پریشان داوی چې د هغې یادونه د دوهم مشروطیت د رجالو په لومړۍ ګڼه کې تېره شوه.

۴_ عبدالجبارخان جبارخیل چې د نومړي فتح محمدخان کوچني ورور دی ده لومړنۍ زده کړه په هند کې کړې دی او بیا وروسته خپل هېواد ته راستون شویدی او د کابل په ښوونځیو کې د ښوونکی دنده درلوده او د دوهمي مشروطیت د ټولنې سره ملګری و، او په ۱۳۱۲ش کال کې د پوهنې وزارت لومړی معین وټاکل شو، او تر ۱۳۲۴ش کال پورې په دغه دنده کې پاتې شو او له هغې وروسته د اعیانو د مجلس غړی شو تر څو چې په ۱۳۳۰ش کال په کابل کې وفات شو.

ولاړ کسان:

۱ _ د میر قاسم خان لغمان ورور میر هاشم خان.

۲ _ د کابل د چاردهی څخه حاجی شیر احمد خان.

۳ _ عبدالهادی خان ( داوی) چې په هغه وخت کې یې (پریشان) تخلص درلوده.

۴ _ دفتح محمد خان جبارخیل( ارسلا) ورور عبدالجبار خان جبارخیل.

ناست کسان: د ښی لوری کین لوری ته:

Library

۱ ـ ماما محمد ابراهیم خان چنداولی ( دډاکتر محمد اسماعیل پلار).
۲ ـ حاجی ګل احمدخان افغان کابلي.
۳ ـ فتح محمد خان جبارخیل ( ارسلا).
۴ ـ په ( افغان) متخلص غلام محی الدین خان جمریانی قندهاري.
۵ ـ میر قاسم خان لغماني.

## (۶)

## انتقادي (دنیوکې) کتنه

### د ۱۳۰۱ ش کال اساسی قانون

ددوهم فصل په څلورم بحث کې یعنې چیرته چې ددوهم مشروطیت د هلوځلو د پایلو په باب موخبری وکړی، په لسمه ماده کې مو په هېواد کې د قوانینو ترتیب او خپرول د اماني دورې د ښیګڼو او د مهمو کارو:و څخه شمېرل.چې ددې هېواد په څو زره کلن تاریخ کې د انساني حقوقو د عالی مبادیو پر بنسټ د لومړی ځل لپاره یو اساسي قانون د" نظامنامه اساسي دولت علیه افغانستان" په نامه خپره اود تطبیق لاندی ونیوله.

د ۱۳۰۱ ش کال د حوت په ۷ نیټه وه چې د افغانستان ملی او عنعنوی لومړني لویه جرګه په دې دوره کې په جلال اباد کې په خپله د شاه په ریاست د افغانستان د بېلابېلو قومونو او قبایلو د ۸۷۲ تنو استازو په ګډون له توپیر پرته د ملی یووالی او د نظر د پراختیا



پر بنسټ جوړه شوه او د افغانستان لومړني اساسي قانون په ۷۳ مادو کې د لاندینو عنوانونو لاندې تصویب شو:
۱ ـ د افغانستان ددولت اساسي نظامنامه، په اوو مادو کې،
۲ ـ د افغانستان د اتباعو عمومي حقوق، په اوو لسو مادو کې،
۳ ـ وزیران، په یوولسو مادو کې
۴ ـ مامورین، په دریو مادو کې.
۵ ـ د مشوری مجلسونه او ددولت شورا ،په یوولسو مادو کې،
۶ ـ محکمی،په شپږو مادو کې.
۷ ـ عالی دیوان، په دوه مادو کې.
۸ ـ د مالیي چاری، په دوه مادو کې.
۹ ـ متفرقه مواد ،په شپږو مادو کې.

دغه اساسي قانون اصلا د دری ګونو قواو: مقننه، اجرائیه او قضائیه قوی د جلال اباد والي په نظریه جوړ شوي .لاکن ددولت د محدودی شورا په درلودلو او د ټولو اختیاراتو تمرکز دیوه غیر مسوول پادشاه ( شپږمه ماده) په ذات یا وجود کې، د مشروطیت اصل په هغې کې کمزوري دي.

د عمومي حقوقو په فصل کې، د برابر اصول او شخص ازادي، د اسارت له منځه وړل، د مطبوعاتو،کسب، شغل او تدریس ازادي او د شخص ملکیت حق او د اوسیدني خوندیتوب د بیګار شکنجې او د غیر قانوني جزاګانو مصادره او منع کول په کې ځای لري.

په ( ۴۲ ) ماده کې د مشورو مجلسونو او ددولت شورا ته حق ورکړ شوي چې حکومتي اداری څخه شکایت ولري په خپله حکومت ته عرض کولي شي!!"

Library

په ۲۸ ماده کې راغلی دي چې صدرعظم او نور وزيران د شاه له خوا غوره اوټاکل کېږي، په ۳۱ ماده کې وزيران يوازی شاه ته مسووليت لری دغه مواد پادشاه چې غير مسوول هم دي ديوه مطلق العنان ديکتاتور په توګه رامنځته کوي ځکه چې هغه او دهغه وزيران دخلکو او يا خلکو د استازو د مجلس په وړاندی کوم مسووليت نلري، او نه د هغي د مقام د غوره کولو او ټاکلو په برخه کې پرته له شخص شاه څخه کومه بله رايه د خالت کولی شي.

په اساسي قانون کې د قوانينو طرحه، ترتيب او تصويب هم معلوم ندي او يوازی په ۴۶ ماده کې وايي چې ددولت نظامات ددولت د شورا څخه تدقيق شوي دي او د وزيرانو مجلس ته وړاندی کېږي او د مجلس وزرا د تصويب او د شاه د منظوری وروسته په عملی توګه اجراته وړاندی کېږي.

پدي صورت کې ګنې د قانون طرحه کونکي، تصويب کونکي او دهغي لاس ليک کونکي د اجرا لپاره يوازي يو شاهي مقام دي. او عملا هم همداسي وه چې دي حالت مشروطه نظام له منځه وړه، ځکه چې په خپله وزير قانون طرحه او ترتيبوی، او ددولت شورا ( چې همدا وزيران د همدی شورانيمايې جوړوی) يوازي هغه تدقيقوی اوبيا وروسته په خپله د وزيرانو په مجلس کې تصويبږي، او د وروستي اجرا لپاره بيا پادشاهی لاسليک پری کېږي چې " خود کوزه ګرو خود ګل کوزه» دي چې په داسي حالت کې د تقنينيه او اجرائيه قواو ددندو ګډوالي رامنځ ته کېږي.

چې دا په خپله د دري ګونو قواو د جلاوالي د روحيی او د مشروطه حکومت نقض کول دي.



د محکمو ړونده فصل ډير لنډ، ګنګ او مجمل دي، په ۵۳ ماده کې وايې چې "ټولي محکمي د هر ډول مداخلي څخه ازادي دي" لاکن روښانه شوي نده چې ددې محکمو قاضي له کوم ځای څخه راځي؟ څوک دی؟ او په اجرائيه حاکمه دستګاه کې څه موقف لري؟ پدی ځای کې داسي انتظار کيده چې اساسي قانون به ددولت په توګه ځای په ځای کړي، ځکه مشروطه قضا يوه مستقله دستګاه شميری.

په دوهمه ماده کې يوازي د صدراعظم څخه نوم اخستل کېږي چې که چېري شاهانه ذات تشريف ونلری صدراعظم د رياست په دنده کار کوی، او بيا په ۲۸ ماده کې وايي: صدراعظم او وزيران پادشاهي ته د نزدي کسانو څخه غوره اوټاکل کېږي، په داسي حال کې چې د ټولو وزيرانو مسووليت د غير مسوول پادشاه په وړاندی په (۳۱) ماده کې واضح شوي دي، نو پدي حالت کې په هېواد کې مسوول شخصيت وجود نلری، ځکه په خپله شاه چې د صدراعظم او وزيرانو ټاکونکي دي او د اجرائيه قوی ټول واک هم د هغه سره دي غير مسوول دي.

پداسي حال کې چې عملا په خپله شاه امان الله د خپلي پاچاهي په لومړيو کلونو کې د قوانينو ډير پابندو، او پدي اساسي قانون کې عامه حقوق د ليکونو او مراسلاتو (۷۳ ماده) تر خوندي توب پوري ځای کړای شوي او د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره دايو نيک او ګټور اقدام و، لاکن ددې لپاره چې ددې قانون په اصل کې مسوول نظام وجود نه درلوده، نو يوازی د پادشاه د خير او خلوص نيت ونشو کولای چې د هغه د رژيم د فساد مخنيوي وکړي، او له څوکاله وروسته مونږ ولېدل،چې نا پوهه او فاسد العمله کسان

ددربار په شاو خوا راغونډ شول، او هېواد يې د ۱۳۰۷ كال د ژمي داړو دوړ سره مخامخ كړ. او وليدل شول چې هغه هېواد روسته د شاه د دربار د فاسدو عمالو دناروا اعمالو او د هغه د غرض ناكو همكارانو قرباني شو،او د هغه په شاوخوا كې د هغه د نبوغ خبري تردي اندازی په چاپلوسۍ زياتي شوي، چې هغه روحا د تلقين لاندي راغی ددې لپاره چې انسان جايز الخطا دی هغه غرور چې دده د هېواد غوښتني او خلوص نيت سره برابر نه وو پدي كې راټول شو.

د مثال په توګه خدای بخښلی داوی ويل: كله چې په ۱۳۰۳ ش كال د ګوډ ملا ماتوونكو لګښتونو څخه وروسته ارام كړي شو، اوپه خپله شاه د ملا عبداله او ملاعبدالرشيد په ګډون د اله ګوله كوونكو يا شراچوونكو د ۵۴ تنو مشرانو د اعدام حكم وركړ( ۱۳۰۴ ش كال د جوزا ۴ ) داوی چې په هغه وخت كې د سوداګری وزير او ددربار د نزدی كسانو څخه و پدی برخه كې داسي عرض وكړ: ښه به وي چې دا په اعدام محكوم كسان محاكمه شي او د قاضي په حكم ووژل شي، پادشاه په ډير قهر اوغرور سره وويل: ولي ته نه پوهيږي چې زه د امير عبدالرحمن لمسی يم!!

اروپا د سفر څخه وروسته كله چې دا هېواد غوښتونكي پادشاه كابل ته راغي او په ځينو ګټورو كارونو ( ولي دوخت څخه مخكې) يې لاس پوري كړ، چې د هغي انعكاس په ځوانه طبقه كې چې د هغه مخلص همكاران وو ښه نه و. او موږ وليدل چې دپغمان په لويه جرګه كې د شير ارني ځوي د وزيرانو د محكوميت څخه خبری وكړی او دستوري د ماڼي په مجلس كې عبدالرحمن او عبدالهادي چې دهغه د مشروطيت د لاري اودحكم چلولو د وخت ملګری وو د ګټور او جايز اقدام ( لاكن په عجله) د مخالفت لاس جګ كړ.



دا يوازي نه وو: هغه ځوان پادشاه چې د بازار په منځ كې ځانته ګرځيده، او د خلكو سره يوځای كيده او دهر ښار ښوونځي يې په خپله ليدل.

اود خلكو عريضي يې اوريدلي، اوپوښتنه به يې كوله، د كار په پيل كې د خلكوله خوا په ډيره مينه او علاقی سره ومنل شو او د خلكو همكاري يې راجلب كړه،او تردي پوري چې خلكو د پوهني لپاره اعاني ور كړي، او د ښوونځيو لګښتونه يې په خپلو ګمركي مالياتو ور زيات كړل،لاكن دې نيكي لاري ددوارو خو ا وو تر منځ ډير دوام ونكړ، او تر څو چې مو ستركې خلاصولي د حاكم او محكوم ترمنځ د بدبيني څپي را پيدا شوي او مسله د ۱۳۰۳ ش كال او ۱۳۰۷ ش كال په اړو دوړو سره پای ته ورسيدله.

چې هېواد يې ۵۰ كاله شاته واچوه، اوپه خپله هغه شاه چې هېواد ته اخلاص يې د تدبير اوسنجش څخه زيات وو او د هغه هېواد څخه چې ده ورسره مينه كوله فراری شو.

همدلته دي چې د پيښو ځنيې كتونكي او كورني او بهرني ليكوالان ددې اړو دوړ علت د پرديو په لمسونه "بريتانوي هند" او د همريز" په كابل كې دبريتانيا سفير"

په دسيسو جوړولو او نورو انګريزی فتنو جوړولو كې ګوري. او ځنيې بيا خپله د افغانستان د خلكو زړه پرستي، محافظه كاری اودترقی ضدوالی ددې اړو دوړ عامل بولي، او ځنيې نور بيا پدي پروسه كې ډير تيزوالي او داماني دوري مخ كې له وخته ريفورمونه يا اصلاحات پدي برخه كې يادوی چې دغه ټول عوامل كولي شو چې د خو اړو دوړو او د اماني رژيم د ناكامي علت وبلل شي. لاكن بايد ووايو: چې هيڅ يو ريفورم، اصلاح او تر قي غوښتونكي او

Library

خیر غوښتونکي اقدام مخ کې تللي نشي، مګر دا چې د ملت او د خلکو د بېلابېلو قشرونو د حمایت څخه برخمن وي، پداسي حال کې چې اماني رژیم د خپلی لومړني محبوبیت او بریالیتوبونو سره چې د پرمختګ په لاره کې په برخه شوي وو، په بطن کې یې فساد پیدا کېده او ددغه رژیم کارمندانو (یوازي محدود اشخاصو) په خپله په خپل لاس ددغه رژیم د ناکامي اوویجاړیدو وسایل برابر کړي وو او ـ سعدی په قول:

بوریا باف ګر چه بافنده است
نبرندش بکارګاه حریر

ددې دوري ډېر رجال چې ددوهم مشروطیت څخه وروسته منځ ته راغلي وو، هغه بوریا اویدونکي وو چې د وریښمو کارګاه ته راغلی وو. او ددې عمل بنسټ هم د شخصي، خانداني او قبېلوي پژندګلو و په رشتو ولاړ وو. چې د امیر حبیب الله خان د دوری او د محمد زایي والي د اعتبار سره یې څه توپیر نه درلوده.

اګرچی محمد ازایي بت مات شوي وو، لاکن پرځای پدي وخت کې بارکزایي بت ولاړ وو. مثلا په هغه وخت کې کابل د والي محمود یاور او شاغاسی علی احمد پلاس کې و او قندهار د وزیر عبدالعزیر، نایب الحکومت محمد سرور او نایب الحکومه عبدالکریم او فرقه مشر نیک محمد پلاس کې وو، او مزار او هرات د نایب الحکومه محمد ابراهیم او فرقه مشر عبدالرحمن پلاس کې و چې دغه ټول بارکزایان و او د شاه د مور د سراج الخواتین په کورني پوري اړه درلوده.

په جنوبي سیمه (پکتیا) کې عبدالحکیم بارکزایي وو، په غزني او روزګان کې دوست محمد ناظم بارکزایي و او په ګرمشک کې



محمد امین بارکزایي حکم چلاوه، او قیس علی هذا، د بارکزایانو بازار ښه تود و. او زیاتره یې پاک لمن او د زړه سوی، خلک هم نه و، چې د شاه او دهغې د خلکو په حال کې زړه و سوزوي، او یا د وضعي د فساد څخه مخنیوي وکړي.

نوېدي خاطر یې دغه ګران ترقي غوښتونکي، شاه د خلکوله غېړي څخه لری کړ او د هغې څخه د خلکو عمومي حمایت مخ په کموالي شو، او پدي ځای کې وو چې کورنۍ او بهرني نور اغزمن عوامل هم په ورانکاری او ناسمون والی کې فعالتره شول. کله چې په اساسي قانون کې د کار بنسټ پر مشروطه حکومت او د وزیرانو مسوولیت او د هغوي ځواب ورکول پر خلکو بنا نه وه، نو په همدې سبب هر وزیر او هر کارمند کولي شول هر څه چې یې زړه وغواړی هغه وکړي.

دلته دي چې موږ د خبرو رشته ددغو پیښنو یوتن نزدي لیدونکي او ننداره کوونکي خداي بخښلي غبارته ورکوو چې وایي:" داماني دولت له جوړیدو وروسته دهیواد تقریبا بېلابېل ټول طبقات ددولت د ملاتړ لپاره ودریدل، او دانګریز ددولت سره په جګړه کې زیاتره فیودال، روحانیون او بزګران ټول ددولت په لیکه کې ودریدل. لاکن د جګړې د ختمېدو څخه راوروسته او د ریفورم د پیل ځخه ورو، ورو د خلکو لیکي د طبقاتي ګټو له نظره یو له بله سره جلا شولي...

لاکن دغه ټولي قضي د دولت دریفورمونو د تطبیق خنډ کېدای نه شوی، که چېرې د دولت جبهې په خپل منځ کې درزونه نه وي کړی. او تناقض یې پېداکړی نه وی. ځکه ملت تر دغه وخته د شاه او دولت په ملاتړی کې ولاړ و. اود همدغه خلکو ملاتړ و. چې د دولت په دستګاه کې د درزونو سره، سره یې د هغې ستنې ټینګې او

Library

استواره ساتلي. او کنه نو دربار او کابينې ډېر پخوا ستر درز موندلی و. دا په دې معنې چې کابينه د بېلا بېلو عقېدو د دوه ډلو عناصرو څخه جوړه شوې وه چې يوه ډله يې د هېواد په کورنۍ سياست کې په چټک ډول د اخلاصي پروګرامونو او په بهرنۍ سياست کې د مشبتي بې طرفۍ او د استقلال د ازادۍ دشبيت طرفداره وه، او بله ډله يې په کورنۍ سياست کې د تدريجي اصلاحاتو او د ګاونډي قوي دولتونو څخه د يوه سره د يو اړخېز سازش او معتدلي لارې طرفداره وه، نو دغو دواړو ډلو کوښښ کاوه چې يو د بل نظريې خنثي کړي، او دې خبرو شاه ته داسې تلقين ورکاوه چې د حکومت په منځ کې د دغو دوو مخالفو ډلو موجوديت د چارو د اصلاح سبب کېږي او په عين وخت کې د شاه د مقام د سلامت پاتي کېدو سبب هم دی. سربېره پردې په کابينه او دربار کې يوازې د شاه شخص و، چې په دې تاريخي پړاو کې د اصلاحي پروګرامونو د تطبيق د مشورې ورکولو لپاره يې فکري او عملي قوت نه درلوده او د هغوي جهان بينی د ډېرې عادي متولي څخه لوړه نه وه...

د اداري دغه فساد د ټولواک د کمزورۍ سره يوازې د افغانستان خلک د دولت د ملاتړ څخه لېرې کړل، او د بل پلوه کورنۍ ارتجاعي عناصرو د پټو دسيسو نقشې د اتعماري جاسوسۍ فعاليتونو او اقداماتو سره يو ځای شول، او افغانستان يو ځل بيا د يو تاريخي او ټولنېز بدلون په درشل کې چپه شو، او دا په خپله استعماري لاره وه چې د هر نوي غورځنګ په راپيداکېدو افغانستان بايد د امکان ترحده پورې شاته پاتې کړي..." [81]

[81] غبار مسير ۸۰۵



په دې ډول امان الله تجريد شو، پوهه او تکړه عناصر او د دوهم مشروطيت فکري مخکښان د ده له اړخ څخه جلا سفارتونو او نورو کارونو ته واستول شول. او ځای يې بادار پرستو او چاپلوسو خلکو ونېوه، چې نه يې کار کولي شو نه همکاري او نه لارښوونه، چې دا په خپله د تاريخ يوه بدمرغه مرحله وه چې د دوهم مشروطيت مخکښانو بايد د اساسي قانون په وضع کولو کې د هغې چاره سنجولی وی. او په خپله شاه هم د هغه پېشبينې کوله، لاکن د دې لپاره چې غير مسوول شاه په حقيقت کې د خلکو په وړاندې د خپلو اعمالو مسوول و او نا پوهه همکارانو يې هغه سخت بدنام کړی و. نو په دې خاطر له هغه خلوص او نيک نيت سره، سره د خلکو د غضب، نفرت او کرکې وړ وګرځېده، او دا په خپله د افغانستان په نزدې تاريخ کې د عبرت يو درس دی. چې زموږ راتلونکي بايد په خلاص نظر وګوري او پوهه شي چې دچاروا کې او هيواد نيو چارو کې يوازې نيک نيت او ښه فکر کول کافي نه دي، بايد چې ټولو ښو نيتونو ته د عمل جامه ورواغوستل شي. او خلک يوازې په خبرو اترو نه قانع کېږي او د انسان په عمل باندې قضاوت کوي.

د حيرانتيا ځای دی: هغه هېواد دوست او نيمه انقلابي شاه چې د دوهم مشروطيت د انډيوالانو په همکارۍ په تخت کېناست او هېواد ته د خدمت اراده يې درلوده، په هغه اساس قانون کې چې ده په خپله وضع او لاسليک کړی و، لومړی يې خپل ځان غير مسوول وګاڼه، وروسته له هغې څخه يې صدراعظم ونه ټاکه، او د هېواد ټولې اجراشوې چارې يې د خپلو ټاکل شوو وزيرانو پواسطه په لاس کې ونېولې، او که کوم چا به يې په وزير ګوت نيونه وکړه، ده به يې

Library

په خپله ننته او دفاع کوله، او غیر مسوول شاه به په خپله د نورو د اعمالو مسوول او جوابده کېده!

مثلا: د پغمان په لویه جرګه کې په ۱۳۰۳ش کال کې هغه وخت چې هغه د مامورینو د بدې وضعي او ناوړه عمل له لاسه د پکتیا په سیمه د اړو دوړ د اورلمبي بلې وي، مولوي عبدالواسع (د لومړۍ مشروطیت د رجالو څخه یو تن چې یادونه یې پخوا تېره شوه) د وخت د پوهني د وزیر (سردار فیض محمدزکریا) او د کورنیو چارو د وزیر د فعالیت او دقت د نشتوالی یادونه وکړه، مخکې له دینه چې وزیران د هغه په ځواب کې اعتراض او د خپل ځان په پاکوالی پیل وکړی، غیر مسوول شاه نوموړی اعتراض کوونکی ته چې په رسمي چارو کې د یوه وزیر په بې کفایتی خبرې کړی وی ځواب ورکړ، چې شخص داعیه یې د دې ډول ګوت نیوني علت وباله [82]، په داسې حال کې چې دغه عمومې شکایتونه د اداري فساد څخه راټوکېدلي و.

څرنګه چې په خپله شاه ته د ښه نظر درلودونکی، مطیع او فرمان برداره خلکو او د دربار ځینو پاک لمنو اشخاصو دغه راز خبرې او اعمال چې د مشروطیت د اصولو منافي او د وینا او عمل ترمنځ د فاصلي او تناقض درلودونکی و. د سر په سترګو لېدلی او ورځ په ورځ د هېواد اداري حالت د طبعي مجرا څخه د فساد، ناسموالی او ګډوډۍ خواته روان و چې په پایله کې یې د مالیه ورکونکو کروندګرو او کار کوونکو ډلو، کړاو او ازار زیاتوه، نو په دې خاطر د عوامو د طبقو نیک نظر او د همکاری روحیه د حاکمي طبقې سره په کرکي او انزجار سره تبدیلیدله، ترڅو چې د درباریانو د ناوړه

82 رویداد لویه جرګه پغمان ۱۳۰۳ش، ۱۳۴ مخ.



عمل په پایله کې هغه خیر غوښتونکی شاه هم د فساد په دغه چټل ځای کې ورښکته شو، او د ابد لپاره د خپلې هېوادنی هوا چې د هغې سره یې مینه درلودله د تنفس څخه بې برخې شو (علیه الرحمه).

په دې وخت کې د ښکیلاک ګوډاګیانو لاس هم د اماني رژیم پرضد په پټه کارکاوه او د شاه د تکیفر لپاره یې ملا ډوله رالمسولی و او د ملکې یا نیمه برښړ مونتاژ شوي (مصنوعي) په زرګونو عکسونه یې د ناپوه او ساده قبایلو په منځ کې ویشلي و او ترڅو چې مو سترګي خلاصولي د ټوپکو او ناریه وسلو غړونه د ننګرهار د شینوارو د قبایلو او د کابل د شمالي سیمو څخه تر غوږ راورسېدل، او زیار ایستونکو کروندګرو له کلیو څخه په شورش لاس پورې کړ، چې په خپله د دولت کارمندانو د هغې اساس جوړاوه او بهرنیو لاسونو هم د هغه اور د ښه بل ساتلو لپاره ډېر لرګي او د سون مواد ور برابرول.

په دې ځای کې بې مناسبته نده چې د هغو خبرو اترو څخه یادونه وشي کوم چې د دوهم مشروطیت د کېنې لاسو ګوت نیونکو ځینو ځوانانو تر منځ د هغه ملګرو سره چې د واکې په لاس کې نیولو څخه وروسته ترسره کېدي او دغه د دواکې په لاس کې درلودونکی ډله یې د اماني رژیم د نه پاینبت او خرابوالی مسووله ګڼله.

ښه مې په یاد دې چې د ۱۳۰۶ش کال په پسرلي کې د کندهار د ښار د لودینانو په کوڅه د عبدالرحمن لودین په کورنی یوه ورځ د ده او د تاج محمد بلوخ تر منځ د دوستی او ملګرتیا خبرې اترې ونښتې، چې دواړه د دوهم مشروطیت د غورځنګ ملګري او هم یې

Library

یو له بل سره خپلوي درلوده ( د لودين خور د بلوڅ د ځوی مېرمن وه) .

لودين خپل ملګری ته په ځانګړی نرمه لهجه ويل : " دا تاسو وي چې ځوان نيک غوښتونکی شاه مو چې د خپل پلار سره ډېر توپير لري بې لاري کړ او د هغه د خپل سر يو مخنيوی نه کوي! اخېر مونږ خو د مشروطيت لپاره او د مشروطيت په نوم قرباني ورکړي او په پايله کې مو يو مطلق ديکتاتور رامنځ ته کړ، تاسو اوس حکمران شوي! او هغه بل چې فراشباش و وزير او سفېر شو او د يوه کوچني ټولګي مشر د بهرنيو چارو وزير او د جرمني وزير شو! ايا زمونږ هلي ځلي او قربانياني د همدې چوکيو لپاره وي؟ اخير مشروطيت څېرې دي؟ يو تن ناخبره ځوان مو راوست او د هېواد د مادي او مصنوي ټولو چارو مطلقي واکي مو د هغه په لاس ورکړي! هغه اګر چې ښه نيت لري او خپل هېواد د تخلص او علاقمندی، لاکن بيا هم انسان او جايزالخطادي. مشروطيت دادې چې هغه مسوول صدراعظم خلکو ته وروپېژني، او د خلکو د استازو منتخبه شو را جوړه کړې او په خپله دی غير مسوول وي، ترڅو چې خلک مسوول صدراعظم او د ده کابينه د خپلو ټولو شکاياتو د جواب ورکوونکی په توګه وپېژني..."

لودين زياتوله: " زه د دې رژيم سره چې د غرضناکو او ناپوهو کسانو د يوې ډلې د ناجايزو اعمالو په سبب د نابودی سره مخامخ دی د هغو ژمنو په سبب چې په ګوند کې مې درلودې همکارې وکړه او دا مطلب مې د شاه او د هغه د درباريانو غوږوته ورساوه، څرنګه چې وايې نه اوريده، کابل مې هم ترک کړ او اوس د کندهار په يوه نوم ورکي کوڅه کې په خپل پلرنی کور کې ناست يم، لاکن تاسو چې نن



ورځ د پادشاه او د هغه د درباريانو سره اړيکې لرې ځما له خوا هغه ته ووايې چې:

گر اين مکتب است و اين ملا
کار طفلان را خراب می بينم

په ډېر نزدې وخت کې دا رژيم له پښو لوېږي او چپه کېږي او هغه وخت به " نه تو ماني، نه او، نی فخر رازی"

دا وينا د هغه پوهه ځوان او رښتني شهيد وه چې دوه کاله وروسته مو د ده همدغه وړاندوينه د ظاهريدو په ډګر کې ولېدله، هغه رژيم د خلکو په قبر کې لوېدلې او کړيدلې او چپه شو چې د ښکيلاک دسيسه کاره لاس هم د دغه تنفر او کړاو د احساس تر شا کار کاوه.

دا د افغانستان په تاريخ کې څو واره لېدل شويدي چې په خپله شاه يا د چارو واکدار يا شهزاده نيک او خير غوښتونکی سړی وي لاکن د درباريانو، ګمارل شوو کسانو او يا دا هلې حرم او کورنی د بد عمل په سبب ل منځه تللی دي، د مثال په توګه سدوزی شاه زمان او امير شيرعلي خان بد پادشاهان نه و، هغوی دواړو د هېواد د ازادی او لوړتيا سره مينه درلودله او د ښکيلاک سره يې مبارزه کوله لاکن د حکومت او د دربار کارکونکو او اعمالو هغوی په ډېرو بد مرغو او تورو سرنو شتونو اخته کړل.

غازي امان الله هم مخلص ا هېواد دوسته او روڼ اندي ځوان و چې د داسې چپه شوي سرنوشت سره ملګری شولو که څېرې د شهزاده توب او مشروطه غوښتنې د وخت ملګرو دا تجريد کړي نه وې او په وزارت سفارت عياش او واک کې محوه شوي نه وی او د خلکو سره ګډ شوی وی او د کليو، کوچيانو، د کاندارانو، لبنګرو او کروندګرو په ګډون يې د افغانستان د خلکو ملاتړ تر لاسه کړی وی.

Library

او د خپل حکومت تګ لاره یې د هغه څه سره برابره کړې وی چې دایې مدعي و( یعني مشروطیت ) طرح او عمل یې کړی وی نو ددغه شوم او ناوړه سرنوشت سره نه مخامخ کېده لودین چې کله په شکایت خوله خلاصوله او د وضعي د سر چپه کېدو څخه کړیده، د ځان سره یې ویل:

دیده در خون جگر زد غوطه
باد لعنت به چنین مشروطه!

دا د هغه څه بېلګه وه چې د اماني رژیم په نیمګړتیاوو او د دوهم مشروطیت د غورځنګ د لاس ته راوړنو د لمړنی اساسي قانون او د دغه ټولني د مفکرو غړو د وینا په استناد مې ولیکله، د دې کرښو لیکونکی اماني دوره د اول څخه تر پای پورې درک کړې او لېدلې ده او د دغې دورې د اشخاصو سره معاصر او د هغوی د احوالو او اقوالو ناظر وم نو د دې بحث په پای کې د یوه بې طرفه مشاهد په توګه باید ولیکم چې:

تر هغه وخته چې سیاسي قدرت یې تر لاسه کړی نه و د دوهم مشروطیت مهم غړي په لومړی لیکه او نور یې په ښکتنیو لیکو کې و.

د هغوي کوښښونه مخلونه او د درناوي وړ و او د هغوي قربانیاني مشکوري دي ځکه چې د هغوي په وسیله زوړ او وروست نظام یا رژیم له منځه ولاړ او په ځای یې د نوی افغانستان بنسټ اېښودنه وشوه او د هغوي د هلو ځلو په پایله کې و چې لکه څنګه چې مې مخکې وویل د نوی ژوند لس مبداوی تر لاسه شوي. او یا هغه پیل و چې د افغانستان په تاریخ کې د هیرو لوړندي، او د اماني دورې لس کاله د دې هېواد د تاریخ نیک او نیک مرغه وختونه شمېرل



کېږي، چې د هغه د بدو او ناوړو عواقبو مسوول بهرني او کورني مغرض عوامل دي.

ولي په خپله خدای بخښلي شاه د دې هېواد ازادی بخښونکی غازي امان الله خان ( علیه الرحمه) هم د افغانستان یو خیر غوښتونکی، نیک زړی او مخلص ځوان و، چې د خپل هیواد او خلکو سره یې مینه درلوده چې د نوموړو لسو مبداو په لاس ته راوړلو او بنسټ اېښودلو کې د هغه پاملرنه او هلې ځلې شاملې وې، نو په دې خاطر د افغانستان تاریخ به هغه په نیک نامه سره یادکړي . او نوی نسل باید د هغه د عمل په درناوې وپوهېږي او همیشه یې نوم په نیکي سره یاد کړی ځکه چې نیک اعمال یې پر سهوو زیاتېده، د دې کرښو د لیکونکی د لېدنو او کتنو څخه دي:

د ۱۳۰۸ش کال د پسرلي لښکر کشیو کې چې د کندهار څخه د غزني په لور و په خپله امان الله خان د کندهاری او هزاروو د لس زره کسیز لښکر مشری په غاړه درلوده د دې لپاره چې خلکو شاه ته اخلاص درلوده او کوښښ یې کاوه چې هغه بېرته د پادشاهي په تخت کښینوی، لاکن کله چې د مقر او غزني په منځ کې یو شمېر مشکوک عناصر د انګریز د پولتیکل د اسنادو سره یو ځای ونیول شول او ثابته شوه چې په دې اړو دوړ کې د کورنی یو شمېر روحاني ډوله کسانو لاس شته او غواړي چې د قبیلوي ( دراني او غلجي) اختلاف څخه کار واخلي او د فساد د دغه اور د تازه ساتلو لپاره یې شل تنه فرهي کسافان ( دراني) سپاره یې د غلجیو په سیمه کې ووژل او مړي یې دوه نیمه کړل او بیا یې د تلفون په کړو شوو ستنو کې و ځړول او په کاغذ کې یې په اخوندی خط ورسره داسې ولیکل:

" دا د شاه او درانیانو لپاره د غلجي قومونو میلمستیا ده !" .

Library

خدای بخښلی امان الله خان چې دغه ډېره بده منظره ولېدله کندهاریان یې په خپل شاوخوا راټول کړل او ورته وېې ویل: " اوس ثابته شوه چې پردی دشمنان غواړي چې زموږ د قبایلو ترمنځ فساد او جګړه واچوي، تر څو موږ په خپله یو بل سره ووژنو او د دغه ناجایزه عمل سبب به هم زه وم چې ځما د تخت و تاج د ببرته لاس ته راوړلو لپاره به وژني او ويني وبهېږي.

نو ای ځما ګرانو خلکو! تاسو په پوره ډاډ سره پوهه شي چې زه د کورنۍ او قبیلوي جګړي دغه زړه بګنونکی منظري قبلولی نشم او نه غواړم چې ځما د تاج او تخت د ببرته ګټلو لپاره تاسو په دغسې کار لاس پوري کړي!

نو باید ستاسو له منځه څخه ولاړ شم، ترڅو زه د دغه شان وژني او ويني بهوني موجب نه اوسم.

تاسو ځما ګران ملت ژوندی اوسې افغانستان به د تل لپاره پاتې وي،لاکن د دې ناوړي هنګامې دایمې مسوولیت او مخ توري به ځما په نوم ثبت شي. په داسې حال کې چې ما د پاچاهي په لومړۍ ورځ ژمنه کړې وه، چې د ازادۍ د ساتلو، او د هېواد د تمامیت او ستاسو د نیک مرغۍ او یووالۍ او د افغانستان د ټولو خلکو لپاره به کار کوم.

وګوری! د تاریخ په تېرو دورو کې زموږ د خلکو د بد مرغۍ علت داو چې شهزاده ګانو به د شاهي مقام د لاس ته راوړلو لپاره د یوه بل سره جګړي کولي، او ستاسو په منځ کې یې خلک یو د بل سره په جګړو، ذبمنیو او قبیلوي شخړو کې ښکیلول. ما غوښتل چې ځما شاهي دوره دغه راز نه وی او په ځای د دې چې خلک یو د بل



سره جګړو ته راوبولم باید د افغانستان د ټولو خلکو د یووالی، دوستي او وروری غږ کونکی اوسم.

کله چې اوس ګورم چې تاسي په کورنی قبیلوي جګړي سره اخته کېږي، اوس زه غواړم چې میدان د ځینو موافقو او مخالفو په ګډون د افغانستان خلکو ته ور کړم، تاسو یو د بل سره جوړ راشئ، زه د خپل تخت د ببرته لاس ته راوړلو لپاره د کورنۍ جګړي مسوولیت پرغاړه اخستلی نشم. ځما یو تربور پاړه چینار ته رسېدلی او بل روحانې ورور مې دلته ناست دې او د کورنۍ جګړي اوربلوی، لاکن زه د دې کار سړی نه یم؟ او تاسو ته ځما سپارښتنه داده چې:

یو له بله سره یو ځای شي. اتفاق وکړئ! او خپله ازادۍ وساتئ! او خپل هېواد بهرنیو دښمنانو ته مه ورپرېږدئ! زه ستاسو یو غړی یم که چېرې تاسو نیکمرغه یاست، دا به زه عینا نیکرغه او خوښ اوسم. لاکن که چېرې همداسې په وینو او خاورو کې لیت پیت اوسې دا به ځما د همیشني خواشینۍ او بدمرغی لپاره سبب وي:

جنگ تو صلح، صلح تو جنگ است
من به قربانت اینچه نیرنگ است؟
میروم تا تو نشنوی نامم
اگر نام من، ترا ننگ است!

خیر غوښتونکی، حساس او نیک زړی پادشاه د واقف لاهوری دغه دوه بیته په سوی زړه اوښکي بهدونکی حالت او په نیولی اواز سره وویل او بیائې وویل : فی امان الله!...

داوه ددوهم مشروطیت د پای غم لړلي داستان، چې د افغانستان رنځیدلی ملت دغه راز مرغه هنګامې ډیري لیدلي دي، رجال او خیر غوښتونکي پادشاهان له منځه تللي او په کلونو دا خلک په

Library

خاورو او وینو کې لیت پیت شویدي.... د ترقي او پرمختیا څخه پاتې شویدي. او په ټولنیز بهیر کې ئې نه جبرانونکي تاوانونه زغملي دي... لیدلي دي. او هغه بد مرغۍ چې لیدلي ئې دي...
لاکن ددي ټولو کورنیو او بهرنیو وراښوونکو جریانونو سره سره خپل ملي هویت او استقلال ئې ساتلي دي، او دملي ژوند د ادامې لپاره ئې هلي ځلي کړیدي. هو!

تپش میکند زنده تر زندگی را
تپش میدهد بال و پر زندگی را

۷

## نتیجه یا (پایله)

اوس نو ددي داستان د لوستلو څخه وروسته چې د مشروطه غوښتني حرکت څنګه منځ ته راغي؟ او په کوم وخت او چیرته وروزل شو؟ او دهغي اغیزناک عوامل کوم وو؟ نو د ویونکي یا لوستونکي په ذهن کې به دا پوښتنه پیدا شي، چې ددي حرکت هویت او اصلیت څه وو؟ ایا هغه د ۱۸_۱۹ پیړي د افغانستان د سدوزایي او بارکزایي شهزادګانو د جګړو پشان د واک د پلاس راوړلو لپاره یو حرکت نشو ګڼلای؟
د دې غورځنګ منځ ته راوړونکی، چې د ښکېلاک لاندې کارګران او بزګران نه و، نو څرنګه چې یې پدغه نیمه انقلابي حرکت لاس پورې کړ؟ چې په پایله کې یې یو پورتم استبدادي شاهي رژیم



رانسکور او د هغه په ځای یو بل مطلقه سلطنت له روڼ اندو څخه په پښو ودراوه؟
د دې پوښتنو ځواب د افغانستان د ټولنیزې وضعې د مطالعې پر بنسټ داسې توضیح کېږي: د افغانستان د مشروطه غوښتونکو په مبارزه کې لږو روڼ اندو چې د پورته یا منځنۍ طبقو څخه و لاس درلوده، او دغه هلې ځلې یوه نیمه انقلابي مبارزه وه چې زموږ د عامو خلکو د ځورېدلو طبقو د روح څخه یې سرچینه اخیستله، تر دې چې د دې ډلې مخکښان د ځورېدلو بزګرانو او زیار ایستونکو خلکو په ځای د منځنۍ طبقې بروکراتان، بورژواي رادیکاران حتی تر دې چې شهزاده ګان او درباري متنعم کارمندان هم پکې وو او همدلته ده چې د تاریخ د یوه څېړونکي د خبرې څخه یادونه باید وکړو چې ویلي یې وو:
" د انقلابي غورځنګونو لپاره دا لازمه نده چې په معنی کې باید حتمي پروستاریالي عناصر موجود وي او یا دې د هغوی مرام په جمهوري غوښتنې او دموکراسۍ باندې ولاړ وي، د افغانستان امیر (مطلب د امان الله خان څخه دی) او د هغه همکارانو د سلطنت د لاس ته راوړلو لپاره خپله مبارزه پرمخ وړې ده، لاکن د دې لپاره چې دغه مبارزه د امپر یالسم د راپرځولو او د هغه د قوي تجزیې لپاره وه، د انقلابي نظره دا هم یو ګټور عیني پیکار دی..."
(مسایل لیننزم ۹۰ د مسکو چاپ ۱۹۴۹م)
د افغان مشروطه غوښتونکو غورځنګ چې د امپر یالسم په ماتې او د ټوټې ټوټې شوی، ربړګالونکي او زیار ایستونکي ملت د ازادۍ سبب شو، باید د اسیا د بېدارۍ مهمه برخه او د هندوستان او

Library

پاکستان د ازادۍ لپاره سریزه وشمېرل شي، ځکه د هندوستان د
نظر د خاوندانو د یوه مفکر په وینا چې په هغه وخت کې داسې ویل:

اسیا یک پیکر اب و گل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
اقبال

که چېرې پدې جغرافیایي مرکز او د زړې اسیا په زړه کې حرکت نه وای شاید د ختیځ په هېوادونو د ازادۍ کاروان په دومره چټکۍ سره منزل مقصود ته نه وای رسېدلی.

پدې ځای کې دا ټکي باید هېر نکړو، چې د مستمد افغانستان د خلکو د ملي هویت ټینګتیا او ملي روحیه د هر راز تکاملي او انقلابي بدلون د منځ ته راتللو لپاره نامتوازنه وه او د دې سیمې جغرافیایي موقعیت هم د هر ډول غورځنګ او مترقي حرکت د قبلولو متضمن دی تر هغه ځایه چې د مشروطیت مترقي او نیمه انقلابي غورځنګ هم د داسې کسانو پواسطه رامنځ ته شو چې په هغې کې د شاهزاده څخه تر روڼ اندې بورژوازۍ طبقې پورې لاس درلودی دی.

تر هغه ځایه چې د افغانستان د تاریخ د مطالعې څخه تر اوسه کېږي: که چېرې د یوه مترقي یا ارتجاعي حرکت په منځ ته راوړلو کې طبقاتي ګټې موجودې وي، هغه حرکت هم تر هغه وخته پورې دوام کوي ترڅو چې د هماغې طبقې د ګټو لپاره متضمین وي.

که چېرې موږ د اماني رژیم ړنګېدل وروسته له څو کاله وپلټو، د هغو عواملو ترڅنګ چې پدې کتاب کې ترې یادونه وشوه، یو اساسي علت به هم ووینو، چې د هغې په رامنځ ته کېدو کې کړېدلې او محرومې طبقې مستقیماً ونډه نه درلوده، د هغې پایلې سره لدې



چې ګټورې وې خو د خلکو د دې ډلې لپاره جالبې، د درک او لمس وړ نه وې.

هغو کسانو چې د روڼ اندي عالي بورژوازي او منځنۍ طبقې څخه د دې حرکت په منځ ته راوړلو کې د خپلو طبقاتي ګټو پر بنسټ ونډه درلوده، او په افغاني ټولنه کې خالص لږکي و هغه وخت چې قدرت ته ورسېدلې او د خپلو هلو ځلو او عمل په پایله کې د هېواد لوړې چوکۍ تر لاسه کړې او هغه یې خپل وروستی مقصد او هدف وباله او نور د هېواد او خلکو په فکر کې نشول، او د چوکۍ او مقام په کوچنۍ کړنه کې د خلکو څخه لیرې شول او د عمل میدان یې هغه چاته پرېښوده چې د خپل ځان، قومونو او نورو په دوی پورې تړلو کسانو لپاره چې د لوړې او منځنۍ طبقې څخه و د ډېرو مادي ګټو په راټولولو بوخت و، چې په پایله یا نتیجه کې یې عامه محرومیت رامنځ ته کېده، په حقیقت کې د افغاني ټولنې طبقاتي جوړښت د اروپایي هېوادونو طبقاتي تشکیلات د تاریخي سوابقو پشان و او دلته تر اوسه د اقتصادي او ټولنیز پلوه د طبقاتو د تجزیې او جلا والي لا املونه منځ ته راغلي نه وو، نو پدې خاطر زیار ایستونکې طبقه د ځانګړو روحي او اقتصادي فعالیتو سره چې هغه د نورو طبقاتو څخه جلا کړي رامنځ ته شوې نه وو، هغوی د ټول محرومیت سره د داسې یو حالت احساس نه کاوه او جبري او قوي فیودالیزم جوړ شوی ه و.

د دې لپاره چې په اماني رژیم کې نه استسمار شوو طبقو او نه استحصال شوې ډلې د ځانګړې طبقاتي شعور درلودونکې وې، نو پدې خاطر هېڅ یوې ډلې خپلې ګټې په هغه رژیم پورې تړلې نه ګڼلې او د بې تفاوتی او بې تعلقی په حالت کې و او یوزاې د

Library

ماموړینو نیمه روڼ اندي طبقې که پدغه رژیم پورې څه تعلق درلوده هغه هم د ډېر لږ اقلیت څخه زیات نه و یعنې په دغه حساب د ټولنې د لسو یا شلو زرو څخه زیات نه و.

د دې لپاره چې حکومتونه په بل پسې تالانګر او د چیښونکو او ګټه تر لاسه کوونکو کارمندانو څخه مرکب و نو پدې خاطر همېشه که د یو پېژندل شوي او ازمویل شوي تالانګر په مقابل کې که د همغه طبقې څخه نوې مدعې رامنځ ته شوې خلکو د خپل وسې خلاصون لپاره د زاړه تالانګر د ستم له لاسه هغه ته هرکلی ویلی دی، لاکن د کار په پیل کولو او د لومړي امتحان په ورکولو سره ژرنګه چې د ټولنې استسمار او فکر په سیستم کې بدلون رامنځ ته شوی نه و او نوو کارمندانو د پخوانیو په پرتله څو ځله بد او خراب اعمال ترسره کړې و نو خلکو به ویل:

تو از چنګال ګرګم در ربودی!

چو دیدم عاقبت ګرګم تو بودی!

نو پدې خاطر د حکمرانانو په مقابل د همېش لپاره یو عمومي نفرت موجود و که چېرې د هېواد د کوم کورنۍ یا بهرنۍ لاس غوښتلی وي چې دغه ناراضه او استثمار شوي خلک د حاکمې دستګاه په مقابل کې استعمال کړي پدې کار کې هېڅ راز ستونزې نه وې، ځکه هر حکومت د خپل عمل او ازموینې په ورکولو سره اکثریت خلک له ځانه خفه کړي او جلا کړي وو او که فرضاً پدغه دستګاه کې یو څو تنه نېکو کاره او مخلص خلک هم وو، هغوی هم د دغه اکثریک استفاده کارمندانو په وجه په خلکو کې منفور و.

د افغانستان د خلکو ټولنیز خصایص او د صفاتو تجزیه او افضایي ټولنیز ژوند د دې ټولنې د هویت پر بنسټ ډېرو باریکو پلټنو ته



اړتیا لري، د تاریخ، جغرافیا، اقتصاد، نژاد، ژبې، عقیدو او د چکسوالو، ښاري او د اواره کوچیانو د قبایلو د ټولنیزو مسعرقفونو او د روحي مسلکونو پاتې شونې لکه: مذهبونه، صوفیانه افکار او طریقې دي، چې د نوي صنعتي مدنیت د اغېزو سره یو ځای باید پکې څېړنې او پلټنې وشي.

او دا په خپله ډېر اوږده او پراخه مبحثونه دي چې د افغانستان په څو زره کلن تاریخ کې چې د فرهنګونو او مدنیتونو د تلو راتلو لار وه د علمي او عیني څېړنو لاندې نیول کېږي، او هغه وخت کولی شو چې د دقیقو مطالعاتو په رڼا کې د دې جامع الخصایصو درلودونکې خلکو د هغه وړ کړن لاره (خط مش) وټاکو، چې دا علمي کار د تاریخي، اقتصادي، ټولنیز، او د نوي او زاړه فکري او فرهنګي ابعادو درلودونکی دی، او د مشکلترینو او دقیق ترینو ټولنیزو مسایلو څخه دی ځکه چې د طبیعي علومو پشان د ریاضي د مثبتو فارمونو لاندې نه راځي او د هغې کلیات د مکان او زماني د نسبي ابعادو سره بدلون مومي او د هغې احکام سل په سلو کې په ټولو محیطونو کې یو شان او هم غږیز او د تکامل موقفونه پدې ټولنه کې نامتوزانه وي و سر تر سره د یوې خالصې طبقاتي ټولنې د ژوند په دساتیرو برابر ندی او له همدې کبله دی چې د دې هېواد زیاتره پخواني حکومتونه د اکثریت خلکو په وړاندې نامطلوبه وه، ځکه چې د دغه نامتوازنه ټولنې د افرادو د آنې ګټو سره یې مطابقت نه درلوده.

نامتوازنه ورته پدې خاطر وایو چې یو کوچنی اقلیت په یوه ټاکلې زمانه کې د فیوډال تر عنوان راغلی، لاکن د قوي او متشکل فیودالیزم د خصلتونو درلودنکی نه و، ښاري بورژوازي هم د ټولو

ټولنيزو مميزاتو سره يو ځاى رامنځ ته شوې نه وه او کليوالو بزګرانو هم د متشکله کارګر د طبقې ټولنيز خصلت نه درلوده، او اواره کوچيان د ټولو طبقاتي شرايطو څخه محروم و.

کـه چېرې د دغـه عـدم تـوازن او د احوالـو د اخـتلاق او د طبقـاتي شرايطو د ګړوالي په حالت کې که چېرې فعال خير خواه او مخلص حکومتونـه هم منځ تـه راغلي، د دې لپـاره چې د دغـو نامتوازنـه طبقاتو د يوې ډلې سره يې هم تطابق نه دى کړى د اکثريت خلکو د ملاتړ څخه محروم پاتې او تجريد شويدي.


د دې لپـاره چې د افغانسـتان د جغرافيـا د پېښېـدو ځـاى هـم ډېـر حساس اومهم و او داسې غرني دي چې د دوه مدنيتونو او د ايران او هند د دوه ډوله فکرونو او د دريو لويو ځمکو لکه: هند، ايران او ماورالنهر تر منځ پروت دى، نو پدې خاطر همېشـه کله چې جهـان ګرځېدونکو او فاتحانو د ده سره سروکار پېدا شوى دى، د طبقـاتو د عينـي او قـانوني عـدم تـوازن د ټـولنيز خصـلت څخـه يـې ګټـه اخستلې، او د بې اتفاقۍ او خانه جنګۍ په رامنځ ته کولو سره يې د دې خلکـو ملـي قـوت کمزورى کړې او زمـوږ ټـولنيز خصـلتونه يـې زمونږ په ضرر کارولي دي، چې د همدغه امير يا لسن بهرنۍ ايادى څخه په عين شکايت کې بايد د ځانه سره ووايو چې:

اتش بدو دست خويش، در خرمن خويش
چو خود زده ام، چه نالم از دشمن خويش

(پاى، کابل جمال مينه، د ۱۳۶۱ کال د حوت ۲۶)
(د ژباړې پاى، کابل خير خانه مينه، د ۱۳۸۰ کال د سنبلې ۶)



Library



انجمن سراج الاخبار افغانستان.
د شاهي دربار لاربښووني، چې د شاه اقاسي عبد القدوس خان اعتماد الدوله په قلم کښل شوې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**